

# له بديلې پرمختيا سره د سوداګريزې کرنې تړاو:

## د افغانستان د قانوني او غیرقانوني توکو لپاره د بازارموندنې ازمويل شوې نسخې

ادم پين، محمد حسن وفايي، خالد بهزاد، ګلثوم ميرزاده او مجيب عزيزي

آګست ۲۰۲۲

drugs & (dis)order

SOAS University of London

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
AREU
څېړنه د بنه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

څېړنیزه مقاله

# له بدیلې پرمختیا سره د سوداګریزې کرنې تړاو:

## د افغانستان د قانوني او غیرقانوني توکو لپاره د بازارموندنې ازمویل شوې نسخې

ادم پین، محمد حسن وفایي، خالد بهزاد، ګلثوم میرزاده او مجیب عزیزي

آګست ۲۰۲۲

لیکوالان: ادم پین، محمد حسن وفايي، خالد بهزاد ، ګلثوم میرزاده او مجیب عزيزي

ژباړه: احسان الله ځیرک

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۸۲-۰

د کتاب د مخ آنځور: عصمت الله حبیبیان

د خپروني کوډ ۲۲۰۳ پ

په دې څېړنه کې وړاندې شوي نظريات د لیکوال دی او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری یا هم همکارو سازمانونو نظريات نه منعکسوي

©۱۴۰۱ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، دغه خپرونه کیدای شي یواځې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه يې خبره شی. که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ) ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د السته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره الره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

**تمویلونکی:**

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The Foundation to Promote Open Society (FPOS), Chr. Michelsen Institute (CMI), Safe World (SW), Institute of Development Studies (IDS), Overseas Development Studies (ODI) and SOAS University.

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Global Challenges Research Fund (GCRF), The School of Oriental and African Studies (SOAS), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN), Sustainable Development Solutions Network (SDSN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

## در مورد مواد مخدر و نظم و (بی نظمی):

هغه څېړنه چې د دغه راپور لامل شوه د مخدره توکو او نامنظم (منظم) په پروژی تر سره شوه: د جګړې په پایله کې د پایښت لرونکي سوله ایز اقتصاد رامینځته کول. مخدره توکي او نامنظم (منظم) یوه څلورکلنه پروژه د (۲۰۱۷-۲۰۲۱) پوري وه چې افغانستان، کلمبیا او میانمار کې یې د مخدره توکو غیر قانونې اقتصاد په سوله ییز اقتصاد بدلیدو باندی نوی شواهد او مدارك راوسپړل. دا پروژّ د انګلستان څېړنیز او نوښتګر ((UKRI no. ES/P۰۱۱۵۴۳/۱, ۲۰۱۷-۲۰۲۱ د نړیوالو ننګونو څېړنیز مرکز یا (GCRF). په مرسته د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری په ملتیا د مخدره توکو او نامنظم (منظم) کانسرسیوم کې د لندن د SOAS پوهنتون په رهبری دغه څېړنه تر سره شوه.

## د لیکوالو په اړه:

آدم پن د ۲۰۰۱ میلادي کال راپدیخوا له AREU سره د کوکنارو او د افغانستان کلیوال اقتصاد او نورو ډیرو موضوعاتو په برخه کې کار کوي. نوموړی د ۲۰۰۲ راهیسې د سویډن د زراعتي علومو په اپسالا پوهنتون کې د ښاري او کلیو پراختیا په څانګه کې پروفیسور هم پاتې شوی. آدم پن له کجل هانسن سره په وروستي درسي کتاب (کلیواله پراختیا ) کې مرستیال لیکوال هم دی. (روتلیج ۲۰۱۹ ).

محمد حسن وفایي له AREU سره د ۲۰۱۸ څخه تر ۲۰۲۱ پورې د څیړنې مدیر په حیث دنده تر سره کړې ده. نوموړی په حکومت ولۍ، جنسیت، ټولنیز خوندیتوب، ډیموکراسۍ او ټولنیزو پراختیايي موضوعاتو کې له ۱۵ کالو څخه ډیره کاری تجربه لري. وفايي د کاتب پوهنتون څخه د لیسانس او ماستري سند لري او همدارنګه د ګوهرشاد د لوړو زده کړو انستیټوټ کې یې د استاد په حیث دنده تر سره کړې ده. نوموړي همداراز په کابل کې د اروپا ډیپلوماټیک ماموریت سره یې د سیاسي سلاکار په حیث دنده ترسره کړي ده، او په افغانستان کې د ډیرو نړیوالو اینجوګانو سره یې کار کړی دی.

ګلثوم میرزاده په انګلیستان کې د شیوننګ سکالر په توګه په ساسیکس پوهنتون کې د معلوماتي ساینس ماستري سند تر لاسه کوي. تر دي مخه، آغلې په AREU کې د لوړپوړي څیړنیزې مرستیالۍ په توګه، GIS او معلوماتو تجزیې کې کار کړی دی، چیرته چې هغې په ډیرو څیړنیزو مطالعاتو کې برخه اخیستې، چې ځینې یې د افغانستان د جګړې او مخدره توکو اقتصاد په بدیل پایښت لرونکي او ځان بسیا اقتصاد بدلولو باندې تمرکز درلود.

خالد بهزاد له AREU سره د ۲۰۱۳ څخه کار کوي. بهزاد په ډیرو پروژو کې کار کړي او ځو څیړنیزو مقالو کې یې مرسته کړې. نوموړي په کابل کې د ابن سینا پوهنتون څخه نړیوالو اړیکو کې د ماسټرۍ سند لري. نوموړی یو افغان مدني فعال هم دي او په ډیری ټولنیزو کړنو کې فعالیت لري. بهزاد د افغانستان د طبیعی زیرمو او چاپیریال د څارنې شبکې د بورډ غړی هم دی.

مجیب احمد عزیزي له AREU سره د ۲۰۱۱ څخه د څیړنیز آمر په حیث کار کوي. نوموړي په مختلفو پروژو کې لکه روغتیا، پراختیا، امنیت او ګډوالې او تعلیم برخو کې کار کړي دی. نومړی په کابل کې د ابن سینا پوهنتون څخه د نړیوالو اړیکو په برخه کې د ماسترۍ سند لري. عزیزي د مدنې ټولنۍ چاپیریالي فعال غړیتوب، د افغانستان د کانونو څار او د CoST د زیربناوو د روڼتیا نوښت غړیتوب هم لري.

هغه څیړنه چې د دې راپور لامل شوی د مخدره توکو او (غیر)منظم له لارې تر سره شوي: د جګړې په پایله کې د پایښت لرونکي سوله ایز اقتصاد رامینځته کول. مخدره توکې او (غیر)منظم یوه څلورکلنه پروژه د (۲۰۱۷-۲۰۲۱) پوري وه چې نوي شواهد یې راوسپړل چې څنګه د غیرقانونې مخدره توکو اقتصاد په سوله ییز اقتصاد په افغانستان، کلمبیا او میانمار کې بدل کړي. دا د انګلستان د څیړنې او نوښت (UKRI ډالۍ شمیره. ۱/ES/P۰۱۱۵۴۳, ۲۰۱۷-۲۰۲۱) لخوا تمویل شوی، د نړیوال ننګونو څیړنې فنډ (GCRF) څخه. AREU د نشه یي توکو او (غیر) منظم په کنسرسیوم کې شریک و، چې د لندن د SOAS پوهنتون لخوا رهبري کیده.

# مننلیک

په لومړي قدم کې د ولسوالیو او ښارونو په کچه له ټولو ګډونوالو د زړه له تله مننه کوو، چې موږ ته یې خپل وخت راکړ څو د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا یا کارډ – ایف (CARD-F) پروګرام په اړه خپلې تجربې او انګېرنې له موږ سره شریکې کړي.

د اصلي لیکوال په توګه، چې د ساحوي کار هېڅ راز ننګونه مې نه ده لیدلې، زه له خپلو ټولو همکارو لیکوالانو د زړه له تله مننه او قدرداني کوم، چې په ډېر مهارت یې په ساحه کې مرکې ترسره کړې او د ساحوي شواهدو او مرکو په تفسیر کې یې برخه اخېستې ده. دوی ټولو زما د پرله‌پسې پوښتنو د ځوابولو بوج زغملی دی.

د دې ترڅنګ، د دې څېړنې په ټوله موده کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د رئیسې اغلې اورځلا نعمت له ملاتړ هم مننندوی یو. پردې سربېره، په السایز کې له ریچارډ بریټهان څخه د مناسبو نقشو پر سر د بحثونو او د ده له ټیم د یادو نقشو د چمتو کولو له کبله مننه کوو. زه له جیني ګلازبروک مننندوی یم، چې له دې راپور سره د مطابقت په موخه یې د اړوند نقشو اوډون(اپډېټ) ترسره کړ.

بالاخره، د دې راپور پر لومړنۍ مسوده د جوناتان ګوډهېنډ او کارن براک له نظرونو او وړاندیزونو د زړه له تله مننندوی یو.

# د پیل خبرې

د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداره خوښه ده چې خپلو ګرانو مینوالو ته د وخت سره سم یوه موضوعي څېړنه وړاندي کوي: کرهنیز کاروبار د بدیلې پراختیا سره مل دی: د افغانستان د قانوني او غیر قانوني توکو د بازارونو لپاره درسونه. دا مقاله د نړۍ د ننګونو د څېړنې فنډ (GCRF) لخوا تمویل شوي کنسرسیوم کې د AREU د ملګرتیا پراساس یو له وروستیو خپرونو څخه ده چې عنوان یې دی "د مخدره توکو او (غیر) منظم: د جګړې وروسته د پایښت لرونکي سوله ایز اقتصاد رامینځته کول".

دا مقاله د افغانستان د کرنې او کلیو د پراختیا د هراړخیز اسانتیا (CARD-F) په اړه د خپرونو موضوعي څېړنې وړاندي کوي. د دې څېړنې پوښتنې دې چې څوک او څومره لوبغاړي په دې پروژه کې دخیل دي او د دوی فعالیت ته کتنه کیږي او د پروژې اغیز او پایله یې قضاوت کیږي. دا په پام کې نیول کیږي چې د دې پروژې د دلیل او په افغانستان کې د مخدره توکو په اقتصاد او د پراختیا پروسو باندې د هغې اغیزې په اړه څه څرګندوي.

دا څېړنه د کارډ-ایف پروژې د کلیدي اسنادو، اړونده پالیسیو او پخوانیو څېړنې په اساس ولاړه ده. د یوې توکمیزې تګلارې په تعقیب، دا څېړنه د CARD-F د شریکانو څخه د مرکو او کتنو د لړۍ پر بنسټ ولاړه ده، په ګډون د کابل د پروګرام کارمندان، پلي کونکي شریکان، د ولایتي دولتي چارواکو، خصوصي پانګوالو، او په ولسوالیو کې او د کلي په سطحه د CARD-F مستقیم او غیر مستقیم ګټه اخیستونکي. سیمه ییزه ارزونې په دوه ولایتونو کې چیرته چې دا پروژه پلي کیده: بدخشان (خاش ولسوالي) او ننګرهار ولایت (بهسود او کامه ولسوالۍ).

د کارډ-ایف لمړۍ مرحله د انګلستان د نړیوالې پراختیایې څانګې یا (DFID) په مالي ۲۲.۸ میلونه ایرو مرسته له (۲۰۰۹-۲۰۱۴) پورې تر سره شوه.

د پروژې دوهم پړاو له (۲۰۱۵-۲۰۱۸) پورې چې تر هغه وخته پورې پروژه د مخدره توکو سره د مبارزې (CN) له واضح بنسټ څخه لیرې شوې وه، د انګلستان لخوا (۳۰ میلیون پونډ) او د ډنمارک حکومت (۲۱ میلیون پونډ) لخوا په ګډه تمویل شوی.

په افغانستان کې د وروستیو بدلونونو او د هیواد په کچه د بشري ناورین سره سره، دا ډول مطالعات د پرمختیایی مرستو د پروګرامونو په شالید، منشاء، تطبیق او پایلو باندې تمرکز کوي، د اوسنۍ ننګونې په اړه زموږ د ستونزو او ننګونو د ښه پوهیدو او د شواهد و پر بنسټ ځوابونو چمتو کولو لپاره خورا اړین دي.

په همدې لحاظ، زه ډاډمنه یم چې دغه څېړنه به د پالیسۍ جوړونکو سره او هغه څوک چې غواړي د داسې پروژو په اړه ژوره مطالعه ولري او اغیزې یې په افغانستان کې وګوري ورسره به مرسته وکړي. زه غواړم چې د ټولو هغو کسانو مننه وکړم چې د دې هراړخیزه مقالې په بڼاینه کې یې مرسته کړې.

په درنښت

ډاکټر اورځلا نعمت، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې رئیسه.

# لیکلړ


٥ پیشگفتار

١ لنډیز

٤ اصطلاحات

٥ سریزه

٨ په افغانستان کې له نشه یي توکو سره د مبارزې پالیسي

١٢ په افغانستان کې د بدیلې پرمختیا پروژې

١٢ د کارډ - ایف پروگرام شالید: د نړیوال بانک له لوري کرنیز سکتور ته د کتنې راپور

١٧ د څېړنې میتودونه

١٧ ساحوي کار

١٧ سرچینې

١٨ اخلاقي موضوعات

١٨ مهمې ننگونې او محدودیتونه

١٩ د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروژه (CARD-F)

١٩ د کارډ - ایف پروژې لنډه تشریح

٠٢ اداري جوړښتونه او د عملي کېدو لارې چارې

٢٢ د پروژې موخې او مقاصد: په لومړي پړاو کې له بدیلې پرمختیا د سوداگریزې کرنې پر لور بدلون

٢٤ د پروژې ډیزان او د بدلون نظریه

٢٥ د کارډ – ایف پروگرام د بدلون په نظریه کې ښکاره او ضمني فرضیې

٢٧ څارنه او ارزونه

٢٩ ساحوي موندنې

٢٩ بدخشان

٣١ د کارډ - ایف پروگرام او د خاش ولسوالۍ د کچالو اقتصاد

٣٦ ننگرهار

٣٨ د کارډ - ایف پروگرام د شنو خونو پرمختیایي پروژه

٤٢ د کارډ - ایف پروگرام د چرگانو روزنې پروژه

٤٩ مباحثه

٥٣ درسونه او وړاندیزونه

٥٦ اخذلیکونه

٥٨ لومړی مل لیک. د څېړنې گډونوال

# لنډیز

دا راپور د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام یا کارډ - ایف(CARD-F) ماهیت راسپړي. د دې سپړنې اصلي پوښتنه دا ده، چې د یادې پروژې بېلا بېلو ذیدخل اړخونو خپلو فعالیتونو او د هغوی اغېزو ته په کومه سترګه کتلي او نتایج یې څنګه ارزولي. ورپسې، د پروژې منطق ته ځلغند نظر اچوو او په افغانستان کې پر نشه یي توکو او پرمختیایي پروسو د دې پروژې اغېزې هم څېړو.

دا راپور د کارډ - ایف مهمو پروژوي اسنادو، له نشه یي توکو سره د مبارزې پالیسیو او په دې برخه کې د مخکېنیو څېړنو له مخې لیکل شوی دی. له همدې اسنادو په ګټې اخېستنې د کارډ - ایف بېلا بېلو اړخونو د هغوی له ډلې په پلازمېنه کابل کې د پروګرام کارکوونکو، عملي کوونکو، ولایتي چارواکو، خصوصي پانګه‌والو او د ولسوالیو دغه راز کلیو په کچه د پروژې له ګټو د مستقیمو او غیرمستقیمو برخه‌والو لپاره پوښتنې طرحه شوي دي. ساحوي ارزونې د بدخشان په خاش او د ننګرهار په بهسودو او کامې ولسوالیو کې ترسره شوې، ځکه په یادو ولسوالیو کې دا پروژه عملي شوې ده.

د کارډ – ایف پروګرام لومړی پړاو (۲۰۰۹ تر ۲۰۱۴) د برېتانیا شاهي حکومت نړیوالې پرمختیایي ادارې له لوري د ۲۲.۸ میلیونو یورو په ارزښت تمویل شوی. دویم پړاو بیا د(۲۰۱۵ او ۲۰۱۸ کلونو ترمنځ) د برېتانیا شاهي حکومت له لوري د (۳۰ میلیونو یورو) او د ډنمارک حکومت له لوري د (۲۱ میلیونو یورو) په ارزښت په ګډه تمویل شو.

په لومړي پړاو کې د پروژې موخه د کوکنارو د کرکیلې لپاره د اقتصادي بدیلونو رامنځ ته کول و. دا پړاو یوازې د هغو سیمو لپاره طرحه شوی و، چې د بدیل محصولاتو زیات فرصتونه یې لرل. په دې پړاو کې درې اصلي محورونه (۱) د سوداګرۍ بنې ته د افغانستان کرنیز سکتور اړولو په موخه د ملي سیستمونو پیاوړتیا، (۲) د ځایي عوایدو او دندو د زیاتوالي لپاره د ځانګړو محصولاتو په برخه کې د اقتصادي پرمختیا پروژو عملي کول، او (۳) د ارزښتیز ځنځیر له تګلارې په ګټې اخېستنې د کرنې د تولید، پروسس او بازارموندنې ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا له لارې د اقتصادي پرمختیا پروژو ملاتړ کول وو.

په دویم پړاو کې د پروژې موخه له ځانګړي اقتصادي موډل په ګټې اخېستنې د لوړ ارزښت لرونکو کرنیزو محصولاتو د تولید لوړول، د تولیدوونکو او پرؤسس کوونکو لپاره د قانوني عوایدو زیاتول او له کرنیزې ودې سره مرسته کول وو. په دې پړاو کې یاده پروژه تر ۱۴ ولایتونو وغځېده. له دې ډلې زیاترو ولایتونو د کوکنارو د کښت او تولید هېڅ مخینه نه لرله، چې د سوداګریزې کرنې خوا ته د دې پروژې بدلون په ګوته کوي.

دا پروژه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت تر چتر لاندې د یو خپلواک پروژوي واحد پر مټ پلې شوه او کارکوونکي یې ماهر تخنیکي افغانان و، چې له حکومتي چینلونو د باندې ښه امتیازات ورکول کېدل. یاد واحد مستقیماً له اجراء کوونکو سره قراردادونه منعقدول. همدا وجه وه چې په ولایتي او ولسوالۍ کچه حکومتي جوړښتونه یې له پامه غورځولي وو. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت تر چتر لاندې د دې پروژې موجودیت او د وزارت لوړپوړو چارواکو له لوري بیا په دې پروژه د کنټرول او نفوذ نه لرل هغه مهم ټکی و، چې د یاد اداري واحد او دغو لوړپوړو چارواکو ترمنځ یې درز رامنځ ته کړی و. د یادونې ده، چې دا پروژه د همکارو وزارتونو له لوري د سیالۍ په اډانه کې لا پسې غښتلې شوې.

د دې پروژې اصلي فرضیه د افغانستان په اقتصادي پرمختیا کې د کرنیزې ودې له رول سره تړلې وه. دې پروژې په خپله اډانه کې د ارزښتیز ځنځیر له مشهورې تګلارې په دې انګېرنه ګټه اخېستې چې ټکنالوجیک بدلون، قیمت او رقابت د کرنیزې ودې په خړوبولو کې ګټور تمامېدلای شي. په دې پروژه کې د افغانستان کرنیزو توکو د بازارونو رقابتي ماهیت او په دې بازارونو کې د کروندګرو د برخې اخېستنې جوګه والي په اړه هم فرضیې مطرح شوې وې.

یادې فرضیې په دې راپور کې د ساحوي موندنو له مخې راسپړل شوې. په خاش ولسوالۍ کې چې د کوکنارو د کښت اوږده مخینه هم لري او د کارډ – ایف پروګرام د کچالو پروژې په پای ته رسېدو یې کرنه بیا پیل شوه، د پروژې په اډانه کې د کروندګرو د لاسنیوي پر وخت د کچالو کرکیله ښه وه، مجموعي تولید یې زیات و، د کروندګرو عوایدو ښه و او کارګرانو ته په کرونده کې د کار کولو فرصتونه هم رامنځ ته شوي و. مګر همدا چې پروژه پای ته ورسېده او نور د کروندګرو لپاره د لاسنیوي لارې چارې نه وې، د تولید شدت راکم شو او د تریاکو غوړو قیمتونو د کوکنارو کرکیلې بیا راګرځېدو ته لار هواره کړه.

پـه ننګرهـار کـې هـم د موسـم خـلاف د کچالـو او بادرنګـو د توليـد لپـاره د شـنو خونـو جوړولـو اقتصـادي پرمختيـا پـروژه هـم لـه ورتـه برخليـک سـره مـخ شـوې او د پـروژې پـه پـای کـې زياتـرو کروندګـرو خپلـې شـنې خونـې پـه پلاژمېنـه کابـل کـې پـر پېرودونکـو پلورلـې دي. برعکـس، د اقتصـادي پرمختيـا دويمـه پـروژه چـې تمرکـز يـې د چرګانـو پـر توليـد و ، د توليـد لـه مخـې ډېـره بريالـۍ ليـدل کېـږي، کـه څـه هـم بـازار د چرګانـو دانـې څـو لويـو توليدوونکـو او برابروونکـو لـه لـوري انحصـار شـوی.

د شـواهدو لـه مخـې، د پـروژې لـه هڅـو سـره بيـا هـم پـه عملـي ډګـر کـې د ولسـواليو او کليـو پـه کچـه زياتـره زورواکـي خلـک توانېدلـي چـې پـروژه پـه خپلـه ګټـه راوڅرخـوي. د پـروژې دربيـو توکـو (کچالـو، بادرنګـو او چرګانـو) د بازارونـو د تنظيـم څرنګوالـی هـم د پـروژې مهمـې فرضيـې تـر پوښـتنې لانـدې راولـي. د ارزښـتيز ځنځيـر د بدلـون پـه نظريـه کـې يـوه عمـده انګېرنـه دا وه، چـې "د کارډ - ايـف برخـه وال کـولای شـي وسـايلو تـه لاسرسـی ولـري. [1]"د يادونـې ده، چـې د کارډ – ايـف تـر چتـر لانـدې د هـرې پـروژې پـه منځپانګـه کـې وسـايلو تـه د لاسرسـي پـه موخـه د رسـمي پورونـو يـا امتيازاتـو ورکـول نـه و شـامل. همـدا وجـه وه، چـې ټولـو توليدوونکـو کـولای شـول يـوازې لـه هغـو سـوداګرو نارسـمي پـور ترلاسـه کـړي، پـر کومـو چـې خپـل محصـولات پلـوري. توليدوونکـو تـه د دا ډوول نارسـمي پـور ورکـړه پـه دې شـرط چـې محصـول بايـد پـر امتيـاز يـا پـور ورکوونکـي وپلـوري د تړلـي قـرارداد پـه نـوم يادېـږي. دا ډول قـرارداد عقـد کـول د کوکنـارو د ارزښـتيز ځنځيـر ځانګړنـه هـم ده. د يـو قـرارداد شـرط (د پـور ورکـول) د بـل قـرارداد شـرط هـم ګرځـول کېـږي. هغـه داسـې چـې محصـول لـه وړانـدې د ټـاکل شـوي قيمـت پـه اسـاس پلـورل کېـږي. پـه دې ځـای کـې سـوداګر لـه دواړو اړخونـو ګټـه کـوي او کروندګـر تـاوان کـوي.

پـردې سربېره، معمـولاً "مافيـا" تـه هـم ډېـره ګوتـه نيـول شـوې. مافيـا اصطـلاح د بـازار هغـو زورواکـو سـوداګرو تـه کارول کېـږي، چـې بـازار پـه خپـل لاس او انحصـار کـې لـري. د چرګانـو روزنـې پـروژې پـه اړه راپورونـه دا وو ، چـې مشـخص سـوداګر چـې لـه مهمـو سياسـي مشـرانو سـره اړيکـې لـري، پـر پولـه د ګمرکـي ماليـاتـو لـه تېښـتې يـا هـم لـه غيررسـمي لارو ګټـه اخلـې څـو کوچنـي چرګـوړي او د چرګانـو دانـې ترکيبـات وارد کـړي، چـې د ځايـي بازارونـو د قيمتونـو پـه راټيټولـو يـې اغېـز کـړی.

د زورواکـو لـه لـوري د دوی پـه ګټـه د بـازار قيمتونـو د تنظيـم واقعيـت پـه اړه ګڼ شـمېر راپورونـو تـه پـه کتـو انګېرنـه دا ده، چـې پـه دې بازارونـو کـې د قيمتونـو لـه مخـې رقابـت نـه شـي کېـدلای. ځکـه لـوی سـوداګر د ګڼ شـمېر دلايلـو د هغـوی لـه ډلـې پـر پولـه لـه ګمرکـي تعرفـو د تېښـتې، د فزيکـي بازارونـو کنټـرول، ثابتـې مزايـدې او تړلـو قراردادونـو لـه مخـې پـه دې ډاډه وي، چـې توکـي پـه ارزانـه اخېسـتلای او پـه لـوړ ارزښـت يـې پلورلـی شـي. پـه دې حالـت کـې د دوی رقابـت د قيمتونـو لـه مخـې نـه، بلکـې د زور لـه مخـې کېـږي. پـر قيمتونـو لـه دې ډول کنټـرول پـه اسـتنباط کروندګـر د مثمريـت او قيمتونـو لـه مخـې هېـڅ رقابـت تـه زړه نـه ښـه کـوي، پـه داسـې حـال کـې چـې د مثمريـت او قيمتونـو لـه مخـې رقابـت د کارډ - ايـف مـوډل د اصلـي فرضيـې پـه اډانـه کـې د اقتصـادي ودې اسـاس ګڼـل کېـږي.

لـه بديـل پرمختيايـي ليدلـوري د سـوداګريزې کرنـې پـر لـور کارډ – ايـف پروګـرام د بدلـون عمـده دليـل دا و ، چـې د بديـل پرمختيـا نښـان د پـروژې لپـاره امنيتـي سـتونزې راپورتـه کولـې. پـه ننګرهـار ولايـت کـې د کامـې او بهسـودو ولسـواليو غـوره کـول لـه دې املـه و ، چـې يـادې ولسـوالۍ امـن وې او دا پـروژه پـه اسـانۍ پـه کـې عملـي کېـدای شـوه. خـو دې کار داسـې تضـاد تـه لاره هـواره کـړه، چـې پـه پـروژه کـې اصـلاً پـه دې اړه فکـر هـم نـه و شـوی او نـه دې پـروژې د دا ډول تضـاد رامنـځ تـه کـول غوښـتل، خـو ګويـا چـې دا کار د توکـو پـه بازارونـو کـې د ذاتـي خبـرې پرځـای يـوه باندنـۍ خبـره وه. د قانونـي او غيرقانونـي دواړو توکـو پـه ګـډون د بازارونـو د دوران پـه اړه د پـروژې پـه مسـتندسازۍ کـې د تضـاد هـر راز تحليـل بشـپړ نشـتوالی د پـام وړ دی.

د کارډ – ايـف پروګـرام د پـراخ شـمېر اغېـزو ترڅنـګ لـه اساسـي ننګونـې سـترګې پټـې کـړې دي. ځکـه د کارډ - ايـف پروګـرام پـه دواړو موډلونـو کـې دې واقعيـت تـه پـام نـه دی شـوی، چـې جګـړې د نشـه يـي توکـو د توليـد جغرافيـا بدلـه کـړې او يـاد توليـد يـې حاشـيوي ولسـواليو تـه اړولـی. د کرنيـزې پرمختيـا دا ډول مـوډل دا وروسـته پاتـې سـيمې لا ډېـرې حاشـيې تـه کـوي. پـه دې کار سـره دا مـوډل د دغـو لېـرې پرتـو سـيمو د ناامنـۍ لـه پېچلتيـا سـره مرسـته کـوي او هغـه ګواښـونه زياتـوي چـې دا سـيمې يـې د هـر راز دولـت جوړونـې پروسـې پـه وړانـدې راپورتـه کـوي. دا کار پـه خپـل ذات کـې لـه ځـان سـره د بلواګرۍ او نشـه يـي توکـو ضـد غبرګونونـه لـري، چـې پورتـه يـاد شـوی حاشـيه تـوب پيـاوړی کـوي او اوږدمهالـه پرمختيايـي پروګرامونـه لا ډېـر سـتونزمن کـوي.

پـردې سربېره، د اوږدمهالـې جګـړې پـه چاپېريـال کـې چېرتـه چـې دولـت ډېـر محـدود مشـروعيت لـري، د بديـل پرمختيـا يـا هـم کرنيـزې پرمختيـا پـروژو د هڅـو د امـکان پـه اړه پـه ټولـه کـې ډېـرې پوښـتنې دي. دا ډول لـه بهـر تمويلېدونکـي هڅـې نـه شـي کـولای خپـل ځـان لـه سياسـي تحرکاتـو تـر هغـې اندازې مبـراء کـړي، لکـه څـه ډول چـې د کارډ - ايـف پروګـرام يـې د کولـو هڅـه وکـړه. د کارډ - ايـف پـه پروګـرام

[1] . التای مشورتي خدمتونو شرکت، د دويمې ربعې راپور، ۲ انځور، ص ۱۱

کې د بدیلې پرمختیا فکر او نشه یي توکو تر موضوعاتو ورهاخوا هڅې تر سترګو کېدای شي. خو شواهدو ته په کتو یې په لومړي ګام کې ممکن تمرکز پر هغو شرایطو وي، چې د نشه یي توکو اقتصاد یې په تحرک راوستی.

د کرنې بازارونو وده به تر ډېره د کوکنارو له کښت د مخ اړولو او د بدیل پرمختیا موډل په هڅولو کې اصلي موخه وي. دا یوه داسې تګلاره ده، چې د نړۍ په شمالي قطب کې د کرنیز انقلاب له پخوانیو تجربو پر ګټې اخېستنې ولاړه ده. خو دا څرګنده نه ده، چې په اوس وخت کې او بیا په آسیا کې په تېره بیا په افغانستان کې به دا تګلاره کارنده وي او که نه؟ دا کاملاً ممکنه ده چې د کوکنارو کښت به په لېرې پرتو او له منابعو محرومو سیمو کې همداسې پر ځمکو پاتې شي. ځکه که چېرې دا کرنه له منځه لاړه شي، کروندګر څه وکړي؟ په منزوي یا حاشیوي سیمو کې د کوکنارو کروندګر له کړکېچ سره مخ کېږي یعنې دا چې د محصولاتو د تولید پر پله پل نه شي کېښودای. او د دوی لپاره کوم داسې بل ځای هم نشته چې دوی هلته ته کار وکولای شي.

# اصطلاحات

| | |
|---|---|
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| ASR | کرنیز سکتور ته کتنه |
| CARD-F | د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام |
| CDC | ولسي پرمختیایي شورا |
| DAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست |
| DEA | له نشه یي توکو سره د امریکا متحده ایالاتو د مبارزې اداره |
| DFID | د برېتانیا شاهي حکومت نړیواله پرمختیایي اداره |
| DOD | د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت |
| EDPs | د اقتصادي پرمختیا کڅوړې یا پروژې |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| MCN | له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت |
| MOI | کورنیو چارو وزارت |
| MRRD | د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت |
| NDCS | د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتیژي |
| SIGAR | د افغانستان بیارغونې په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش یا سیګار |
| ToC | د بدلون نظریه |
| USAID | د امریکا متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره |
| Jerib | د یو هکتیار له شاوخوا پنځمې برخې سره برابره ځمکه |
| Malik | د کلي مشر |
| Ser | د غنمو د اندازه کولو معیار، ۱ سیر یا من له ۷ کیلوګرامو سره برابر دی. |

# سريزه

دا راپور د کرنيزې ودې او کليوالي پرمختيا پروګرام يا کارډ - ايف (CARD-F) ماهيت راسپړي. نوموړې پروژه د ۲۰۰۱ او ۲۰۲۰ز کلونو ترمنځ په افغانستان کې د هغو عملي شويو بديل پرمختيايي پروژو له ډلې يوه وه، چې موخه يې د کوکنارو د کرکيلې په راکمولو کې مرسته کول وو.

د بديلې پرمختيا اصطلاح لکه څه ډول چې له نشه يي توکو سره د مبارزې په پاليسيو (UNODC، **۲۰۱۵**) کې کارول شوې، هغه هڅې په ځان کې رانغاړي چې موخه يې د کليوالي پرمختيا له تګلارې په ګټې اخېستنې د زېربناوو د پرمختيا او قانوني بازارونو ته د لاسرسي په ترڅ کې د ناقانونه محصولاتو د کرکيلې راکمول دي. له همدې اصطلاح سره بله نږدې اصطلاح د بديل معيشت ده، چې د ژوندانه توښې برابرولو پر تګلارې ټينګار کوي او په افغانستان کې په پراخه کچه تري ګټه اخېستل شوې (UNODC ، **۲۰۱۵**). په عملي ډګر کې د بديلې پرمختيا او بديل معيشت عناصر په زياترو پروژو کې تر ستر ګو کېږي او په دې راپور کې د بديلې پرمختيا اصطلاح د بديل معيشت لپاره هم کارول کېږي. د بديلې پرمختيا مفهوم د محصول ځای ناستي مخکنيو هغو تګلارو برعکس دی، چې د بازار له ملاتړ پرته يې يوازې د لوړو عوايدو لرونکو محصولاتو پياوړي کول د بديل په توګه کارول. که څه هم د بديلې پرمختيا اصطلاح په افغانستان کې د کوکنارو د کښت په سيمو کې د زياترو پروژو د نښان په توګه کارول شوې، خو په عمل کې د دغو ټولو پروژو تګلارې له بديلې پرمختيا سره ډېر توپير لري او ځينې يې د بديلې پرمختيا تر نوم او نښان لاندې يوازې د محصولاتو د ځای ناستي پروژې وې.[۲]

د کارډ - ايف پروګرام په اړه دا څېړنه د يادې پروژې منطق او د افغانستان د کوکنارو پر اقتصاد د مشهورې بديلې پرمختيا پروژې غوښتل شوي او ناغوښتل شوي اغېزې راسپړي. په دې راپور کې د پروژې د تنظيم لارې چارې، طرحه کېدل، او دا چې د وخت په اوږدو دې پروژې څنګه او ولې بدلون وموند دغه راز د پلې کېدو او ارزول کېدو څرنګوالی راسپړل کېږي. په لنډون سره، په دې راپور کې دا پوښتنې راسپړل کېږي، چې: (۱) په دې پروژه کې ښکېلو بېلا بېلو اړخونو خپلو فعاليتونو او د هغوی اغېزو ته په کومه ستر ګه کتلې او نتايج يې څنګه ارزولي دي؟ (۲) د دې پروژې منطق او په افغانستان کې يې پر نشه يي توکو او پرمختيايي پروسو اغېزې څه وې؟ د راپور په وروستۍ برخه کې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د بديل پرمختيا پر موډل ملاحظات هم راسپړل کېږي.

د کارډ -ايف پروګرام، چې په لومړي ځل د برېتانيا شاهي حکومت د نړيوالې پرمختيايي ادارې له لوري تمويل شو، په ډېر غور سره د موضوعي څېړنې په توګه ټاکل شوی، ځکه د نورو پروګرامونو په پرتلې يې ځانګړنې متفاوتې وې. لومړی، دا چې دا يوه ډېره اوږدمهاله (شاوخوا ۱۰ کلنه) پروژه وه. په داسې حال کې چې د نورو بديل پرمختيايي پروژو عمر تر دې اندازې نه و، بلکې ډېر لنډ او تر ټولو زيات عمر يې ۳ تر ۴ کلونو و. دويم، د زياترو پرمختيايي پروژو برعکس دا پروژه د حکومتي جوړښت له لارې عملي شوه، که څه هم موازي بڼه يې لرله. درېيم، دا پروژه نسبتاً په ښه ډول مستند سازي شوې ده، په داسې حال کې چې ډېرو کم شمېر بديل پرمختيايي پروژو مستند تاريخ پرځای پرېښودی دی. بالاخره، دا پروژه د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژې تر څېړنې لاندې د درېيو ولايتونو[۳] له ډلې په دوو ولايتونو بدخشان او ننګرهار کې پلې شوې ده.

د کارډ - ايف پروګرام د لاسته راوړنو په اړه نظريات يو تر بله توپير کوي. د اصلي تمويلوونکي يعنې د برېتانيا شاهي حکومت نړيوالې پرمختيايي ادارې لپاره د **۲۰۰۹** او **۲۰۱۸**ز کلونو ترمنځ د دوو پړاوونو په ترڅ کې دا پروژه يوه داسې لاسته راوړنه وه، چې "په وروستيو کې د نړيوال بانک له لوري د وروستي انکشاف يعنې د سوداګريزې کرنې منشور په څېر د کرنې او سوداګريز کرنې د پاليسيو لپاره يې يو پياوړی اساس رامنځ ته کړ."[4] دا د يوې داسې پروژې لپاره حيرانوونکې لاسته راوړنه ګڼل کېدای شي، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې او بديلې پرمختيا لپاره د ځانګړې انګېزې له مخې پيل شوې وه. د کارډ – ايف پروګرام د کرنې، اوبو

---

۲ D. Mansfield, and A. Pain, “Alternative Livelihoods: Substance or Slogan?” Briefing Paper, (Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, ۲۰۰۵); SIGAR. Counternarcotics: Lessons from the U.S. Experience in Afghanistan, (Arlington, Virginia: Special Inspector General for Afghanistan, ۲۰۱۸).

۳ درېيم ولايت يې نيمروز دی.

۴ د برېتانيا نړيواله پرمختيايي اداره، " د کرنيزې ودې او کليوالي پرمختيا پروژې بشپړېدو ته کتنه، جنوري ۲۰۱۸" (کابل: د برېتانيا نړيواله پرمختيايي اداره، ۲۰۱۸ الف، ۲).

لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري په پلازمېنه کابل کې د مرکزي دفتر له خوا عملي شوی. د یاد وزارت لوړپوړو چارواکو لپاره دا پروژه د بدیل معیشت پانګونو په ګډون د نورو عملي شویو پروژو په پرتله تر ټولو غوره وه:

*د کارډ – ایف پروګرام په افغانستان کې د اغېزناکو پروګرامونو له ډلې و، ځکه دا پروګرام په ۲۰۱۸ ز کال کې پای ته رسېدلی خو اغېزې یې اوس هم پرځای پاتې دي. د دې اغېزو له ډلې د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې د چرګانو فارمونو او شنو خونو ته اشاره کولای شو. د کرنیزو بازارونو بیارغونې پروګرام، د افغانستان بدیل معیشت پروګرام - ختیځ زون، هلمند د خوړو زون، کندهار د خوړو زون په څېر نورې ګڼ شمېر پروژې هم وې، خو د کارډ – ایف پروګرام د پایښت او اغېزناکتوب له مخې تر ټولو غوره او بې‌ساري پروګرام و.*[۵]

د کرنې په وزارت کې د ولایتونو او ولسوالیو په کچه یو شمېر چارواکو د پروژې تخنیکي منځپانګې پرځای د عملي کېدو پر لارو چارو او برخه والو نیوکې لرلې:

*زه د هېڅ مخالف نه یم، خو موږ داسې کسان لرل چې د چرګانو په فارمونو کې د لېوالتیا لرلو تر څنګ یې تجربه هم لرله او دوی کولای شول دا فارمونه په ښه ډول وچلوي. د کارډ - ایف پروګرام هغه معیارونه په پام کې نه دي نیولي، چې دوی په پروژه کې مشخص کړي وو؛ دوی تر ډېره د کلي ملکانو[۶] یا مشرانو (د کلیو پرمختیایي شوراګانو د مشرانو)[۷] او لوړپوړو چارواکو خوشالولو ته پام کاوه.*[۸]

په همدې ډول د پروژې برخه والو نظریات هم یو تر بله متفاوت وو. د ننګرهار د کروندګرو له انده، چې شنې خونې یې د ګټې تر راکمېدو وروسته پلورلې، دا پروژه ناکامه وه. خو هغه کروندګرو، چې ډېرې ځمکې یې لرلې او له دې پروژې یې ګټه ترلاسه کړې، دا پروژه یې بریالۍ ګڼلې ده. د یو کروندګر په خبره:

*موږ د کرنې، اوبو لګولو، لالون کولو، او د بوټو لپاره د مضرو حشراتو په وړاندې د دوا کارولو دغه راز د نباتاتو ناروغیو، د محصول رېبلو او راټولولو، بسته بندۍ او پېرودونکو ته د محصولاتو د وړاندې کولو په اړه ډېر نوي شیان زده کړل. د ظرفیت دا لوړول د عوایدو زیاتوالي او له کرنې سره د تړلو موضوعاتو د مدیریت لپاره ډېر ګټور و. زه اوس په یو مسلکي کروندګر بدل شوی یم او په کارډ - ایف پروګرام کې موږ ته د راکړل شوې روزنې پرمټ اوس کولای شم د خپلې ځمکې او بوټو اړوند هر ډول ستونزه هواره کړم.*[9]

د بدخشان ولایت یو کروندګر، چېرته چې د کارډ - ایف تر چتر لاندې د کچالو پروژه عملي شوې، د کوکنارو او کچالو کرکیلې ترمنځ د اړیکې په اړه موږ ته داسې ویلي دي:

*زه غواړم تاسو ته ووایم، چې دوه شیان یو له بل سره تړلي دي. د کارډ – ایف پروژې پرمهال د کچالو د کښت له درکه د کروندګرو عواید ډېر ښه وو، کروندګرو د دې پروژې په اډانه کې تخمونه، کمیاوي سره او روزنه هرڅه وړیا ترلاسه کول او محصولات هم ډېر ښه وو. کارګران هم د کاري بوختیا له درکه ډېر خوشحال وو. زما په ګډون ټول کروندګر هم خوشحال وو، ځکه د کوکنارو په ګډون د نورو محصولاتو په پرتله د کچالو عواید ډېر زیات وو. کله چې پروژه پای ته ورسېده، په ۲۰۱۶ / ۲۰۱۷ ز کلونو کې د کوکنارو کښت زیات شو، خو خلکو بیا هم کچالو کرل ،مګر د یادې پروژې وختونو په پرتله یې کښت ډېر کم وو.*[10]

۵ . لومړی شمېره چارواکی

٦ . د کلي دودیز مشر، چې معمولاً دا مشري په میراث وړیاتې ده او دا ډول مشران تر ډېره په ننګرهار کې شته، د دوی له ډلې زیاتره یې د ولسي پرمختیایي شورا مشران هم شول.

۷ . د کلیو ولسي پرمختیایي شوراګانې د ولسي تړون پروګرام تر چتر لاندې رامنځ ته شوې دي.

۸ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰٦

۹ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۸

۱۰ . په ډله ییز بحث کې یو کروندګر، بدخشان ۰۱

په ځينو مواردو کې، د روايتونو دا ډول تضاد د کارډ-اېف د برياليتوب يا پايلو په اړه د قضاوت معيار او ګټو توپير منعکسوي. د برېتانيا شاهي حکومت نړيوالې پرمختيايي اداري لپاره ممکن په يو ستونزمن چاپېريال او جنجالي سکتور کې د دا ډول پروژې پرمخ وړل، په تېره بيا په شفاف ډول د بودجې لګولو له کبله ډېر بريالی کار وي. د کرنې وزارت د چارواکي لپاره چې د کارډ- اېف مسوول و، دا پروژه يو حياتي کار و، ځکه د نوموړي کار يې ارزښتمن کړی و او لږ تر لږه دا يې احساسوله چې يو څه کوي. د ولايتي چارواکو لپاره بيا دا پروژه تر ډېره د هغه درز له کبله تر نيوکې لاندې وه، چې پر پروژه د کم کنټرول له وجې رامنځ ته شوی و، ځکه دا پروژه د قراردادي همکارانو له لوري عملي کېده، چې مستقيماً يې په کابل کې له مرکزي دفتر سره راشه درشه وه. ترڅنګ يې ځينې کروندګر او سوداګر هم د پروژې له ګټو يا برخمن شوي وو يا هم ترې محروم وو. دوی ټول د دې پروژې په اړه ويلو ته څه لري، که څه هم ښايي د نشه يي توکو پر کرکيله د پروژې د اغېزو په تړاو نه وي.

وروسته به ولولئ، چې د افغانستان د کوکنارو اقتصاد په وړاندې د نړيوال غبرګون سياستونه مبهم و او رقابتي بڼه يې لرله. پردې سربېره، د دې پروژې اداري ترتيبات هم ډېر پېچلي و، چې د ګڼ شمېر اړخونو ګټې منعکسوي. د دې پروژې يو شمېر تمويلوونکو د پيسو او روڼتيا په اړه اندېښنې لرلې، خو د افغانستان ګڼ شمېر وزارتونو پر پروژه ښکاره نظارت درلود. په دې وزارتونو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت هم شامل و، چې د پروژې لپاره يې بين الوزاراتي کمېټه جوړه کړې وه، خو ياد وزارت عملي کوونکی رول نه درلود. پردې سربېره، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې مهمو افرادو هم په دې پروژه کې خپلې ګټې لرلې.

د غوره تمويلېدونکي خو خپلواک بودجې واحد په اړه هم اندېښنې وې، چې له بودجې د باندې مېکانېزمونو په ترڅ کې مستقيماً د حکومت پرځای د تمويلوونکي له لوري تمويل کېده او د ماليې وزارت واکونه يې کمزوري کول. کله پروژه په ولايتي او ولسوالۍ کچه د قدرت له رسمي او نارسمي جوړښتونو سره مخ شوه او دغو جوړښتونو د پروژې د پلي کېدو ځايونو پر ټاکلو او دا چې څوک ترې برخمن شي، اغېزې لرلې. دا پروژه، چې د طرحه کوونکو په ذهنونو د دې لپاره رامنځ ته شوې وه، چې په پلي کېدو کې د تخنيکي نظم له ډسپلين کار واخېستل شي، برعکس کله چې چارواکو او نورو اړخونو له دې قواعدو پيروي ونه کړه، نو د مجبوريت له مخې يې ځينو فشارونو ته غاړه کېښوده.

تر ډېره دا د يوې داسې پروژې روايت دی، چې له خپلو اصلي موخو سره يې واټن پيداکړ او داخلي منطق يې کسب کړ، چې تر ډېره بريده له خپلې اصلي منځپانګې لېرې پاتې شوه دا کار د پروژې پر ناغوښتل شويو پايلو د سترګو پټولو لامل شو. د پروژې د روايت ترڅنګ اړتيا ده، چې د پروژې تګلوري ته په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پراخو اقداماتو او پاليسو د ټولګې په وړاندې کتنه وشي.

له دې کبله دا څېړنه له ۲۰۰۱ز کال راوروسته په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې اجنډاء ته د کتنې په لنډيز سره پيلېږي، څو په دې اجنډاء کې د کارډ - اېف پروګرام او د برېتانيا شاهي حکومت نړيوالې پرمختيايي اداري ته ځای ورکړل شي. وروسته پر هغو ګڼ شمېر لارو چارو رڼا اچوي، د کومو پر مټ چې د برېتانيا شاهي حکومت نړيوالې پرمختيايي اداري په ګډون په افغانستان کې نړيوالو ادارو بديل پرمختيايي پروژې عملي کړي، ترڅنګ يې د دې پروژې د اغېزو څرنګوالی هم راسپړي. څلورمه برخه په لنډه توګه هغو ميتودونو او منابعو ته اشاره کوي، چې د کارډ- اېف پروګرام په اړه په دې څېړنه کې ترې ګټه اخېستل شوې، په پنځمه برخه کې له رسمي اسنادو د دې پروژې موخې او مقاصد راسپړل کېږي او ترڅنګ يې د پروژې پر عملي کېدو رڼا اچول کېږي او اغېزې يې هم ارزول کېږي. په شپږمه برخه کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري له لوري په دوو ولايتي برخو ننګرهار او بدخشان کې د پروژې له څېړلو ترلاسه شوي موندنې وړاندې کېږي، چې د پروژې تر بشپړېدو دوه کاله وروسته ترسره شوي او دکارډ –اېف پروګرام ميراث يې ارزولی دی. په اوومه برخه کې په ګډه هغه مهمو موضوعاتو ته ځغلند نظر کېږي، چې له دې سپړنو او څېړنو ترلاسه شوي او اتمه برخه بيا د ترلاسه شويو پندونو او د دغو پندونو له مخې په وړانديزونو سره دا راپور راټولوي.

# په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسي[11]

په ۲۰۰۱ز کال کې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د برېتانيا شاهي حکومت په مشرۍ د اعلان شوې پاليسۍ انګېزه دا وه، چې په افغانستان کې د نشه يي توکو توليد له منځه يوسي.[12] وجه يې د نشه يي توکو له عوايدو د طالبانو د جګړې تمويل او په برېتانيا کې د هروئينو د کارولو له کبله مړينه ياده شوې وه. د وخت په تېرېدو، کله چې د کوکنارو د کروندو اړولو په وړاندې مقاومت رامنځ شو، ترڅنګ يې نور نړيوال لوبغاړي هم له نشه يي توکو سره د مبارزې په اجنډا کې ښکېل شول او د نشه يي توکو، بلواګرۍ او دولت جوړونې پروسو ترمنځ د اړيکې پر سر بحثونو بدلون وموند، نو دا انګېزه هم مخ په کمېدو شوه (سيګار، ۲۰۱۸؛ بهاتيا، ۲۰۲۰).[13] د دې بحثونو په لړ کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ د درېيو مهمو لارو چارو: بديلې پرمختيا، کښت اړولو او بنديز لګولو ترمنځ په توازن او ټينګار کې بدلونونه راغلل. پردې سربېره، که څېرې په ۱۹۹۴ز کال کې له شاوخوا ۷۰،۰۰۰ هکتاره بيا په ۲۰۲۰ز کال کې ۲۲۴،۰۰۰ هکتارو ته د کوکنارو کرکيلې زياتوالي ته وکتل شي، نو دا جاج اخېستل کېداى شي، چې د يادې پاليسۍ لاسته راوړنې ډېرې کمې وې.[14] په ۲۰۲۰ز کال کې د اټکل له مخې شاوخوا ۶،۳۰۰ ټنه ترياک توليد شوي وو، چې د کروندې پر سر يې ارزښت شاوخوا ۳۵۰ ميليون امريکايي ډالرو ته رسېده. د امريکا متحده ايالاتو حکومت په يوازېتوب له ۲۰۰۱ز کال راپه دېخوا له نشه يي توکو سره د مبارزې پر پروګرامونو شاوخوا ۷.۲۸ ميليارد امريکايي ډالر لګولي، خو په بدل کې يې لاسته راوړنې ډېرې کمې وې.[15]

د برېتانيا شاهي حکومت د ۲۰۰۲ز کال په اپرېل کې په امنيتي سکتور کې د اصلاحاتو اته ګوني ډلې ترمنځ د مسوولېتونو وېش يوې برخې په توګه له نشه يي توکو سره د مبارزې مشرۍ ته غاړه کېښوده.[16] خو د کوکنارو د کروندګرو له لوري د خپل توليد بېرته اخېستلو ناورين زېږوونکې طرحې په ګډون د بديل پرمختيا او کښتونو اړولو لپاره د برېتانيا شاهي حکومت د مستقيمې مداخلې لومړنيو هڅو ډېرې کمې اغېزې لرلې.[17] له ۲۰۰۴ز کال راوروسته امريکا متحده ايالاتو خپله مداخله زياته کړه او د وخت په اوږدو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې او په ټوله کې په امنيتي سکتور کې په اصلي لوبغاړي بدل شو. څرنګه چې د سيګار له ارزونو جوتېږي، د ۲۰۰۱ او ۲۰۱۸ز کلونو ترمنځ له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د امريکا متحده ايالاتو پاليسي جوړونه او عملي کول له ستراتيژيکې ناکامۍ او د تاکتيکي انسجام له نشتوالي سره مخ وو.[18] تر ډېره بريده دا ناکامي د امريکا متحده ايالاتو د څلورو لويو حکومتي ادارو يعنې دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت، امريکا متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې او له نشه يي توکو سره د امريکا متحده ايالاتو د مبارزې ادارې ترمنځ د چلن او ګټو د ذاتي ټکر پايله وه.

په داسې حال کې چې افغانستان له نشه يي توکو سره د مبارزې اجنډاء يو اړخ و (شرايطو ته په کتو هر وخت نه و)، نو افغانستان

---

۱۱ . دا برخه تر ډېره په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ ته له کتنې راخېستل شوې، ادم پين، کاوه کريمي او اورځلا نعمت، ″ په افغانستان کې نشه يي توکي او پرمختيا. د ملي پاليسۍ او لوبغاړو تحليل،″ څېړنيزه پاڼه، (لندن او کابل: د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژه او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۲۱).

۱۲ . P.A. Berry, “What is the Future of UK Drugs Policy for Afghanistan?,” RUSI Newsbrief ۴۱, No. ۷ (۲۰۱۹): What Is the Future of UK Drugs Policy for Afghanistan? | Royal United Services Institute (rusi.org)

۱۳ . SIGAR, Counternarcotics; J. Bhatia, Literature Review: Drugs and (Dis)Order in Afghanistan, (London: SOAS, London University, ۲۰۲۰).

۱۴ . له نشه يي توکو او جرايمو سره د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر يا UNODC، ″ د افغانستان د کوکنارو سروې ۲۰۲۰. کرکيله او توليد،″ (کابل: له نشه يي توکو او جرايمو سره د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر او له نشه يي توکو سره د مبارزې دفتر / د نشه يي توکو د سروې رياست، ۲۰۲۰).

۱۵ . سيګار، له نشه يي توکو سره مبارزه.

۱۶ . مخکنۍ اثر، ۳۸مه صفحه. د امنيتي سکتور اصلاحات په خپله د تمويلوونکو او افغان حکومت دواړو له لوري د ستراتيژيک انسجام، همغږۍ او سياسي هوکړې له کمښت سره مخ وو؛ وګورئ: د امنيتي ځواکونو ډموکراټيک کنټرول لپاره د جېنوا مرکز د افغانستان کاري ډله، ″ د افغانستان امنيتي سکتور د حکومتوالۍ ننګونې،″ د امنيتي ځواکونو ډموکراټيک کنټرول لپاره د جېنوا مرکز د سيمه ييزو پروګرامونو لړۍ، ۱۰مه شمېره (جېنوا: د امنيتي ځواکونو ډموکراټيک کنټرول لپاره د جېنوا مرکز، ۲۰۱۱).

۱۷ . P.A. Berry, “What is the Future of UK Drugs Policy for Afghanistan?”

۱۸ . سيګار، له نشه يي توکو سره مبارزه III.

هم خپلې جلا ګټې لرلې.[19] پردې سربېره، له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ مهمو نړيوالو لوبغاړو اجنډاوې تل نه، خو زياتره وخت حاکمه بڼه لرله. د دې ترڅنګ، د پاليسۍ مهمو لوبغاړو ترمنځ په پاليسۍ او عمل کې هم ډېر اختلافونه وو.[20] د کوکنارو د کرکيلې کچې په لوړېدو سره، د کوکنارو اقتصاد د ودې اغېزو په تېره بيا له جرايمو او تروريزم سره د کوکنارو کرکيلې د تړاو له امله د امريکا متحده ايالاتو اندېښنې زياتې شوې. په ۲۰۰۵ز کال کې چې طالبانو بيا ځلې سر راپورته کړ،[21] نو د کوکنارو له عوايدو د طالبانو د تمويل ادعاوې هم په ډېر قوت مطرح شوې. دا کار د کوکنارو کروندو د اړولو د ملاتړ په ګډون د امريکا متحده ايالاتو له لوري د خپلواک اقدام لامل شو.[22] په داسې حال کې چې د امريکا متحده ايالاتو مهمو ادارو د هوا له لارې د سپرې له شيندلو قوي ملاتړ کاوه، خو دا کار د افغان حکومت او نورو اړخونو له لوري له قوي مقاومت سره مخ شو. په ۲۰۰۹ز کال کې د نظامي حضور تر زياتوالي وروسته د کروندو اړولو ته پام کم شو او د کوکنارو کروندو پر ممنوعيت ټينګار زيات شو. له ۲۰۱۱ز کال راوروسته د برېتانيا شاهي حکومت له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ له مشرتابه رول عملاً لاس په سر شو، او د دې پاليسۍ نړيوال مشرتوب يې امريکا متحده ايالاتو ته وسپاره.[23]

تر ۲۰۰۱ز کال راوروسته په لومړي لسيزه کې نړيوال بانک هم د کوکنارو په اقتصاد کې د پاليسۍ زښته زياته علاقه وښوده، چې په خپل ذات کې يې د ناقانونيت ستونزې پرځای تر ډېره د پرمختيايي ننګونې له ليدلوري ورته کتلي دي. ياد بانک د پاليسۍ يو شمېر بحثونه پرمخ يوړل او د افغانستان د نشه يي توکو اقتصاد[24] د جوړښت او فعاليت دغه راز د کوکنارو د کرکيلې راکمولو لپاره يې د پرمختيايي نوښتونو په اړه د يو لړ مهممو تحليلي څېړنو مسووليت هم پرغاړه اخېستی و.[25] وروستي سند يعنې د نړيوال بانک څېړنه د يوې اصلي تګلار بنسټ کېښود، چې د برېتانيا شاهي حکومت نړيوالې پرمختيايي ادارې په ملاتړ د کارډ – اېف پروګرام لومړی پړاو يې په لويه کچه يو غبرګون ګڼل کېدای شي. پردې سربېره، تر ۲۰۱۰ز کال راوروسته نړيوال بانک د کوکنارو پاليسۍ پر سر بحثونو کې ډېره کمه برخه اخېستې، ممکن دا د امريکا متحده ايالاتو له لوري د پاليسۍ پرځای پرمختيايي پروګرامونو ته د هرکلي له کبله وي. دې برخې نه اخېستلو په ډېر وضاحت سره په ۲۰۱۴ز کال[26] کې پر کرنيز سکتور د کتنې مسودې په چمتو کولو کې انعکاس موندلای، چې پر بازار د متکي کرنيزې ودې ملاتړ يې کاوه. په لومړيو کې د کوکنارو اقتصاد اغېزو ته په ياده مسوده کې هېڅ پاملرنه نه وه شوې، تر دې چې د برېتانيا شاهي حکومت نړيوالې پرمختيايي ادارې دې برخې ته پر پام کولو فشار راوړ.[27]

له نشه يي توکو سره د مبارزې پروګرام کې د دوو نورو اړخونو يادونه هم بايد وشي. لومړی اړخ له نشه يي توکو سره د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر (UNODC) و، چې مهم رول يې د کوکنارو د کښت سيمو او توليد په اړه له کلنيو سروې ګانو د ارقامو يا اطلاعاتو برابرول وو. له دې اطلاعاتو د لويو لوبغاړو له لوري له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ د توجيې يا هم هغوی ته د معلوماتو ورکولو لپاره ګټه اخېستل کېده. دويم اړخ د جرمني حکومت و، چې ښايي ډېره کمه يادونه يې شوې وي، خو د بديلې پرمختيا اوږدمهالو تګلارو ته ژمن و.

۱۹. D. Keen and R. Andersson. "Double Games: Success, Failure and the Relocation of Risk in Fighting Terror, Drugs and Migration." Political Geography ٦٧ (۲۰۱۸): ۱۰۰-۱۱۰.

۲۰. SIGAR. Counternarcotics; C. Keane, "The Impact of Bureaucratic Conflict on US Counternarcotic Efforts in Afghanistan," Foreign Policy Analysis ۱۲ (۲۰۱٦): ۲۹۵-۳۱۴.

۲۱. C. Malkasian, The American War in Afghanistan: A History, (Oxford: Oxford University Press, ۲۰۲۱).

۲۲. SIGAR. Counternarcotics; P.A. Berry "What is the Future of UK Drugs Policy for Afghanistan?"

۲۳. مخکنی.

۲۴. Doris Buddenberg, and William A. Byrd (editors), Afghanistan's Drug Industry: Structure, Functioning, Dynamics, and Implications for Counter-Narcotics Policy, (Vienna and Washington, DC: UNODC and the World Bank, ۲۰۰٦).

۲۵. Ward, C., D. Mansfield, P. Oldham, and E. Byrd, "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives to Reduce Opium Production," (Kabul: DFID and World Bank, ۲۰۰۸).

۲٦. نړيوال بانک، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کرنيز سکتور ته کتنه (ASR): د اقتصادي ودې لپاره د کرنې راژوندي کول، د دندو رامنځ ته کول او د خوراکي امنيت ډاډمن کول، (واشنګټن، ډي سي: نړيوال بانک، ۲۰۱۴).

۲۷. شخصي مکالمه، د برېتانيا نړيوالې پرمختيايي ادارې چارواکی، کابل، مې ۲۰۱۴.

د پاليسۍ نړيوالو لوبغاړو ترمنځ د پاليسۍ جوړولو موازي او د عمل په ډګر کې متضادو کړنو د اداري جوړښتونو پر سر په اختلاف کې ښه انعکاس موندلای. د افغانستان بيارغونې په چارو کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړي سرمفتش يا سيګار د ۲۰۰۱ او ۲۰۱۸ز کلونو ترمنځ د افغانستان او امريکا متحده ايالاتو له لوري د تأسيس شويو ادارو او پروګرامونو يو ګټور لنډيز وړاندې کړی دی.[۲۸] د دواړو هېوادونو له لوري جلا جلا اقدامات د دوه ګونو، دندو ترمنځ تداخل لرونکو او رقابتي اداري د جوړېدو لامل شو، خو د وخت په تېرېدو سره يو شمېر اداري له منځه لاړې يا هم په نورو ادارو کې مدغم شوې.

د برېتانيا شاهي حکومت په ملاتړ په ۲۰۰۲ز کال کې د ملي امنيت شورا تر چتر لاندې له نشه يي توکو سره د مبارزې رياست ايجاد شو، چې مسوولیتونه يې د ستراتيژۍ جوړول، له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې همغږي او څارنه وه. د دې ستراتيژۍ د پلي کولو ښېلا ښېل مسووولیتونه د کورنيو چارو وزارت، کليو بيارغونې او پرمختيا وزارت؛ کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ او عامې روغتيا وزارتونو پر غاړه وو. د دې ترڅنګ، د دغو مهمو وزارتونو ترمنځ رقابت له نشه يي توکو سره د مبارزې هڅو او له نشه يي توکو سره د مبارزې ليد لوري ښېلوونکي ځانګړنه وه.

له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د برېتانيا حکومت پر هڅو او تمويل په ۲۰۰۴ز کال کې د امريکا متحده ايالاتو نيوکه د دې لامل شوه، چې برېتانيا د افغان حکومت له لوري له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د ټولو فعاليتونو له همغږۍ سره د مرستې په پار له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت رامنځ ته کولو ته ملا وتړي، خو ياد وزارت هېڅکله کوم عملياتي کارونه ونه کړل او په سياسي لحاظ د خپل ژوند په اوږدو کې ډېر کمزوری پاتې شو. بالاخره، ياد وزارت د ۲۰۱۹ز کال په وروستيو کې منحل شو. د دې ترڅنګ د برېتانيا حکومت له نشه يي توکو سره د مبارزې امانتي صندوق هم رامنځ ته کړ، څو له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د مهمو وزارتونو لپاره د بودجې په برابرولو او زياتوالو کې اسانچاری رول اداء کړي. ياد صندوق د ملګرو ملتونو له لوري اداره کېده، خو هېڅکله يې د امريکا متحده ايالاتو ملاتړ ترلاسه نه کړ، چې د تمويل له مخې کمزورې مخينې ته په کتو بالاخره په ۲۰۰۹ز کال کې منحل شو. برعکس، د کورنيو چارو پياوړي وزارت، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې ځانګړې مرستيالي يا معينيت يې درلود، زښت زيات د امريکا متحده ايالاتو تر نفوذ لاندې و او له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ د پلي کولو مشري يې هم پرغاړه وه.

د بديلې پرمختيا، روغتيا، کرکيلې اړولو او ممنوعيت دغه راز امنيت سره تړلې د پاليسۍ جوړولو او اقداماتو برخې يو تر بله جلا دي، چې په تيوري کې په ترتيب سره د کرنې، کليو پرمختيا، روغتيا، عدليې او امنيتي وزارتونو سره تړاو لري. که څه هم دا ټول موضوعات په ښکاره د پاليسۍ جوړولو او عمل کولو ګډو هڅو ته اړتيا لري، خو دا کار په ډېر ندرت ترسره شوی. د نشه يي توکو د کنټرول لومړنۍ ملي رسمي ستراتيژي د برېتانيا حکومت او له نشه يي توکو او جرايمو سره د ملګرو ملتونو سازمان د مبارزې دفتر په همکارۍ په ۲۰۰۳ز کال کې ترتيب شوه. په دې ستراتيژۍ کې د ترتيب شوي پلان له مخې تر ۲۰۰۸ز کال پورې د کوکنارو په کښت کې ۷۰ سلنه کمښت او تر ۲۰۱۳ز کال پورې د يادې کرکيلې او نشه يي توکو د قاچاق په بشپړه توګه له منځه وړل هدف ټاکل شوی و. که څه هم د دې ستراتيژۍ له لوري د ننګونو ساحه په ګوته شوې وه او له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ يو لړ لارې چارې يې ارزولې وې، خو هېڅکله يو عملياتي سند يا کړنلاره نه وه.

ياده ستراتيژي دوه کاله وروسته په ۲۰۰۵ز کال کې بيا ځل تعديل شوه او د پاليسۍ پنځه ګونو برخو (اداري جوړونې، بديل معيشت، ممنوعيت، قانون حاکميت او جزايي عدالت) په اړه له ډېرو جزئياتو سره مل پلان ورزيات شو. د دې ترڅنګ د عامه پوهاوي هلو ځلو، کروندو اړولو او سيمه ييزې همکارۍ پلانونه هم ورزيات شول. کله چې د دې ستراتيژۍ تعديل شوې بڼه خپره شوه، نو پاليسي پر اصلي موخو د ټينګار پر ځای "د ناقانونه نشه يي توکو د کرنې، توليد، قاچاق او کارولو دوامداره کمښت سره يو ځای د دې پديدې په بشپړه توګه له منځه وړلو" پر لور بدله شوه.[۲۹]

د نشه يي توکو د کنټرول ۲۰۰۷ کال په ملي ستراتيژۍ کې "د نشه يي توکو معضلې په اړه له روښانه او سيستماتيکي تګلارې... يادونه وشوه. په دې تګلاره کې د جلا جلا فعاليت پرځای په ګډه پر اغېزناک او منسجم کار کولو او له نشه يي توکو سره د مبارزې ستراتيژۍ د ملاتړ لپاره د پايښت لرونکو ادارو د رامنځ ته کولو پر اړتيا ټينګار شوی و."[۳۰] په ورته وخت کې، د امريکا متحده

۲۸ . سيګار، له نشه يي توکو سره مبارزه ۴۲.

۲۹ . له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت، د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتيژي، (کابل: له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوريت، ۲۰۰٦).

۳۰ . مخکنی، ۱٦.

ایالاتو ستراتیژي که څه هم د نشه يي توکو د کنټرول له ملي ستراتیژۍ سره تش په نوم مطابقت درلود، خو په عمل کې یې د بدیل معیشت پرځای د کروندې اړولو ته لومړیتوب ورکاوه. له دې کبله یاده پالیسي د نشه يي توکو د کنټرول ملي ستراتیژۍ له دې اصل سره په تضاد کې وه، چې تر هغو باید کروندې ونه اړول شي، څو چې یو غوره بدیل ورته پیدا کېږي. پردې سربېره، د امریکا متحده ایالاتو لومړني بدیل معیشت پروګرامونه په تر ټولو غوره حالت کې د محصولاتو د ځای ناستي لنډمهاله هڅې وې، خو د بدیل معیشت له مفهوم سره یې هېڅ راز مطابقت نه درلود.

سیګار هم دا خبره تاییدوي[31] او وایي، چې د امریکا متحده ایالاتو له لوري له نشه يي توکو سره د مبارزې لومړیتوب تر ۲۰۱۱ز کال راوروسته په تدریجي ډول کم رنګه شو. په **۲۰۱۴**ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو د پالیسۍ یوې برخې په توګه افغانانو ته د امنیتي مسوولیت لېږد له نشه يي توکو سره د مبارزې مسوولیتونو د لېږد بدو لامل هم شو، چې هغه وخت زیاتره نړیوال لوبغاړي ترې لاس په سر شول.[32] په **۲۰۱۵**ز کال کې له نشه يي توکو سره د مبارزې ملي پلان (**۲۰۱۵** تر **۲۰۱۹**ز) په ترتیب کېدو سره، چې د هغه وخت له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت له لوري چمتو شوی و،[33] د مسوولیتونو بشپړ مسوولیت افغان لوري ته ولېږد بده. هغه مقاصد چې په مخکنیو پالیسیو کې د کوکنارو کرکیلې راکمولو ترڅنګ د قانوني بدیلونو، کښت اړولو، نشه يي توکو سوداګرۍ له منځه وړلو، پیسو وینځلو پر ضد اقداماتو او قانون حاکمیت په اړه په ګوته شوي وو، په دې پلان کې بیاځل ترې یادونه وشوه. د دې ترڅنګ په دې پلان کې بیاځل یو لړ شرایط او معیارونه په پام کې ونیول شول، خو د کوکنارو د کرکیلې کچې راکمولو، کرکیلې اړولو، منع کولو او اړین راکمښت موخې ترلاسه کولو لپاره کوم ښکاره منطق یا توجیه په پام کې نه وه نیول شوې.

۳۱ . سیګار، له نشه يي توکو سره مبارزه.

۳۲ . Malkasian, The American War in Afghanistan: A History.

۳۳ . یاد وزارت د ۲۰۱۹ز کال په وروستیو کې لغوه او د کورنیو چارو په وزارت کې مدغم شو. له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت، د نشه يي توکو د کنټرول ملي اقداماتي پلان، (کابل: له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۵).

# په افغانستان کې د بدیلې پرمختیا پروژې

د بدیلې پرمختیا پروژو دوه لوی تمویلوونکي د برېتانیا شاهي حکومت او امریکا متحده ایالات وو، د دې ترڅنګ جرمني، اروپايي ټولنې، اتریش، جاپان، ډنمارک او روسیې هم له دې پروژو سره مرستې کړې دي. په ټوله کې له ۲۰۰۲ تر ۲۰۱۷ز کال پورې،[۳۴] د امریکا متحده ایالاتو له خوا له نشه يي توکو سره د مبارزې لپاره ۸.۲۲ میلیارد امریکایي ډالر ځانګړې شوي وو، چې له دې ډلې ۱.۴۲ میلیارد امریکایي ډالر (د ټولې بودجې ۱۷ سلنه) یې د بدیل پرمختیایي پروژو په برخه کې لګول شوي، چې د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۵ز کلونو ترمنځ یې کلنۍ اندازه له ۱۵۰ تر ۲۰۰ میلیون امریکایي ډالرو رسېده. له ۲۰۱۳ تر ۲۰۱۷ز کال پورې امریکا متحده ایالاتو د بدیل پرمختیایي پروژو ۸۵ سلنه او د برېتانیا شاهي حکومت ۱۵ سلنه بودجه ورکوله، چې ترڅنګ یې نورو تمویلوونکو هم یوه اندازه کمه همکاري کړې.[۳۵] د دې دورې لپاره ټوله بودجه نېږدې ۴۳۸ میلیون امریکایي ډالره وه. له ۲۰۰۱ز تر ۲۰۱۸ز کال پورې له نشه يي توکو سره د مبارزې لپاره د برېتانیا حکومت له لوري د ټولې په پام کې نیول شوې بودجې له ډلې د بدیل معیشیت لپاره د برېتانیا حکومت د تمویل اندازې په اړه کوم ارقام په لاس کې نشته. له ۲۰۰۵ تر ۲۰۰۷ز کال پورې له نشه يي توکو سره د مبارزې لپاره د برېتانیا حکومت ځانګړې شوې بودجې له ډلې نېږدې ۴۲ سلنه یعنې د ۱۵۴.۵ یورو معادل بدیل معیشت پروژو ته ورکړل شوي. د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۸ز کلونو ترمنځ برېتانیا دکارډ – اېف پروګرام دوه پړاوونه په ټوله کې د ۲۰ میلیونو یورو په ارزښت تمویل کړل، د دې پړاوونو له ډلې لومړی هغه یې د دویم پړاو په پرتله تر ډېره د بدیل معیشت پړاو و. د دې ترڅنګ، دا پروژه د نورو بدیل پرمختیایي پروژو په پرتله نسبتاً اوږدمهاله پانګونه هم ګڼل کېږي. د برېتانیا حکومت له لوري د بدیل پرمختیایي پروژو له ډلې بله تمویلېدونکې پروژه له ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۲ز کال پورې د هلمند خوړو زون پروژه وه، چې برېتانیا حکومت ۴۸ میلیون ډالر او امریکا متحده ایالاتو ۷۲ مییلون امریکایي ډالر بسپنه ورکړه.

زیاتره بدیل پرمختیایي پروژې د لنډمهاله مودې په ترخ کې د ځایي پروژو په بڼه په هغو ځایونو کې پلې شوې، چې د کوکنارو کښت له مخې د هغوی اهمیت ته په کتو غوره شوې وې. د دا ډول پروژو تمرکز معمولاً په ساده ډول د محصول ځای ناستي پر رامنځ ته کولو و، لکه د هلمند د خوړو زون پروژه، ان که څېرې د بدیل پرمختیا په سترګه هم ورته وکتل شي، موخه یې د کوکنارو کښت په سیمه کې د دې بوټي د کرکیلې راکمول و.[۳۶]

د یوې مشخصې دورې په تېره بیا د ۲۰۰۴ او ۲۰۱۰ز کلونو ترمنځ له نشه يي توکو سره د مبارزې اصلي محور[۳۷] ته د راګرځېدو او پر ځانګړې سیمه له متمرکزو پروژو د مخ اړولو لپاره هڅې وشوې. په دې اصلي محورونو کې د کلیوالي کورنیو له لوري د خطر او ابهام د مدیریت له لارې د کوکنارو کښت ګڼ اړخیز رول ته غبرګون ونښودل شو. د دې هڅو موخه دا وه، چې د کوکنارو کښت ته د پرمختیایي پلانونو په منځپانګه کې ځای ورکړل شي او تر ډېره بریده د کوکنارو په کښت کې د کلیوالي ژوند هغو جوړښتي خطرونو او ابهام ته پام وشي، چې د کوکنارو کښت ته د هڅونې لامل ګرځېدلي. د مبارزې په دې اصلي محور کې مهم لوبغاړي نړیوال بانک، د برېتانیا شاهي حکومت نړیواله پرمختیایي اداره، د آسیا پرمختیایي بانک او اروپايي ټولنه وه.

## د کارډ - اېف پروګرام شالید: د نړیوال بانک له لوري کرنیز سکتور ته د کتنې راپور

په ۲۰۰۸ز کال کې د برېتانیا شاهي حکومت نړیوالې پرمختیایي ادارې د نړیوال بانک په همکارۍ په دې اړه یوه څېړنه وکړه، چې څرنګه کېدلای شي د افغانستان د کوکنارو اقتصاد د "بدیل پرمختیایي نوښتونو او ژوندانه د تأمین د پایښت لرونکو قانوني لارو چارو پر لور د اقتصادي انګېزو د بدلون" له لارې په تدریجي ډول د وخت په اوږدو کې راټیټ شي.[۳۸] وروسته معلومه شوه، چې دا

۳۴ . سیګار، له نشه يي توکو سره مبارزه، ۱۰٦.

۳۵ . UNODC, "Research Brief, Global Overview of Alternative Development Projects (۲۰۱۳-۲۰۱۷)," (Vienna: United Nations Office on Drugs and Crime, ۲۰۱۹).

۳٦ . D. Mansfield, "The Helmand Food Zone: The Illusion of Success," Synthesis Paper, (Kabul: AREU, ۲۰۱٦).

۳۷ . له نشه يي توکو سره د پرمختیایي موضوع له زاویې چلن په ساده ډول یوازې د قانون او نظم یا امنیتي ستونزه نه ده. د عامه پالیسۍ له مخې د دې معنا دا ده، چې د هر راز پلان شوي پالیسۍ اقداماتو اغېزې پر نشه يي توکو د پرمختیایي مقاصدو له پراخې زاویې وارزول شي، هغه که د نشه يي توکو لپاره په پام کې نیول شوي وي یا نه.

۳۸ . Ward, et al. "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives", iii.

مرسته له نشه یي توکو سره د مبارزې ستراتیژۍ ګڼ شمېر عناصرو یوه برخه وه او استدلال دا کېده، چې "له پیاوړو اقتصادي او پرمختیایي جوړښتونو پرته، له نشه یي توکو سره د مبارزې نورې هڅې هم دوامداره بریالیتوب ته نه شي رسېدلای." [39] د راپور د وړاندیز له مخې دا بریالیتوب یوازې په هغه صورت کې ترلاسه کېدلای شي، چې د قانوني او ناقانونه محصولاتو په انګېزو کې بدلون راشي او دا بدلون د بېوزله کلیوالي کورنیو د ژوندانه د تأمین په لارو چارو کې پرمختګ رامنځ ته کېدل دي. موږ د کاړه – اېف پروګرام لومړي پړاو اصلي وړاندیزي سند ته د لاسرسي جوګه نه و، بناً په صراحت سره نه شو ویلای چې دا راپور د کاړه - اېف د لومړي پړاو موخو په ټاکلو کې کلیدي سرچینه وه. خو د دې څېړنې وړاندیزونو، د کرنیزې ودې او بدیل پرمختیا پروژې لومړي پړاو منځپانګې او د دویم پړاو د بدلون نظریې ته په کتو دا ویلای شو چې یاده څېړنه د دې پروګرام لپاره مهمه سرچینه وه. د دې څېړنې د وړاندیزونو جوهر دا و، چې د کوکنارو له کرکیلې د وتلو لپاره یې په افغانستان کې د زیات شوي ارزښت، پیاوړي رقابت او مثمریت د بدلونونو له مخې د بازار کرنې اقتصاد رامنځ ته کول وړاندیز کړي وو.

د دې څېړنې په راپور کې استدلال دا و، چې د بېلا بېلو کروندګرو د ژوندانه په تأمین کې د کوکنارو د کښت رول ته په کتو باید بېلا بېلې تګلارې په پام کې ونیول شي او د دې کار لپاره لاندې څلور ډوله کټګورۍ په ګوته شوې وې: [40]

- هغه پیاوړي کروندګر، چې پر کوکنارو متکي نه دي.
- کوچني کروندګر، چې او سمهال یې تکیه پر کوکنارو ده، خو د قانوني توکو د تولید ظرفیت لري.
- په لېرې پرتو سیمو کې بېوزله کروندګر او سمهال تر ډېره بریده پر کوکنارو تکیه لري او د قانوني توکو د تولید ظرفیت یې هم کم دی، ترڅنګ یې په ځایي کچه د کار فرصتونه هم کم دي، او
- هغه خلک، چې ځمکه نه لري، تر ډېره بریده د کوکنارو په کروندو کې پر کار کولو متکي دي (اجوره یا هم د محصول یوه برخه ترلاسه کوي).

د دې راپور وړاندیز دا و، چې په لنډمهال کې لومړۍ دوې کټګورۍ، چې نسبتاً په ښه وضعیت کې دي او ښاري بازارونو ته په نېږدې سیمو کې مېشت دي، هغه کسان دي چې په اصطلاح د لمدو خاور لړ او بو دارو له فورمولې په ګټې اخېستنې یې په چټکې د کوکنارو له کښت مخ اړول کېدای شي. د دې موخه لپاره په راپور کې وړاندیز شوې لارې چارې په لاندې ډول وې:

> *.... د تخنیکي کڅورو، پروسس او بازارموندنې پرمختیا. د سوداګریزو موډلونو - ارزښتیز ځنځیر تګلارې، صادراتو پیاوړتیا او قراردادونو انعقاد ګټه اخېستل – چې په بریالیتوب سره ازمویل شوي او د لوړولو ظرفیت لري... اړتیا ده، چې تمرکز تر ډېره باید د تدارک ځنځیر تګلارو له مخې د بازار تحرک د تولید پر سیستمونو وي، چې د تولیدي پانګو جبلول زیاتوي او د خصوصي سکتور مشارکت پراخوي.* [41]

په دې راپور کې دریېمه او څلورمه کټګورۍ کروندګر داسې کسان یاد شوي وو، چې په کرنه کې یې اوږدمهاله راتلونکې محدوده ده، د دې کټګورۍ لپاره نورو ځایونو ته کډوالي اساساً د کوکنارو له تولید د وتلو یوازېنۍ لاره ګڼل شوې وه.. دا دریېمه او څلورمه کټګورۍ کروندګر د دې راپور د تعریف له مخې تر ډېره بریده هغه کسان دي، چې په لېرې پرتو غرنیو سیمو او زیاتره جګړه ځپلو او کمو زېربناوو لرونکو پولې ته څېرمه پرتو سیمو کې اوسېږي.

په ټوله کې په دې راپور کې اصلي بحث د کرنیز انقلاب پر کلاسیک موډل راڅرخي. په دې موډل کې د بازار له مخې د کرنې تحرک بدلون مومي، اقتصادي وده د دې لامل ګرځي څو له کلیوالي سکتور څخه کوچني او حاشیوي سوداګر راووځي. دا چې په افغانستان کې د دې ډول موډل پلې کول امکان لري او که نه، د پوښتنې وړ موضوع ده، [42] خو دا موډل د یادې څېړنې او د کاړه –اېف پروګرام دغه راز د نړیوال بانک له لوري کرنیز سکتور ته د کتنې راپور اساسي فرضیه ده، چې لاندې مو اشاره ورته کړې ده.

۳۹ .Ibid.

۴۰ .Ibid., iv

۴۱ .Ibid.

۴۲ .A. Pain, Growing out of Poverty? Questioning Agricultural Policy in Afghanistan, (Kabul: Afghanistan Analysts Network, ۲۰۱۹).

د یادونې ده، چې افغانستان له ډېر وخت راهیسې د بازار اقتصاد او د جلغوزې، وچې او تازه مېوې او قره قل پوستکي په څېر د لومړنیو تولیداتو د صادرولو مخینه لري. د کوکنارو د کښت پراختیا په تېره بیا په ۲۰۰۱ز کال کې د قیمتونو له لوړېدو وروسته په څرګند ډول د بازار له مخې غبرګون دی. په دې توګه، د افغانستان کروندګرو له ډېر وخت راهیسې له هغو فرصتونو ګټه پورته کړې، چې د توکو بازارونه یې په لاس ورکوي. د کروندګرو لپاره د تریاکو بازار ګټې د وارډ په راپور کې په ډېر ښه ډول بیان شوي.[۴۳] دا راپور تاییدوي، چې کوکنار د شراکت له لارې ځمکې او امتیازاتو دواړو ته لاسرسی ممکنوي، او دا دواړه د بوختیا عمده سرچینې دي:

> *کوکنار په لوړ خطر لرونکي چاپېریال کې کم خطر لرونکی محصول دی. دا محصول د کروندګرو لپاره نسبتاً زیات عواید لري، خو د کروندګرو ورجلبولو عمده انګېزه په دې واقعیت کې نغښتې، چې د کوکنارو بازار له محدودو زېربناوو په برخمنو لېرې پرتو او ناامنو سیمو کې ښه کار کوي. سوداګر مخکې له مخکې کروندګرو ته نغدې پیسې ورکوي او له کروندې سره جوخت تریاک ترې اخلي. دا سوداګر د لېږدولو لګښتونه پرخپله غاړه اخلي، د پاټکونو او تلاشۍ پر ځایونو مسوولو کسانو ته بډې ورکوي، او په ناامنو سیمو کې د سفر کولو فزیکي خطر ته غاړه ږدي. د نورو محصولاتو کروندګر په افغانستان کې دا ډول د خپل زړه بازار ته لاسرسی نه لري.*[۴۴]

د بېوزلو خلکو لپاره د کوکنارو اړوند ګټې بیا د دې څېړنې له مخې د پورته یادو شویو ځلورو ګټګوریو له کروندګرو سره تړل شوې دي او پر کوکنارو د هرې کټګورۍ نسبي تکیه په کې راسپړل شوې. د دې راپور پر بنسټ پر کوکنارو تکیه د یوې اړتیا له مخې ده، له دې کبله کروندګر د مجبوریت له مخې د کوکنارو بازار ته مخه کوي. دا خبره ډېره سمه ده، چې کوکنار د زیاترو کوچنیو کروندګرو یو انتخابي محصول دی، ځکه دا محصول دوی ته داسې مالي او نورې بدلې ورکوي، چې نور محصولات یې د ورکړې جوګه نه دي. له دې کبله هغه کوچني کروندګر چې کوکنار کري د لوړ قیمت، مثمریت او رقابت له کبله نه بلکې د مجبوریت له وجې ورته مخه کوي.[۴۵]

د کوکنارو کروندګر د قیمتونو په مقابل کې حساس دي، ځکه د کوکنارو کرکیلې ته د دوی له میلان دا جوتیږي. په همدې ډول، کله چې قیمتونه راټیټیږي، نو کروندګر هم د کوکنارو کرکیلې د زیاتوالي یا پراخوالي پرځای له کښت لاس په سر کېږي ترڅنګ یې په دې لاس په سر کېدو کې د ګواښونو یا هم کروندو اړولو له کبله بازار ته متوجه ګواښونه هم رول لري. دا کار له بازار په شاتګ کې ډېر ښه تر سترګو کېدای شي. کله چې د کورنیو د تأمین اړتیاوې له ګواښ سره مخ کېږي، لکه زیاتره وخت چې همداسې کېږي؛ او کله چې د کوکنارو کرکیله د دې جوګه نه وي، څو یادې اړتیاوې پوره کړي، نو د کارګرانو کډوالي یا هم د کوچنیو سوداګریو پیل کول یې په وړاندې معمول ځواب وي. له دې کبله، په یو ترتیب د کوکنارو کروندګرو منزوې ژوند دوی دې ته اړ کوي، چې په دې کرکیله کې ښکېل شي. ځکه ډېر کم شمېر کروندګر کولای شي، چې یوازې له ځمکو خپلې اړتیاوې پوره کړي. په دې توګه د کوکنارو په بازار کې د ښکېلتیا او د افغانستان په نارسمي اقتصاد کې د بقاء اړتیا ترمنځ یو احتیاطي تعادل رامنځ ته کېږي.[۴۶] دا کار د بازار منطق او ژوندانه اړتیا ترمنځ بې خونده غاړه غړۍ کېدو ته اشاره کوي، لکه څه ډول چې ریګ په دې اړه وایي: کروندګر په ورته وخت کې له بازار خبرېدو او د خپلو اړتیاوو پوره کولو ته لېوالتیا لري.[۴۷]

وارډ او همکاران یې،[۴۸] هغه رول ته په پام چې کوکنار یې پورونو ته په لاسرسي کې لوبوي، استدلال کوي چې رسمي مالي خدمتونو ته لاسرسی کولای شي د تشبثاتو په غوړېدا کې تکمیلوونکی رول ولوبوي. خو څرنګه چې وروسته به یې ولولو، دې کار یعنې د پور ورکولو ته د کارډ- ایف پروګرام په اډانه کې پام نه دی شوی. په همدې ترتیب، د کوکنارو د کرکیلې په څېر د کارډ –ایف پروګرام د توکو په ځنځیرونو کې کروندګرو ته دا خبره جوته شوه چې دوی له سوداګرو سره په هماغه ډول د پور په اړیکه کې دي او پر قیمتونو یې هم اغېزې د کوکنارو په څېر دي.

۴۳ . Ward, et al. "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives."

۴۴ . Ibid., ۳.

۴۵ . E.M. Wood, "Peasants and the Market Imperative: The Origins of Capitalism," In Peasants and Globalization: Political Economy, Rural Transformation and the Agrarian Question, edited by A.H. Akram-Lodhi and C. Kay, (London: Routledge, ۲۰۱۰).

۴٦ . T. Murray Li, Land's End: Capitalist Relations on an Indigenous Frontier, (Durham and London: Duke University Press, ۲۰۱۴).

۴۷ . J. Rigg, Rural Development in Southeast Asia: Dispossession, Accumulation and Persistence, Cambridge Elements, (Cambridge: Cambridge University Press, ۲۰۲۱), ۳۰.

۴۸ . Ward, et al. "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives."

د نړيوال بانک په پورته ياد شوي راپور کې د کوکنارو په بازار يا هم د وړانديز شويو قانوني توکو په ارزښتيز ځنځير کې د قيمتونو د ټاکل کېدو پروسو په اړه کومه يادونه نه ده شوې. داسې ښکاري، چې په راپور کې د دې موضوع له يادونې د صرف نظر له مخې انګېرنه دا وه، چې قانوني او پر بازار متکي کرنيز اقتصاد به پر ازاد رقابت ولاړ وي او قيمتونه به هم د عرضې او تقاضا ترمنځ د توازن پرانېستې شفافيت پر اساس ټاکل کېږي. د قيمتونو ټاکل کېدو په اړه له هر ډول يادونې مخ اړول د پام وړ دي او په هېواد کې د قانوني بازارونو د سياستونو په اړه مخکنۍ څېړنه له پامه غورځوي.[۴۹] دا يوازې يوه فرضيه ده، چې د کارډ – ايف پروګرام په طرحه کې ترې يادونه شوې، په داسې حال کې چې دا فرضيه سمه نه ده.

د کارډ – ايف پروګرام دويم پړاو پروپوزل يا وړانديز[۵۰] په ښکاره توګه د نړيوال بانک کرنيز سکتور کتنې له مخې د کرنيزې سوداګرۍ لپاره خپله توجيه لټوي.[۵۱] د کارډ - ايف پروګرام دويم پړاو په څېر د نړيوال بانک له لوري کرنيز سکتور ته د کتنې لپاره کوکنار هم اصلي موضوع نه ده، بلکې د يوې ستونزې په توګه ترې يادونه شوې: "د کوکنارو کښت د قانوني محصولاتو لپاره د رقابت اقتصادي انګېزې کم رنګه کوي، د دولت مشروعيت او قانون حاکميت کمزوری کوي، ګڼ شمېر مفسد او د حکومت ضد عناصر خړوبوي او افغانستان له نړيوالو نيوکو سره مخ کوي."[52] په همدې ډول تر کومې اندازې چې د کرنيز سکتور په کتنه کې د دې موضوع يادونه شوې، د يوې مهمې ننګونې په توګه نه، بلکې د يو خطر په توګه يې يادونه شوې، چې بايد مديريت شي.

کرنيز سکتور ته د کتنې په ليدلوري کې "د کرنې لپاره په لوړه کچه د کروندې ځمکو له برابرولو، په کليوالي سيمو کې د عوايدو ترلاسه کولو غير کرنيزو فعاليتونو ته لاسرسي، ښارونو ته د کليوالي کورنيو د غړو کډوالۍ او مزد لرونکو بوختياوو "څخه د ښېرازۍ لارې په توګه يادونه شوې.[۵۳] د پورته ياد شوي انتقال لپاره له لاندې اقداماتو يادونه شوې: په ځيرک اقليمي زراعت کې د پانګونې، کرنيزې سوداګرۍ د پرمختګ او کرنيزې سوداګرۍ په ارزښتيز ځنځير کې د کوچنيو سوداګرو د ادغام له لارې د توليد د خطر مديريت ته پاملرنه کول."[۵۴] که څه هم دولت ته د مشرتابه رول لوبونکي په سترګه کتل کېږي، چې د پرمختيا هڅونې لپاره بايد د ستراتيژۍ په همغږۍ کولو کې خپل رول اداء کړي، خو تمه دا ده چې بايد له خصوصي سکتور او نادولتي مؤسساتو سره په ګډه د بازار له مخې حل لارو پيدا کولو لپاره کار وکړي. د کرنيز سکتور د کتنې تحليلي تګلارې يوازې تر توليد ، قيمت او ارزښتيز ځنځير سره تړلې موثريت؛ مثمريت، بالقوه تغييراتو تر اټکل، ودې او دندو رامنځ ته کولو پورې محدودې وې. په ټوله کې د وارډ له راپور سره يو ځای د دې راپور تمرکز پر لوړ ظرفيت لرونکو سيمو يا په اصطلاح لومړني حرکت تګلارې باندې دی. دا په اصل کې په دې انګېرنه تمرکز و ، چې دندې زياتې شي او حق الزحمې لوړې شي، خو په دې برخه کې پر حاشيوي سيمو تمرکز نه دی شوی، چې دې موضوع ته موږ په پايله کې راګرځو.

د کرنيز سکتور په کتنه کې هغو شرايطو ته کمه پاملرنه شوې، د کومو په ترڅ کې چې پخواني زرغون انقلابونه رامنځ ته شوي، لکه په ۱۹۲۰مه او ۱۹۷۰مه لسيزه کې په هندوستان کې، چېرته چې دولت د بازار خطرونو په وړاندې کوچنيو مالکينو ته د ملاتړ په برابرولو کې مهم رول اداء کړ. په ياد هېواد کې د دولت په ملاتړ ملي بازارونه تر ډېره له نړيوال رقابت خوندي ساتل شوي وو.[۵۵] پردې سربېره، په ياد وخت کې د هندوستان مخ پرودې دولت او اوسني کمزوري، جګړه ځپلي او پر مرستو متکي افغانستان ترمنځ توپيرونو ته په پام دا په دې معنا نه ده، چې ياد موډل د انتقال يا تقليد لپاره وړانديز شي. خو مهم پند دا ترې اخېستل کېدای شي، چې د توکو بازارونه د کوچنيو مالکينو په وړاندې د خطر سرچينه ده او له افغانستان هم په دې اړه شواهد ترلاسه شوي، چې دا خطر په يادو بازارونو کې د کوچنيو کروندګرو د ښکېل کېدو په وړاندې د محدوديت عمده لامل دی.[۵۶] د کرنيز سکتور په کتنه کې د کرنيز بدلون لومړنيو پړاوونو لپاره ړومبي شرايط هم له پامه غورځول شوي، کوم چې په زېربناوو کې پانګونه او د عرضې د زياتوالي لپاره د ښاري سيمو د تقاضا لوړول اساسي شرط دی. دا هغه شرايط دي، چې په افغانستان کې نه دي رامنځ ته شوي.

۴۹. S. Lister and A. Pain, “Trading in Power: The Politics of ‘Free’ Markets in Afghanistan,” Briefing Paper, (Kabul: AREU, ۲۰۰۴).

۵۰. DFID, “Business Case and Summary CARD-F phase ۲, March ۲۰۱۵,” (Kabul: DFID, ۲۰۱۵).

۵۱. نړیوال بانک، د افغانستان اسلامي جمهوريت کرنيز سکتور ته کتنه.

۵۲. مخکنی، ۴۱.

۵۳. مخکنی، ۱.

۵۴. مخکنی.

۵۵. A. Dorward, J. Kydd., J. Morrison, and I. Urey, “A Policy Agenda for Pro-Poor Agricultural Growth,” World Development ۳۲, no. ۱ (۲۰۰۴): ۷۳-۸۹.

۵۶. P. Kantor, and A. Pain, “Running Out of Options: Tracing Rural Afghan Livelihoods,” Synthesis Paper, (Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, ۲۰۱۱).

د خصوصي سکتور په اړه د کرنيز سکتور کتنې له فرضيو هم داسې ښکاري، چې تېروتنه شوې. څرنګه چې د افغانستان کرنيز سکتور ته له کتنې معلومېږي، د افغانستان بازارونه د نارسمي، رسمي، قانوني او پر مرستو متکي بازارونه له اختلاط ډک دي، او "د اوږدمهاله جګړې له کبله د توليد ټکني کېدل، د دولت کم ظرفيت، بهرنۍ لاسوهنې او پر بهرنيو مرستو اتکاء... له وجې په اوسني وضعيت کې د افغانستان خصوصي سکتور د اقتصادي ودې ماشين يا ټولنيزې غوړېدا هغه وسيله نه ده، چې بايد وي." [57]

د موضوعي څېړنې په توګه د کارډ- ايف پروګرام انتخاب تر ډېره بريده د همدې پروژې محوره تګلارې او د حکومت له لارې د کار کولو له کبله دی، که څه هم په دې پروګرام کې له نشه يي توکو سره د مبارزې انګېزې په دويم پړاو کې راکمې شوي، او دا هغه بدلون دی، چې په دې راپور کې راسپړل کېږي. پردې سربېره، دا پروژه د بازارونو پر پرمختيا تمرکز کوي او قانوني بازارونو ته د لاسرسي په اړه د هغو وړاندې شويو فرضيو په تړاو ليدلوري وړاندې کوي، چې د نشه يي توکو له کښت د کروندګرو له راګرځولو يو اړين شرط دی. ښايي استدلال وشي، چې د هلمند خوړو زون پروژه د بديل پرمختيا پروګرام له ارمان يا مطلوب حالت سره نېږدې وه، ځکه انګېزې يې له دې پروګرام سره يو ډول وې( لکه د محصولاتو ځای ناستي لپاره د وسايلو برابرول، د بېلګې په توګه د کوکنارو په بدل کې غنم کرل) او اجبار (ګواښل او په واقعي ډول د کروندو اړول)، خو د هلمند خوړو زون پروژې اجرائيوي موډلونه او له حکومتي ادارو د وسيلې په توګه ګټه اخېستل دا په ګوته کوي، چې په دې پروژه کې د نړيوالو همکارانو له لوري د پرمختيا انګېزې له امنيتي موضوعاتو سره يو ځای شوي دي.[58] دا کارونه ياده پروژه تر يوه بريده په غيرمعمول بديل پرمختيايي پروګرام اړوي.

٥٧ . R. Ghiasy, J. Zhou, and H. Hallgren, Afghanistan's Private Sector: Status and Ways Forward, (Stockholm: SIPRI, ٢٠١٥).

٥٨ . Mansfield, "The Helmand Food Zone: The Illusion of Success."

# د څېړنې میتودونه

## ساحوي کار

د دې راپور لپاره په درېیو ولایتونو : کابل ښار(د پروژې له مهمو چارواکو سره د مرکو لپاره) ، او بدخشان (خاش ولسوالۍ) او ننګرهار (بهسود او کامې ولسوالیو) کې د ساحوي ارزونو لپاره ساحوي کار ترسره شوی. د کرنیزې ودې او بدیلې پرمختیا پروژې د پروګرام په دواړو پړاوونو کې په بدخشان او ننګرهار ولایتونو کې پلې شوې دي. دا دواړه ولایتونه د برېتانیا نړیوالو ننګونو څېړنیزې پروژې تر څېړنې لاندې و او د پرمختیایي مرستو د ارزونې لپاره د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په نقشه کې هم شامل وو.

بدخشان په تېره بیا خاش ولسوالۍ د کوکنارو د کښت اوږده مخینه لرله، او په یاده ولسوالۍ کې د کارډ –اېف تر چتر لاندې د کچالو پروژې له پلې کېدو سره سره د کوکنارو کرکیله بیا هم په بشپړ ډول له منځه نه ده تللې. برعکس، د ننګرهار په کامه او بهسودو ولسوالیو کې د کوکنارو کرکیله یوازې د لنډمهال لپاره له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۷ ز کال پورې هغه وخت مروجه شوه، چې د تریاکو قیمتونه اوج ته ورسېدل. پردې سربېره، د کارډ - اېف پروګرام تر چتر لاندې د شنې خونو او د چرګانو د روزنې فارمونو پروژې، چې د کارډ - اېف پروګرام ټولې بودجې شاوخوا (۷۵) سلنه ورته ځانګړې شوې وه، هم په دې دوو ولسوالیو کې پلې شوې دي.

## سرچینې

د دې راپور لپاره د کارډ - اېف مهمو اسنادو، له نشه یي توکو سره د مبارزې ملي ستراتیژیو، د بدیل معیشت ستراتیژیو او د افغانستان د څېړنې او ارزونې له لوري په دې برخه کې مخکېنیو څېړنو ته ژوره کتنه شوې ده. له همدې کتنې په ګټې اخېستنې د کارډ –اېف د کارکوونکو، اجرائیوي همکارانو، ولایتي حکومتي چارواکو، خصوصي پانګهوالو او د کلیو او ولسوالیو په کچه مستقیمو او نامستقیمو برخه والو په ګډون د هرې ډلې ذیدخل اړخونو لپاره جلا جلا پوښتنې طرحه شوې. د څېړنې ګډونوالو کټګوري شوی لېست د دوی له سیمو او مقامونو سره یو ځای په الف مل لیک کې وړاندې شوی.

د کارډ - اېف پروګرام شالید، د طرحه کېدو لارو چارو، په دویم پړاو کې د د دې پروګرام د مقاصدو بدلون، په بېلا بېلو پړاوونو کې د پروګرام اداره کولو او مدیریت، د بېلا بېلو همکارانو او وزارتونو د رول او ګټو، د پروګرام منځپانګې او پلې کولو څرنګوالي په اړه د دې پروګرام له کارکوونکو او اجرائیوي همکارانو مهمې پوښتنې پوښتل شوې دي. دا پوښتنې په داسې بڼه طرحه شوې وې، چې نه یوازې د پروګرام رسمي تخنیکي اړخونو پرې راوسپړل شي، بلکې پرمټ یې هغه بېلا بېل نظریات او کیسې هم راټولې شي، چې اجرائیوي همکارانو او مهمو چارواکو د دې پروګرام په اړه لرلې.

د کلي په کچه د مهمو پوښتنو پر مټ تر پروژې د مخه او وروسته د ولسوالۍ اقتصاد په اړه خلک پوښتل شوي. ترڅنګ یې د خلکو په ژوند او ځایي بازارونو کې د مثبت بدلون راوړلو یا نه راوړلو کې د کارډ –اېف پروګرام اقتصادي پرمختیا پروژو رول ته کتنه شوې. د دې پروګرام اقتصادي پرمختیا پروژو لپاره د بېلا بېلو خلکو د انتخاب یا نه انتخاب څرنګوالي په اړه د اړوند خلکو کیسې راټولې شوي، د سبزیجاتو او چرګانو بازارونو وضعیت له نېږدې کتل شوی، او د وخت په اوږدو کې پر ځایي بازارونو د پولې دواړو غاړو ته د سوداګرۍ اغېزو په اړه هم له خلکو مهمې پوښتنې پوښتل شوې. له دې پوښتنو موخه دا وه، څو د هغو روایتونو او کیسو تر شا خبرو ته وکتل شي، چې د دې پروګرام چارواکو په رسمي ډول بیان کړي وو. د دې ترڅنګ یې بله موخه دا هم وه، چې د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام په څېر په لوړه کچه تخنیکي پروګرام د قدرت اړیکو او ملاتړ شبکو څخه په ډکه پېچلې منځپانګه کې څه ډول عملي شوی دی.

د څېړنې ګډونوال د غځېدلې شبکې له تګلارې په ګټې اخېستنې ټاکل شوي. معنا دا چې له کابل څخه د راټولو شویو ټلیفوني شمېرو او معلوماتو څخه ولایتونو ته د ورتګ لارې په توګه ګټه اخېستل شوې. د ولایت، ولسوالۍ او کلي په کچه هم بېلا بېل ګډونوال د همدې غځېدلې شبکې له تګلارې په ګټې اخېستنې انتخاب شوي دي. پردې سربېره، ارقام او اطلاعات د ولایتي او ځایي بازارونو له مستقیمې مشاهدې، دغه راز له مستقیمو او نامستقیمو ګټه اخېستونکو سره د مرکو او خبرو اترو له لارې راټول شوي دي.

د اطلاعاتو د کیفیت معلومول د څېړنې او اطلاعاتو راټولولو پروسې په موده کې ترسره شوي. مرکې او اطلاعات په داخل کې کنټل شوي او نظرونه پرې ورکول شوي. پردې سربېره، له ساحوي څېړونکو سره په ورځنۍ ډول لنډې غور کوونکې ناستې شوي څو لومړنې انعکاسونه او موندنې راټولې کړي، څېړونکې ډلې ته ورځ په ورځ لا ډېرې لارښوونې او پوښتنې ورکول شوي چې له دوی سره د ساحوي کار پرمهال د ژورو معلوماتو په راټولولو کې مرسته وکړي. تحلیلونه او راپور لیکل د ګډ کار په ترڅ کې ترسره شوي او په دې اړه د ټیم غړو ترمنځ پرله پسې ناستې او بحثونه شوي، چې هر یو یې د اصلي لیکوال په ملاتړ او مشرۍ د راپور یوې ځانګړې برخې د لیکلو مسوولیت اخېستی و.

## اخلاقي موضوعات

څېړونکی ټیم د څېړنې پرمهال د پام وړ اخلاقي موضوعاتو سره مخ شوی. د ساحوي کار پرمهال او ورپسې د طالبانو تر حاکمېدو وروسته یو اړخ امنیت و. د اطلاعاتو راټولولو او پروسس پروخت د اطلاعاتو خوندیتوب او د باخبره اشخاصو د هویت محرمیت تر ټولو ستر لومړیتوب و. تر کومه بریده چې ممکنه وه، ټیم له دې ځان ډاډمن کړی چې د نورو کلیوالو او بانفوذه کسانو له خوا د څېړنې ګډونوالو ته د مرکې کولو له کبله کوم مستقیم امنیتي ګواښ متوجه نه شي. د مرکو د یادښت کولو لپاره د ساحوي څېړونکو له لوري یوازې قلم او کاغذ کارول شوي او د ګډونوالو د هویت جزئیات هم بې نومه وو. د څېړنې په ټوله دوره کې اطلاعاتو ته یوازې د ټیم غړو لاسرسی درلود او د پروژې لپاره د اطلاعاتو په ګلاسکبز سافټویر بانک کې بې نومه ذخیره شوي.

په کابل او بدخشان ولایتونو کې اطلاعات په ۲۰۲۰ز کال کې راټول شوي، خو په ننګرهار کې یې بیا د درېیو ساحوي پړاوونو په ترڅ کې د ۲۰۲۱ز کال تر جون میاشتې وخت نیولی. په ټوله کې په ملي او ولایتي کچه له حکومتي چارواکو، د پروژې له کارکوونکو، اجرائیوي سازمانونو استازو، خصوصي پانګه والو او په ځایي کچه له پروژې د مستقیمو او نامستقیمو ګټو اخېستونکو سره **۵۵** نیمه جوړښتي مرکې او درې ډله ییز بحثونه شوي دي. پردې سربېره، څېړونکې ډلې د ساحوي کار پرمهال مستقیماً د ځایي بازارونو له فعالیت لیدنه کړې او خپلې کتنې او تحلیلونه یې په جزئیاتو سره یادښت کړې دي.

## مهمې ننګونې او محدودیتونه

تر ټولو مهمه ننګونه چې څېړونکې ډله د څېړنې په بېلا بېلو پړاوونو کې ورسره مخ وه، د پروژې مهمو اسنادو ته د لاسرسي محدودیت و، څو پوه شو چې دا پروژه څه ډول طرحه شوې، عملي شوې او څارنه یې شوې ده. کله مو چې په ۲۰۲۱ز کال کې پلټنه وکړه، د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې د پروژو اسنادو ته لاسرسی ډېر محدود و، ځکه د پروژې لومړي پړاو طرحه کېدو او د دویم پړاو ارزونې په اړه مهم راپورونه تر یاد مهاله د پروژې په خوندیځ(آرشیف) وېبپاڼه کې نه و خپاره شوي. د ۲۰۲۱ز کال په اګست میاشت کې، چې دا راپور لیکل کېده، یاد خوندیځ هم غیرفعال شوی و. دا سې لیدل کېږي، چې د خوندیځ لېرې کول د ۲۰۲۱ز کال په اګست کې پر افغانستان د طالبانو حاکمیت په وړاندې د برېتانیا حکومت غبرګون و او دا کار په دې موخه شوی، څو ډاډ ترلاسه شي چې په دې اسنادو کې هېڅ افغان چارواکی ونه پېژندل شي.

د دې راپورونو غوښتنه مو وکړه، خو ترلاسه مو نه کړل. دا هم ثابته خبره ده، چې دا ډېر ستونزمن کار دی څو د اداري ریکارډ له مخې د برېتاینا نړیوالې پرمختیایي ادارې چارواکي وپېژندل شي، ځکه په پلازمېنه کابل کې د برېتانیا په سفارت کې د یادې ادارې کارکوونکې په چټکې بدلېدل رابدلېدل. که څه هم د پروژې افغان چارواکو له ډلې له زیاترو سره یې د مرکې کولو امکان و، خو ټولو یې پر پروژه خبرو کولو ته لېوالیتا نه لرله. د ساحوي کار پرمهال او د ۲۰۲۱ز کال په اګست کې د حکومت په بدلون سره امنیت هم یوه مهمه ننګونه وه، ترڅنګ یې د څېړنیزې ډلې تیت او پرک کېدل هم د اطلاعاتو په پروسس، تحلیل او راپور لیکلو کې خنډ او ځنډ رامنځ ته کړ.

د پروژې له اداري کور یعنې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت څخه هم کوم عام خپاره شوي او د لاسرسي وړ خوندي یادښتونه ان په ۲۰۲۱ز کال کې نه و، خو ګڼ شمېر اسناد (د هغو له ډلې د موضوعي څېړنې د بریا کیسې) د یاد وزارت له وېبپاڼې او نورو سرچینو راټول شوي دي.

# د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروژه (CARD-F)

دا برخه د رسمي اسنادو او د کارډ – ایف پروژې لپاره د افغان حکومت له تېرو مسوولو چارواکو سره د مرکو له مخې لیکل شوې. په دې برخه کې لومړی یاده شوې پروژه په لنډ ډول تشریح کېږي بیا د دې پروژې موخو، منځپانګې، اداري جوړښت، پراوونو او د پلې کېدو ځایونو، بالاخره د څارنې او کتنې پروسو ته کتنه کېږي. وروسته د دې پروژې اداري جوړښت، د لومړي پړاو پرمهال د مقاصدو د بدلون دلایل، د پروژې د بدلون نظریه او مهمې ښکاره او ضمني فرضیې په لا ډېرو جزئیاتو راسپړل کېږي. ترڅنګ یې د پروژې څارنې او ارزونې ته هم کتنه کېږي او په وروستیو کې له دې ارزونې ترلاسه شوي پایلې په ډاګه کېږي.

## د کارډ - ایف پروژې لنډه تشریح

څرنګه چې مخکې اشاره وشوه، انګېرنه دا ده چې د نړیوال بانک او برېتانیا شاهي حکومت نړیوالې پرمختیایي ادارې[59] له لوري ګډ څېړنیز راپور د کارډ - ایف پروژې د لومړي پړاو (۲۰۰۹ تر ۲۰۱۴) د طرحه کولو بنسټ کېښود، چې د برېتانیا شاهي حکومت نړیوالې پرمختیایي اداري له لوري دا پړاو د ۲۲.۸ میلیونو یورو په ارزښت تمویل شو. د دې پروژې دویم پړاو، چې هغه وخت پروژې له نشه یي توکو سره د مبارزې له منځپانګې واټن پیدا کړی و، د برېتانیا حکومت له لوري د ۳۰ میلیونو یورو او د ډنمارک حکومت له لوري د ۲۱ میلیونو یورو په ارزښت تمویل شو. په دویم پړاو کې د برېتانیا شاهي حکومت نړیوالې پرمختیایي ادارې په بودجه کې ۴ میلیونه یورو د اقتصادي پرمختیا پروژو خپلواکې څارنې او اغېزو ارزونې ته ځانګړي شوي وو.

په لومړي پړاو کې دا پروژه د برېتانیا شاهي حکومت نړیوالې پرمختیایي ادارې له لوري ډیزاین شوې وه، څو د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ دغه راز د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارتونو په هغو سیمو کې د کروندګرو لپاره د اقتصادي فرصتونو په ګوته کولو او پلې کولو مشرتابه رول درلود، چې کوکنار په کې کرل کېدل مګر او سمهال یې لاس ترې اخیستی و.[60] په دې معنا، چې دا پروژه د دې لپاره ډیزاین شوې وه څو د کوکنارو کرکیلې ته د کروندګرو له بېرته ورګرځېدو د مخنیوي په موخه اقتصادي بدیلونه راوپنځوي. په دې پړاو کې لکه څرنګه چې وروسته به معلومه شي، له هغو سیمو سره توپیري چلند شوی چې د بدیل محصولاتو لپاره فرصتونه په کې ډېر زیات وو. د دې پړاو موخه دا وه، چې په کلیوالي سیمو کې د لاندې درېیو محورونو له لارې قانوني عواید وغوړوي او د کوکنارو کرکیله راکمه کړي: (۱) د افغانستان کرنیز سکتور له سوداګریز کولو د ملاتړ په موخه د ملي سیستمونو پیاوړي کول، (۲) په ځایي کچه د عوایدو او دندو غوړېدا لپاره په ځانګړو محصولاتو کې د اقتصادي پرمختیا پروژو عملي کول، او (۳) د ارزښتیز ځنځیر له تګلارې په ګټې اخیستنې د کرنیز تولید، پروسس او بازارموندنې ترمنځ د اړیکې په پیاوړتیا کې د اقتصادي پرمختیا پروژو ملاتړ کول. په دې توګه د پروژې دا پړاو د دې لپاره ډیزاین شوی و، څو هغو شرایطو ته لاسرسی وشي، چې د کوکنارو د کښت لپاره د زمینه مساعدوونکو شرایطو په برخه کې د المان نړیوالې پرمختیایي ادارې(GIZ) له لوري په ګوته شوي وو.

> *د نشه یي توکو اقتصاد ځکه غوړېږي، چې یو شمېر عوامل لکه بېوزلي، جګړه، کمزوري سیاسي او عدلي شرایط، د عامه ادارو او کنټرول لارو چارو نشتوالی، د نشه یي توکو د قاچاق لپاره غوره تأسیس شوې شبکې، او د زېربناوو کمښت دغه راز قانوني بازارونو ته کم لاسرسی ورته لاره هواروي، نو کروندګر د نشه یي توکو محصولاتو کرلو ته اړ کېږي.*[61]

د پورته شرایطو برابرول د اقتصادي پرمختیا پروژې په لومړي پړاو کې د ولسوالیو په کچه او پر بازار متکي پلانونو کې چې موخه یې د تولید مهمو خنډونو له منځه وړل و، تر سترګو شوي. په دې پروژو کې لومړی د باکیفیته وسایلو ورکړه شامله وه. په

۵۹. Ward, et al. "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives."

۶۰. D. Mansfield, "Trying to Be All Things to All People: Alternative Development in Afghanistan," International Development Policy (۲۰۲۰): https://doi.org/۱۰,۴۰۰۰/poldev.۳۷۵۱

۶۱. GIZ, Rethinking the Approach of Alternative Development: Principles and Standards of Rural Development in Drug Producing Areas, (Berlin: GIZ, ۲۰۱۳): ۵.

لومړیو کې پنځه ډوله اقتصادي پروژې د دریېو ولایتونو د هغو له ډلې دوې د بدخشان، دوې د ننګرهار او یوه د بلخ لپاره په پام کې نیول شوې وې. په دې پروژو کې د چرګانو له روزنې نیولې بیا تر مچیو ساتنې او لوړ ارزښت لرونکو کروندو او شنو خونو (پیازو، کچالو، بنجانو او بادرنګو) پورې فعالیتونه شامل وو. د دې پروژې په لومړیو کې یوازې د ارزښتیز ځنځیر په اوږدو کې د حاصل تر راټولولو پورې پړاوونه په پام کې نیول شوي وو، خو د وخت په تېرېدو او په دویم پړاو کې د ارزښتیز ځنځیر په اوږدو کې د حاصلاتو پلورلو، پروسس او بازارموندنې ته هم ډېره پاملرنه وشوه. د اقتصادي پرمختیا په پروژو کې کروندګرو ته روزنه ورکول، د وسایلو برابرول، د ټولنو له جوړولو ملاتړ؛ د سربندونو، کانالونو او سرکونو لپاره زېربنایي پروژې او تخنیکي مرستې هم شاملې وې.

په دویم پړاو کې د پروژې هڅه د اقتصادي پرمختیا موډل د رامنځ ته کولو پر مټ د لوړ ارزښت لرونکو کرنیزو توکو د تولید زیاتوالی، د کروندګرو او پروسس کوونکو لپاره د قانوني عوایدو زیاتول او له اقتصادي ودې سره مرسته کول وو. په دې پړاو کې دا پروژه تر ۱۴ ولایتونو وغځېده، چې زیاترو ولایتونو یې د کوکنارو د کښت مخینه هم نه لرله. دا کار پر سوداګریزې کرنې د تمرکز لور ته د پروژې بدلون په ګوته کوي. څرنګه چې د دې پروژې دویم پړاو لپاره له سوداګریز موډل معلومه شوه،[۶۲] په دې پړاو کې ټول تمرکز پر کروندګرو او متشبثینو وو، خو په دې کار سره کرنیز مثمریت او وده پیاوړې شي. په دې پړاو کې مستقیما بېوزله کلیوالي کورنۍ د مستقیمو ګټه اخیستونکو په توګه په پام کې نه وې نیول شوې. انګېرنه دا وه، چې بېوزلي په نامستقیم ډول د بوختیاوو زیاتوالي او بېوزله کلیوالي وګړو د عوایدو لوړولو له لارې راکمېدلای شي.

د دې پروژې یوه بېلوونکې ځانګړنه د اداري او اجرائیوي جوړښت پېچلې لارې چارې او د پروژې منحصر والی و. د پروژې مدیریت لپاره یوه خپلواکه کاري ډله رامنځ ته شوې وه او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت تر چتر لاندې له بودجې د باندې واحد په توګه راوړل شوه، چې مستقیماً د بریتانیا شاهي حکومت نړیوالې پرمختیایي ادارې له لوري تمویل کېده. د یادې ډلې پر کارونو د بریتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې په حضور کې له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت، کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت او مالیې وزارت له لوري د ګډې بین الوزاراتي کمېټې له لوري څارنه کېده. د پروژې د مدیریت دفتر دا دنده وه، چې وړاندیزونه ترتیب او بین الوزاراتي کمېټې ته یې وړاندې کړي، تر منظورۍ وروسته یې بیا له خپلواکو اجرائیوي همکارانو سره چې زیاتره یې نادولتي سازمانونه وو، د پلې کولو قرارداد وشي. پردې سربېره، د پروژې مدیریت واحد په دویم پړاو کې ځنې شمېر پرمختیایي اقتصادي پروژې مستقیماً خپله پلې کړې دي.

## اداري جوړښتونه او د عملي کېدو لارې چارې

څرنګه چې پورته اشاره وشوه، د پروژې په طرحه کې مهمه خبره دا وه چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ په وزارت کې یو خپلواک پروژوي واحد رامنځ ته شي، چې کارکوونکي یې تخنیکي افغان ماهرین وي او له حکومتي بودجوي چینل د باندې یې بودجه برابره شي. یاد بودجوي واحد مستقیماً له اجرائیوي همکارانو سره قراردادونه کول، نو په دې منځ کې د ولایت او ولسوالۍ په کچه حکومتي جوړښتونه له پامه غورځول شوي وو. د دې واحد کارونه د یوې تخنیکي کمېټې له لوري چې د همکارو ادارو مرستیال وزیرانو یې په سر کې ځای درلود، رهبري کېدل. یادې تخنیکي کمېټې بیا په خپل وار سره د پروژې بین الوزاراتي کمېټې تر چتر لاندې کارونه پرمخ وړل، چې مهمې پرېکړې او د بودجې وړاندیزونو منظوري به په دې کمېټه کې کېدلې.

د بریتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې لپاره د یو خپلواک بودجوي واحد د موجودیت منطق دا و، چې مستقیماً یې تمویل کولای شو. په دې اړه یو چارواکي ویلي:

> *تمویلوونکي مورته وویل، چې له بودجې د باندې واحد له لارې زموږ پروژې په اسانۍ او چټکۍ عملي کېدلای شي. د حکومت تدارکاتي پروسیجرونه وخت نیسي او زموږ د پروژو عملي کول له خنډ او ځنډ سره مخ کوي. له بودجې د باندې واحد په لرلو سره موږ د بودجې په لګولو کې ازاد لاس لرو.*[۶۳]

[۶۲] . DFID, "Business Case and Summary CARD-F phase ۲, March ۲۰۱۵."

[۶۳] . چارواکی ۲.

نوموړي بیا ورپسې زیاته کړه، چې:

*خو حکومت وايي، چې له بودجوي سند د باندې پروژو کې تمویلوونکې خپلو کارکوونکو ته لوړ معاشونه ورکوي. مګر که پروژه په حکومتي بودجه کې ونیول شي، نو تمویلوونکي د پروژو کارکوونکو او مشاورینو ته لوړ معاشونه نه شي ورکولای او بودجه یې د حکومت تر کنټرول لاندې راځي... [او] دا کار کولای شي اداري لګښتونه راکم کړي. ترڅنګ یې حکومت کولای شي له خپلو کارکوونکو په کلیوالي سیمو کې د پروژو په تطبیق کې کار واخلي.*[٦٤]

د کارډ - اېف پروژې کارکوونکو معاشونه د عادي حکومتي کارکوونکو په پرلته ډېر لوړ وو، چې په وزارتونو کې د تمویلوونکو تر ملاتړ لاندې برخو په اړه غوږ چلن په ګوته کوي.[٦٥] د راپورونو له مخې د کارډ - اېف پروژې د رئیس میاشتنی معاش له ۸،۰۰۰ امریکایي ډالرو لوړ و،[٦٦] په داسې حال کې چې د وزیر میاشتنی معاش تر ۲۵،۰۰ امریکایي ډالرو و. په ولایتي کچه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د ولایتي رئیس معاش له ۳۵۰ تر ۴۰۰ امریکایي ډالرو و، په داسې حال کې چې د دې پروژې د کارکوونکو معاش له ۲،۵۰۰ تر ۳،۰۰۰ امریکایي ډالرو و. دې ډول توپیري چلن په وزارت کې د پروژې لوړ معاش لرونکو او ټیټ حکومتي معاش لرونکو کارکوونکو ترمنځ واټن رامنځ ته کړ. حتمي ده، چې دې ډول توپیري چلن خپګان رامنځ ته کړی و. د دې ترڅنګ بل واقعیت دا و، چې له غوره تمویل برخمنې پروژې چې د وزارت مهمو چارواکو پرې هېڅ راز کنټرول یا نفوذ نه درلود، د وزارت چارواکو او پروژې اداري واحد ترمنځ د درز رامنځ ته کړی و. دا درز د وزارتونو ترمنځ د رقابت په تېره بیا د ملي یووالي حکومت تر جوړېدو ورسته لا پیاوړی شو. طبعي خبره وه، چې دې کارونو د پروژې په وړاندې مخالفتونه او د پروژې له کارونو ملاتړ دواړه راپورته کړي دي.

د دې مخالفتونو او ملاتړ په اړه د پروژې یو مهم چارواکي داسې ویلي:

*د کارډ - اېف پروژې پر سر ناندرۍ وې. فلاني وزیر د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته راغی. نوموړي دا نه شوه منلای، چې د دې پروژې رئیس دې نبه مقام او وضعیت ولري. نوموړي له یاد رئیس غوښتل، چې دا او هغه کس وګماري او غوښتل یې چې په ګمارنو او د بودجې په ځانګړې کولو کې لاسوهنه وکړي، خو د پروژې له اړخه دا لاسوهنې رد کېدلې. همدا وجه وه، چې د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا د پروژې مشر او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت فلاني وزیر ترمنځ ستونزه وه. بالاخره، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت یاد شوي وزیر د پروژې رئیس ته ګواښ وکړ، چې یا له دندې لاس په سر شي، یا به زه دا پروژه ودروم.*[٦٧]

کله چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د آصف رحیمي(۲۰۰۸ تر ۲۰۱۴) په څېر د پیاوړي وزیر په لاس کې و، چې تکنوکراتیک طبعیت یې درلود او له تمویلوونکو سره یې هم اړیکې ډېرې ښې وې، دا ډول ناندرۍ په ډېر ښه ډول مدیریت کېدې، خو بیا هم له بودجې د باندې ترتیبات له مالیې وزارت سره د اختلافونو راپیداکېدو لامل کېدلای شول. خو څرنګه چې له پاسنیو مشاهداتو څرګندېږي د پروژې اداري جوړښت منطق دا و چې د حکومت مهمو چارواکو له نفوذ مخنیوی وکړي او ډاډ ترلاسه شي چې د پروژې د پلي کېدو پرېکړې د تخنیکي معیارونو او اصولو له مخې پرمخ وړل کېږي. د دې تګلارې ملاتړ د زیاترو هغو کسانو له لوري شوی، چې د کارډ – اېف په پروګرام کې یې کار کاوه. یادو کسانو د پرېکړو په برخه کې پر نظم ولاړ ماهیت او هغه تخنیکي منطق ستاینه کړې چې د پروژې د ملاتړ لپاره په پام کې نیول شوی و، ځکه د دوی په اند یاد کار له دوی سره د پروژې په سم ډول پلي کولو کې مرسته کولای شوه.

هغو مهمو چارواکو د دې پروژې ستاینه یې کړې او دا پروګرام یې په افغانستان کې د اغېزناکو پروګرامونو له ډلې ګڼلی دی،[٦٨] چې په دې پروژه کې په پلازمېنه کابل یا هم ولایتي مرکزونو کې ښکېل وو. ترڅنګ یې د پروژې مدیریت واحد ستاینه هم کړې، کوم چې د پروژې لپاره اساس ګڼل کېږي.[٦٩]

---

٦٤ . چارواکی ۲.

٦٥ . A. Suhrke, When More is Less: The International Project in Afghanistan, (London: Hurst, ۲۰۱۱).

٦٦ . د ګڼ شمېر چارواکو له قوله.

٦٧ . چارواکی ۴.

٦٨ . چارواکی ۱.

٦٩ . چارواکی ۳.

یو لوړپوړي چارواکي چې د تخنیکي کمېټې غړی و، خو د کرنې له وزارت سره یې تړاو نه درلود، په دې اړه داسې ویلي دي:

*زه د امریکا متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداري او ملګرو ملتونو په څېر له نړیوالو ادارو دغه راز د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سره د کار کولو تجربه لرم، خو د کارډ - ایف پروژه په مدیریتي لحاظ تر نورو سازمانونو متفاوته وه. په دې پروژه کې مو هر درې میاشتې وروسته د بین الوزارتي کمېټې ناسته لرله، چې په پروژه کې بېلا بېلو ښکېلو وزارتونو او ادارو په کې برخه اخېسته. مونږ له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت، کرنې وزارت، مالیې وزارت او نورو همکارانو سره په ګډه یوه څارونکې کمېټه لرله، ترڅنګ یې په ناستو کې وزیرانو هم ګډون کاوه. په ولایتي کچه مو د دې پروژې په نوم دفتر درلود، چې والیان او ولسوالان به لیدنې ته ورته راتلل څو د پروژې د لاسته راوړنو په اړه پوښتنه وکړي او په دې اړه راسره وغږېږي، چې دوی زمونږ لپاره څه کولای شي چې د پروژې موخو ته ورسېږو. د دې معنا دا ده، چې په دې پروژه کې د اجراء، څارنې او ارزونې پروسیجرونو له مخې پیاوړي ژمنتیا موجوده وه او چارې تعقیب کېدلې. دا پروژه د اداره کولو، جوړښت او اجراء دغه راز د څارنې او ارزونې له مخې هم ډېره ښه وه. زه تاسو ته په ډاډ سره ویلای شم، چې له ولسوالۍ نیولې تر ولایت او بیا پلازمېنې پورې د دې پروژې اداره کېدل او د چارو تعقیب ډېر پیاوړي وو.*[70]

دې چارواکو چې د پروژې د جوړښت ستاینه کوله، د لاسته راوړنه ستاینه یې هم کړې ده. خو په ولایتي او مرکزي دواړو کچو کې یو شمېر داسې مهم چارواکي هم و،[71] چې پردې پروژې یې سختې نیوکې لرلې، او دا پروژه یې د شواهدو نه موجودیت له مخې رد کړې ده. دوی دې پروژې ته له نورو هېوادونو د تقلید او د ګټه اخېستونکو ترمنځ د تو پیري چلن په سترګه کتلې دي.

د دې ترڅنګ دا مهمه پوښتنه هم بې ځوابه پاتې ده، چې د دې پروژې اداري جوړښت او پر قوانینو ولاړ پروسیجرونه تر کومه بریده توانېدلي، چې پروژه له سیاسي نفوذ خوندي وساتي. ځرنګه چې لاندې به یې ولولئ، په واقعیت کې دا پروژه هم د نورو په څېر له سیاسي نفوذ خوندي نه وه، چې دا واقعیت د پروژې یو مهم چارواکي له لوري هم تایید شوی دی:

*په افغانستان کې هېڅ داسې پروګرام او پروژه نشته، چې له کومې مسئلې پرته پرمخ یوړل شي او کارونه یې بشپړ شي. د کارډ-ایف پروژه هم له یو لړ مسائلو سره مخ وه. له دې ډلې یوه یې هم د زورواکو او ټوپکسالارانو لاسوهنې وې... او ځینې نورو بیا دا پروژه خپلو خپلوانو او کورنیو ته غوښتله. خو د بین الوزاراتي کمېټې ملاتړ او د انتخاب پروسیجر لپاره د تمویلوونکو او پروژې شرایطو په پروژه کې د دوی لاسوهنو مخه نیولای شوه. د دې ترڅنګ مو له وزارتونو سره هم یو لړ مسائل لرل. لومړی مسئله دا وه، چې ځینو وزارتونو په خپلو منځو کې یو له بل سره نېږې اړیکې نه لرلې او پروژه یې د خپلو رقابتونو قرباني کړه. له سیاسي اړخه د ډاکټر عبدالله یا هم اشرف غني د ډلې وزیران وو، چې یو له بل سره یې همکاري نه کوله او دا کار د کارډ – ایف پروګرام د پای ته رسېدو عمده دلیل و. هر وزارت هڅه کوله، چې له دې پروګرام کومه پروژه ترلاسه کړي، او دې کار واقعاً یاد پروګرام او رهبري یې دواړه کمزوري کړل، بالاخره تمویلوونکو نه غوښتل چې د ګوندونو او ډلو د سیاسي لوبو لپاره بې ځایه خپلې پیسې ولګوي.*[72]

کله چې آصف رحیمي د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت پرېښود، د وزارتونو او بیا د کرنې وزیر او پروژې ترمنځ اختلافونه مخ په زیاتېدو شول، بالاخره که څه هم د پروژې دریم پړاو وړاندیز رایوځای شوی و، خو د بین الوزاراتي کړکېچ قرباني شو او د یوې سرچینې له قوله د پروګرام رامنځ ته کوونکي نور د پروګرام تمویل ته لېوالـه نه وو.

## د پروژې موخې او مقاصد: په لومړي پړاو کې له بدیلې پرمختیا د سوداګریزې کرنې پر لور بدلون

که څه هم مونږ نه یو توانېدلي، چې د لومړي پړاو لپاره د پروژې اصلي طرحه پیدا کړو، خو د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې د

۷۰ . چارواکی ۳.

۷۱ . له نشه یي توکو سره پر مبارزې وزارت مهمه نیوکه.

۷۲ . چارواکی ۱.

پروژې پر وېبپانه مو د پروژې کلني پرمختګ راپورونه موندلي دي.[73] ګډونوالو هم تایید کړې ده، چې دا پروژه له نشه يي توکو سره د مبارزې په انګېزه پیل شوې وه او تمرکز يې د هغو ولسوالیو پر لاسنیوي و، چې د کوکنارو له کښت یې لاس اخېستی و، څو د قانوني کرنیز اقتصاد د ودې له لارې همداسې د کوکنارو له کرکیلې لېرې او خوندي پاتې شي.

د پروژې په لومړي پړاو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت مهم چارواکي په دې اړه په ډېر صراحت موږ ته داسې وويل:

*هو، دا د دوی ستراتیژي او د دې پروژې عمده موخه وه، څو له کوکنارو خالي ولسوالۍ همداسې له کوکنارو خالي پاتې شي. دا ستراتیژي د بدخشان په ګډون په ټولو هغو ولسوالیو او ولایتونو کې عملي شوې چېرته چې د کارډ – ایف پروګرام عملي شوی... دا زما مسوولیت و، چې ولسوالۍ له کوکنارو پاکې کړم او تر پاکولو وروسته زه د کارډ – ایف پروګرام سره په اړیکه کې وم او له دوی مې غوښتنه کوله چې په یادو ولسوالیو کې د اقتصادي پرمختیا پروژې تر کار لاندې ونیسي.*[74]

یاد چارواکی له کوکنارو د ولسوالیو په پاکولو کې د ننګونو په اړه هم ډېر رڼښتیني و، چې تر ډېره بریده د کروندګر په توګه د نوموړي له مخینې سرچینه اخلي:

*دوی نالوستي دي، څو تر ټولو ښه پلان جوړوونکي دي. تر کرکیلې د مخه کروندګر د خپلو کورنیو، ناروغیو، مراسمو، حج، خیراتونو، زده کړو لګښتونو او د کورنۍ په کچه د نورو لګښتونو په اړه فکر کوي. کله چې نوموړي ته دا جوتیږي، چې له ځمکې يې ترلاسه کېدونکي عواید دا اړتیاوې نه شي پوره کولای، نو بیا زېښی لاره دا ورپاتې کېږي چې داسې څه وکري چې په ټول کال کې يې ورځنۍ اړتیاوې پوره کړی شي. بناً، د دوی لپاره بیا زېښی موجود بدیل د بنګو او کوکنارو کرل دي. له دې کبله یو کروندګر اړ کېږي، څو پر خپله ځمکه ناقانونه بوټي وکري. د بېلګې په توګه که چېرې یو کروندګر له خپلې ځمکې ۱۴ کیلوګرامه تریاک ترلاسه کړي، نو ۲ کیلوګرامه يې د نورو محصولاتو د تخم او کمیاوي سرې لپاره پلوري. ۲ تر ۵ کیلوګرامه نور يې بیا په ژمني موسم کې د خپلې مالدارۍ د مرولو لپاره پلوري او پاتې نور یې کورنۍ ته د ډوډۍ برابرولو او د ناروغۍ، خیرات او نورو لګښتونو په ګډون د کورنۍ لګښتونو لپاره پلوري. په تېرو څلوکلونو کې، موږ هڅې کړې څو کروندګر وهڅوو یا يې اړ کړو، چې پر خپلو ځمکو کوکنار ونه کري، خو موږ پاتې راغلي یو.*[75]

دا خبره هم پرځای ده، چې د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام چارواکو هم دا غوښتل، چې د امنیتي دلایلو له کبله دا پروژه له نشه يي توکو سره د مبارزې پروګرام په توګه په نښه نه کړي، په دې اړه مخکني شخص موږ ته داسې ویلي دي:

*موږ د پروژې په ساحه کې د امنیتي دلایلو له کبله له نشه يي توکو سره د مبارزې په اړه خبرې اترې نه کولې، ځکه خلک په دې اړه حساس و، که چېرې مو د کوکنارو راکمولو په اړه خبرې کړې وای نو دا پروژه د بلواګرو له لوري هم په نښه کېدای شوه.*[76]

څه چې ډېر روښانه دي، هغه دا دي چې ان په لومړي پړاو کې دې پروژې له نشه يي توکو سره د مبارزې له ښکاره موخو بدلون موندلای، خو دا خبره روښانه نه ده چې په دې بدلون کې چا رول درلود. یو دویم چارواکي، د دې بدلون پېښېدو په اړه خپلې مشاهدې له موږ سره په لاندې ډول شریکې کړې:

*زموږ د انګېرنو له مخې تمویلوونکو نه غوښتل چې په دې پروګرام د کوکنارو کرکیلې راکمولو نوم کېږدي، ځکه مقصد يې دا و، چې په لېرې پرتو ولسوالیو کې هم د دې پروګرام عملي کېدو ته زمینه مساعده کړي. د دې ترڅنګ موږ له تمویلوونکو دا خبره نه ده اورېدلې، چې دوی غواړي د کوکنارو کرکیلې له راکمولو څخه دا پروګرام د کرنیزې ودې پروګرام ته بدل کړي، خو د لومړي پړاو پرمهال د تجربې له مخې دا زموږ انګېرنه وه. د کوکنارو*

---

۷۳ . لاندې وېبپاڼې د ۲۰۲۱ز کال په لومړیو کې کار کاوه، خو د ۲۰۲۱ز کال د ډسمبر په پیل کې بیا غیر فعاله وه (https://devtracker.dfid.gov.uk/documents/۲۰۴۱۲۲-۱-projects/GB).

۷۴ . چارواکی ۷.

۷۵ . چارواکی ۷.

۷۶ . چارواکی ۷.

> *کرکیلې راکمولو له نوم سره د پروژې په پلې کولو کې امنیتي ګواښونه راپورته کېدل. په بل نوم په تېره بیا د کرنې د ودې په نوم د دې پروژې په اجراء کولو کې هېڅ راز امنیتي ستونزې نه راپورته کېدې. له دې کبله، په دویم پړاو کې د دې پروژې زیات تمرکز پر کرنیزه وده و.*[٧٧]

خو د کارډ – اېف پروګرام د پخوانیو چارواکو له نظرونو دا هم جوتېږي، چې دوی له نشه یي توکو سره د مبارزې اهدافو پرځای د سوداګریزې کرنې په پیاوړې کولو کې ډېره لېوالتیا لرله. منطق دا و، چې سوداګریزه کرنه ډېر عواید رامنځ ته کولای شي:

> *د کارډ - اېف پروژه د نورو پروګرامونو او پروژو په پرتله په متفاوته بڼه طرحه شوې وه. تر ټولو ستر توپیر دا و، چې موږ غوښتل د افغانستان کرنه د خصوصي سکتور په مرسته په سوداګریزه کرنه بدله کړو. ښکاره خبره ده، چې ډېرو بېوزلو کروندګرو چې عواید او ځمکه یې کم وو، نه شول کولای چې په دې پروژه کې برخه واخلي، خو موږ د اعانې سیستم درلود، چې شاوخوا ۳۵ میلیونه امریکایي ډالر مو ورته لرل او ټول مو د کروندګرو لپاره ولګول.*[٧٨]

د راپورونو له مخې په ۲۰۱۱ز کال کې د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې له لوري تر کلنۍ کتنې وروسته د پروژې موخې او شاخصونه بیا وکتل شول، که څه هم جزئیات یې معلوم نه دي، خو په ۲۰۱۱ز کال کې له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې د پروژې اغېزو معیارونه له پامه وغورځول شول، دا چې لومړیتوبونو بدلون وموند نو دا ډېره ستونزمنه وه څو ثابته شي، چې د کاري بوختیاوو او عوایدو رامنځ ته کول د کوکنارو کرکیله راکموي. د کوکنارو کرکیلې راکمولو پرځای د پروژې ټینګار پر اداره جوړونه او د کرنې ارزښتیز ځنځیر او بازارونو له پرمختیا په ملاتړ و. دا کار تر ۲۰۱۱ز کال وروسته د برېتانیا شاهي حکومت له لوري له نشه یي توکو سره د مبارزې لومړیتوب پېکه کېدل په ګوته کوي، او تر یوه بریده په تېره لسیزه کې د بریالیتوب کمښت هم څرګندوي.[٧٩]

په دې توګه د کارډ - اېف پروګرام د قانوني عوایدو لوړولو لپاره له یو معیشتي هغه په داسې پروګرام بدل شو، چې تمرکز یې پر سوداګریزه کرنه و، خو له نشه یي توکو سره د مبارزې اړخونه د معیار په توګه د پروژې د پیل لپاره د نویو ولایتونو په ټاکلو کې پرخپل ځای پاتې وو. د پروژې د بشپړېدو پرمهال د لومړي پړاو یوه اقتصادي ارزونه د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې له لوري وشوه. په دې ارزونه کې جوته شوه، چې د یاد پروګرام لومړي پړاو په ترڅ کې د پروګرام تر لګښتونو د زیاتې ګټې رامنځ ته کول له امکان لېرې خبره ده، او دا چې په دې پروژه کې عوایدو ته ډېر ارزښت ورکول کېده، نو ټول په ګډه د پروژې په دویم پړاو کې د سوداګریزې کرنې پر پیاوړتیا د ټینګار لامل شول.

له لومړي پړاو دویم پړاو ته د بدلون په ترڅ کې د بین الوزاراتي کمېټې مشري هم د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته بدله شوه. له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت رول راکم شو او لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، پروژه تر ډېر شمېر نورو داسې ولایتونو وغځېده چې د کوکنارو د کرکیلې مخینه یې نه لرله.

## د پروژې ډیزان او د بدلون نظریه

که څه هم له بدیل معیشت د سوداګریزې کرنې پر لور بدلون تر ډېره د پروژې په موخو او منطق کې بدلون راوستی، خو د پروژې په اسنادو کې په لومړي پړاو کې د بدلون اصلي نظریې په اړه کومې نښې نښانې نه دي پیدا شوي. له دې کبله، موږ د بدلون نظریه له دویم پړاو راسپړلي، چې د پروژې لپاره په سوداګریز موډل کې پرې بحث شوی.

> *د بدلون هغه نظریه، چې د کارډ - اېف پروګرام اساس جوړوي، دا ده چې د افغانستان په ښه شویو ولایتونو کې د کرنې ارزښتیز ځنځیرونو پرمختګ به د قانوني کرنې د پرمختیا له لارې دا پروګرام د کلیوالي وګړو په عوایدو او کاري بوختیاوو کې زیاتوالی رامنځ ته کړي.*[٨٠]

هغه انځور چې له دې بیانیې سره مل دی، د ډیاګرام په بڼه د یو منطقي[٨١] ترتیب له مخې کښل شوی، چې په ساده توګه دا په

٧٧ . چارواکی ۲.

٧٨ . چارواکی ۴.

٧٩ . P.A. Berry, "What is the Future of UK Drugs Policy for Afghanistan?"

٨٠ . DFID, Business Case for CARD-F, p١۵

٨١ . ۲ انځور، د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام د بدلون نظریه: د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې (۲۰۱۵) کې ١٦مه صفحه.

ګوته کوي، چې ورکړه يا وسايل (تخنيکي مرستې، پيسې او د څارنې او ارزونې ملاتړ) څه ډول کولای شي د راکړې لامل شي( د اقتصادي پرمختيا پروژې د سوداګريزې کرنې او برخه اخېستونکو لپاره په اقتصادي فرصتونو کې زياتوالی رامنځ ته کړي)، چې په خپل وار سره د ښو پايلو (د کليوالي وګړو په قانوني عوايدو او بوختياوو کې د دوامداره ودې) او اغېزو (په ټاکل شويو ولايتونو کې د قانوني کرنيزې ودې زياتوالي) لامل ګرځي.

په سوداګريز موډل کې هم د دې خبرې يادونه شوي، چې د بدلون نظريه د اقتصادي ودې او د غوړېدا، ښېرازۍ او ټيکاو ترمنځ د اړيکې په پياوړتيا کې د کرنې رول په اړه د شواهدو له مخې رامنځ ته شوي، که څه هم په دې اړه بحث راپاروونکي موضوعات پرخپل ځای دي او د دې ادعاء د ثابتولو لپاره کوم شواهد هم نه دي وړاندې شوي.[۸۲] پردې سربېره، د بدلون نظريې توجيه د لومړي پړاو تجربو له مخې شوي. په دې اړه ويل شوي، چې داسې شواهد موجود دي چې ورکړه له راکړې او راکړه بيا له نتايجو سره تړي. د دې ترڅنګ دا په ګوته شوي، چې هغه شواهد چې نتايج له اغېزو سره تړي، تر ډېره بريده يو تر بله متفاوت وو.

د پروژې لپاره د بدلون دا عمومي نظريه د پروژې دويم پړاو په خپلواکه ارزونه کې تر دوو نورو ارزښتيزو ځنځيرونو يعنې چرګانو روزنې او شنو خونو د بدلون تر نظريو هم غځول شوې.[۸۳] د بدلون دا نظريې د ورکړو، راکړو او نتايجو دغه راز موخو جزئيات بيانوي، د وړانديز شوي منطق تر شاه فرضيې راسپړي او د منطقي چوکاټ د سلسله مراتبو په لړۍ کې په ګڼ شمېر پړاوونو کې د ارزونې پوښتنې ځوابوي.

## د کارډ – ايف پروګرام د بدلون په نظريه کې ښکاره او ضمني فرضيې

د پروژې په وړانديزي طرحه کې بېلا بېل مفروضات دي، چې د پروژې ټوليزه بڼه تړې ځرګندېږي او د بدلون نظريې داخلي انسجام تړې ارزول کېدای شي. د دې ترڅنګ په پورته طرحه کې يو لړ داسې مفروضات هم شامل دي، چې په ښکاره بيان شوي يا هم په ضمني ډول د پخوانيو ستونزو د حل لارې په توګه وړاندې شوي دي.

د کارډ - ايف پروګرام د دويم پړاو شاليد په توګه، پر کرنه د تمرکز وجه په ملي اقتصاد کې د کرنې رول، د بوختياوو په زياتوالو کې يې اهميت او د افغانستان په اقتصادي پرمختيا کې د کرنيزې ودې رول ګڼل شوی. پردې سربېره، د پروژې په کلنيو کتنو کې د نړيوال بانک له لوري د کرنيز سکتور کتنې او په لوړ ارزښت لرونکو ځنځيرونو او بازارونو کې د ودې ظرفيت لپاره د دې بانک له لوري جوړې شوي قضيې ته په تکراري ډول اشاره شوې ده.[۸۴] څرنګه چې مخکې اشاره وشوه، د نړيوال بانک په کتنه کې د لوړ ظرفيت او ښو طبعي منابعو لرونکو ښار ته نېږدې سيمو چې د "لومړنيو حرکت کوونکو" اصطلاح ورته کارول شوې او لېرې پرتو سيمو ترمنځ، چې دا ډول پوتانشيل يې کم دی، يا "نه حرکت کوونکو" اصطلاح ورته کارول شوې او نه شي کولای د مستقيمو کرنيزو کړو وړو لپاره کوم غبرګون په ګوته کړي؛ روښانه توپير په ډاګه شوی. د تعريف له مخې دا لېرې پرتې سيمې تل د کوکنارو د دوامداره کرکيلې ځايونه دي، که څه هم د نړيوال بانک په کتنه کې دې ته هم اشاره شوې، چې د اوبو لګولو د انکشاف خطر کولای شي پورته يادو شويو لوړ ظرفيت لرونکو سيمو ته هم د کوکنارو کرکيله وغځوي.

لومړی جدول د ورکړې، راکړې، نتايجو او اغېزو ترمنځ د اړيکې ترلاسه کولو په اړه د سبزيجاتو د کرنيز ځنځير لپاره د بدلون په نظريه کې جوړې شوې فرضيې په ګوته کوي. د چرګانو روزنې ارزښتيز ځنځير فرضيې هم له دې سره ورته دي، يوازې دومره چې يوه اضافي خبره دا په کې ده، چې "يو شمېر لېواله متشبثين د پانګونې لپاره تولې بودجې ته لاسرسی لري" او له دې برخې، "ترلاسه شوې بدله د پانګونې د هڅولو لامل ګرځېدلای شي."[85]

---

۸۲ . ?Pain, Growing out of Poverty

۸۳ . د التای مشورتي خدمتونو شرکت، " د کرنيزې ودې او کليوالي پرمختيا پروګرام ارزونه،" د دويمې نيمايي راپور، (د التای مشورتي خدمتونو شرکت، ۲۰۱۸: ۱۰ تر ۱۱ صفحې).

۸۴ . نړيوال بانک، د افغانستان اسلامي جمهوريت کرنيز سکتور ته کتنه.

۸۵ . د التای مشورتي خدمتونو شرکت، د دويمې نيمايي راپور.

**۱ جدول: د شنو خونو ارزښتیز ځنځیر د بدلون په نظریه کې ورانديز شوې فرضیې**

| | هغه فرضیې چې د شنو خونو ارزښتیز ځنځیر لپاره د مراتبو لړۍ منطق سره تښلوي |
|---|---|
| **اغېز** | |
| | د رقابت زیاتېدل دندې زیاتوي |
| ↑ | |
| | د محصولاتو قیمت /کیفیت د وارداتو معادل ګرځي |
| ↑ | |
| | ملي تولید ۱۰۰ سلنه د وارداتو ځای ناستی ګرځي |
| **نتایج** | |
| | د فارمونو ټول ناخالص تولید زیاتوالی مومي |
| | تولید د تقاضا سره برابرېږي |
| | د لېږد رالېږد مناسبې زېربناوې |
| | د وېش فعاله شبکه |
| | بازارونو ته لاسرسی |
| ↑ | |
| | تنظیمي چوکاټونه |
| ↑ | |
| | تر سوداګرۍ د مخه لوی اقتصاد او د سکتور پالیسی رامنځ ته کوي |
| | ډاډمن امنیتي چاپېریال |
| **راکړې (Outputs)** | |
| | د وسایلو ښه عرضه کوونکي موندل کېږي |
| | وسایلو ته مستقیم او نامستقیم ګټه اخېستونکي لاسرسی موندلای شي |
| ↑ | |
| | د وارداتو په مقابل کې د قیمتونو او کیفیت رقابت |
| ↑ | |
| | د عرضې نظم |
| **ورکړې (Inputs)** | |

سرچینه: د التای مشورتي خدمتونو شرکت، "د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام ارزونه،" د دویمې نیمایي راپور.

د یادونې ده، چې هېڅ یوه فرضیه په هېڅ صورت د ارزښتیز ځنځیر منطق تر پوښتنې لاندې نه راولي او نه هم د دې لپاره طرحه شوې چې د افغانستان په ځانګړې منځپانګه کې د یاد ځنځیر امکان وارزوي. انګېرنه دا وه چې د ارزښتیز ځنځیر موډل د توکو بازارونو د فعالیت پر څرنګوالي د پوهېدو لپاره یو چوکاټ رامنځ ته کړی دی، ځکه استدلال دا و چې د عرضې او تقاضا دغه راز د قیمتونو ترمنځ رقابت به د بازار مېکانېزمونه وغوړوي.

خو کرنیز محصولات یا توکي جلا ځانګړنې لري، چې د بدلون په نظریه کې پاملرنه ورته نه ده شوې. د بېلګې په توګه کچالو د نشایستې لرلو، کالوري تولید او ذخیره کېدو ځانګړنې له مخې هم معیشتي ارزښت لري او هم په بازار کې د پلور لپاره فرصتونه رامنځ ته کوي، دې محصول په سویلي آسیا دغه راز د افغانستان په بامیانو ولایت کې د غرنیز اقتصاد تحرک بدل کړی دی.[۸۷] له بلې خوا د شنو خونو محصولات لکه بانجان د وچولو په استثناء، ډېر بازار او پلور لري، که څه هم له روغتیایي اړخه ګټور دي، خو کالوري یې ډېره کمه ده. په کمه اندازه د چرګو تولید هم د هګیو او غوښې د برابرولو له مخې د کورنیو معیشتي اړتیاوې پوره کوي او هم د پلور لپاره ښه ظرفیت لري؛ خو په سوداګریزه کچه بیا ډېر حساس مدیریت او زېربناء غواړي. کوکنار د تریاکو ترڅنګ بېلا بېل محصولات لکه د پخلي غوړي، د خشخاشو غوټې، د مالدارۍ لپاره غوړ وابښه او د سون بوټي هم برابروي، او تر ټولو مهمه دا چې تریاک په بشپړ ډول نه خوسا کېږي. د کرنیزو توکو ترمنځ دا توپیرونه د ژوندانه

٨٦ .

اړتیاوو د تأمین او اضافي نغدي عوایدو دغه راز په بازار کې د دوی ښکېلتیا د خوندیتوب له مخې کروندګرو ته جلا جلا خطرونه له ځان سره لري.

په دې اړه بحثونه موجود دي، چې د ژوندانه اړتیاوو د تأمین لپاره تولیدوونکي تر کومې اندازې اختیار لري او کوم وخت بیا اړ کېږي، چې د قیمتونو او رقابت له کبله په بازارونو کې ښکېل شي؟ ترڅنګ یې هغه کوم خطرونه دي چې د ځمکې پر محصولاتو او د کارګرانو پر اجورې اغېز کوي او دوی د همدې قیمتونو او رقابت له مخې په بازارونو کې ښکېلتیا ته اړ کوي؟ موري لي په خپل راپور کې په اندونیزیا[87] کې د غرنیو سیمو کروندګرو په اړه وایي، چې څرنګه دوی له کوم جبر پرته د تېرې یوې پېړۍ په اوږدو کې د تنباکو کرکیلې ته مخه کړې ده او کله چې د بازار شرایط نامطلوب وي نو څنګه بیا د تنباکو له کرکیلې لاس په سر کېږي. په دې توګه د کوکائو کرکیلې ته د دوی مخې کولو په بازار کې د یادو کروندګرو د ښکېلتیا ماهیت هم بدل کړی دی، او د هغو خلکو لپاره یې د اجورې لرونکې کار اړتیا ډېره کړې چې کمه یا هېڅ ځمکه نه لري او هغوی چې ځمکه لري، هغوی ته یې بیا د خپلې شخصي ځمکې ډېرولو اړتیا راپورته کړې ده. د افغانستان کلیوالي اقتصاد ته په تېره بیا په ډېرو لېرې پرتو سیمو کې د توزیعي اقتصاد په سترګه کتل کېدای شي، چې په ورته وخت کې که څه هم په بازار کې ښکېلتیا رامنځ ته کوي، خو تر ډېره بریده یوازې د کروندګرو د ژوندانه اړتیاوې پوره کوي.[88] د کوکنارو کرکیلې ته د خلکو لېوالتیا یا هم د کوکنارو له کرکیلې د دوی لاس په سر کېدل همدا واقعیت په ګوته کوي.

پردې سربېره د توکو بازارونه له خطرونو سره مخ دي. د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام دویم پړاو د دې خطرونو یو روښانه تصویر وړاندې کوي، څکه په هرات ولایت کې د چرګانو ساري ناروغۍ خپرېدو له وجې د پولې تړل کېدو او وسایلو نشتون د دې لامل شو، چې د چرګانو بازار نږدې له سقوط سره مخ شي.[89] بیا هم د کوکنارو کرکیلې دې وضعیت ته پیاوړی غبرګون ښودلی، چې ان د کوېډ -۱۹ او د طالبانو له لوري د قدرت واګې په لاس کې اخېستو له وجې د ناڅرګند وضعیت په ترڅ کې یې هم وده کړې ده. څکه کوکنارو په بې ساري توګه د افراطي ابهام له منځپانګې سره تطابق موندلای دی.

د دې ترڅنګ نور توکي د بازار له بېلا بېلو خنډونو او جوړښتونو سره مقابله کوي. په داسې حال کې چې د کوکنارو کرکیله په ګاونډیو هېوادونو کې هېڅ راز رقابتي بازار نه لري. خو برعکس، نور پورته یاد شوي درې توکي بیا په پاکستان کې د پولې له هغې غاړې وارد پدونکو محصولاتو په وړاندې له سخت رقابت سره مخ دي. د کچالو او شنو خونو محصولاتو په برخه کې له پاکستان څخه د ارزانه محصولاتو راتګ او د افغانستان په بازارونو کې د یادو محصولاتو د قیمتونو راټیټولو وړتیا ته په کتو په افغانستان کې د بازار فرصتونه موسمي بڼه لري. لکه څه ډول چې د پیازو په برخه کې دا خبره تر سترګو شوې، چې سوداګر کولای شي د پولې دواړو غاړو ته د محصولاتو پر وړلو راوړلو خپل انحصار وساتي او قیمتونه په خپله ګټه راوڅرخوي،[90] دا خبره د چرګانو او نورو سبزیجاتو په اړه هم صدق کوي، چې جزئیات یې موږ په لاندېنۍ برخه کې راسپړو.

## څارنه او ارزونه

د خپلواکې څارنې او ارزونې راپورونو له مخې دکارډ – اېف پروګرام دویم پړاو[91] په ارزولو کې د برېتانیا نړیواله پرمختیایي اداره دې پایلې ته رسېدلې، چې یاده پروژه د ۱۹ اقتصادي پرمختیا پروژو په بشپړولو او د چرګانو روزنې او شنو خونو په ګډون چې لاندې یې په جزئیاتو راسپړو، د اتو ارزښتیز ځنځیرونو په ملاتړ کې بریالۍ وه. دې ادارې د کلیوالي سیمو وګړو له عوایدو، خصوصي سکتور پانګونې، دندو زیاتولو او تشبثاتو له رامنځ ته کولو سره د دې پروژې د مرستې ادعاء کړې. نوموړې ادارې دا یادونه هم کړې، چې په ولایتي کچه د چرګانو روزنې ارزښتیز ځنځیر اغېزې خورا پراخې وې او " د کارډ - اېف پروګرام په بریالیتوب سره په ټاکل شویو ولایتونو کې د شنو خونو جوړولو ته ادامه ورکړې."[92]

۸۷ . T. Murray Li, Land's End: Capitalist Relations on an Indigenous Frontier.

۸۸ . A. Pain and D. Huot, "Challenges of Late Development in Afghanistan. The Transformation that Did Not Happen," Asian Survey ۵۸, no. ٦ (۲۰۱۸): ۱۱۱-۱۱۵.

۸۹ . د التای مشورتي خدمتونو شرکت، د دویمې نیمایي راپور.

۹۰ . G. Minoia, W. Mumtaz, and A. Pain, "Peeling the Onion Social Regulation of the Onion Market, Nangarhar, Afghanistan," Economic & Political Weekly, ۲۸ February ۲۰۱۵.

۹۱ . د برېتانیا نړیواله پرمختیایي اداره، د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام پروژې بشپړېدو ته د کتنې راپور، جنوري ۲۰۱۸.

۹۲ . مخکنی.

څرنګه چې د کارډ - ایف پروګرام دویم پړاو د ارزونې په اړه په دویم راپور کې یادونه شوې، په دې پړاو کې د ټولې په پام کې نیول شوې بودجې **۷۴** سلنه د چرګانو روزنې او شنو خونو جوړولو پر ارزښتیز ځنځیر لګول شوې.[۹۳] په همدې ترتیب، د دې پړاو خپلواکې ارزونې ټول تمرکز د ننګرهار پرځای په هرات او کندهار ولایتونو کې د چرګانو اقتصادي پرمختیا پر پروژه او په کابل، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې د شنو خونو د فعالیت پر ارزولو دی. په یاده ارزونه کې د بدخشان ولایت په خاش ولسوالۍ کې د کچالو تولید اقتصادي پرمختیا پروژې ارزونه نه ده شوې. د یادې پروژې ارزونه بیا د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له لوري شوې ده.

۹۳ . د الټای مشورتي خدمتونو شرکت، د دویمې نیمايي راپور.

# ساحوي موندنې

## بدخشان

کارډ-ابف په بدخشان ولایت کې د خپلې پروژې د عملي کولو لپاره د خاش او کشم ولسوالۍ انتخاب کړې وې. د دې څېړنې تمرکز په خاش ولسوالۍ کې د کارډ –ابف پر پروژه دی، چې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ ز کلونو ترمنځ د افغان ایډ موٴسسې له لوري عملي شوې ده.

په ۲۰۰۲ز کال کې له مرکز فیض اباد سره مستقیماً د نوي سرک پرمټ د خاش ولسوالۍ تر نښلېدو پورې، د یادې ولسوالۍ یوازېنۍ نښلېدونکې لاره د جرم ولسوالۍ له لارې وه. تر ۲۰۰۲ز کال د مخه تر فیض اباد پورې پر خرو تګ دوې تر درېیو ورځې وخت نیو، خو د نوي سرک په جوړېدو سره اوس مرکز ته د موټر یا هم باروړونکې لارۍ پرمټ په ۳ یا څلورو ساعتونو کې رسېدنه کېدلای شي. خاش اصلاً د جرم ولسوالۍ یوه برخه وه، چې موقعیت یې د یادې ولسوالۍ په لویه دره کې دی. خاش یوه غرنۍ کرنیزه دره ده چې د کرنې لپاره یو مساعد موسم لري، خو د اوبو لګول یې ډېر محدود دي. یاده ولسوالۍ د شېراني بانفوذه کورنۍ غړو په ګډون، چې د همدې ولسوالۍ دي، د ګڼ شمېر بانفوذه څېرو په واسطه خاش په ۱۹۹۰یمه ز لسیزه کې د یو خپلواک اداري واحد خو درېیمې درجې ولسوالۍ په توګه تأسیس شوه.[۹۴]

پردې سربېره، یاده ولسوالي د کوکنارو د کرکیلې اوږده مخینه لري ترڅنګ یې لږ تر لږه له **۱۹۵۰**مې لسیزې راوروسته په دې ولسوالۍ کې د ثبت شویو کروندګرو یو سیستم هم و، چې د خپلو کروندو محصولات به یې پر اړوند حکومتي اداره پلورل. دا محصول له قلبې سیستم په ګټې اخېستنې کرل کېدونکې غنم و، چې د کورنیو په ژوندي پاتې کېدلو کې یې مرسته کوله. له ۲۰۰۰ز کال راپه دېخوا د دې ولسوالۍ د کوکنارو کرنیزه ساحه په ډېر ډراماتیک ډول پراخه شوه، په څېړنه کې د ځینو ګډونوالو په وینا ان تر ۸۰ سلنه وغځېده، په داسې حال کې چې د کوکنارو د کرکیلې اوج د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۷ز کلونو ترمنځ و، نو له دې څرګندېږي، چې د کوکنارو کرونده هېڅکله په دې ولسوالۍ کې په بشپړه توګه له منځه نه ده تللې. لکه څنګه چې د کوکنارو کرکیلې د احتمال له نقشې معلومېږي (لومړۍ نقشه)، تر ۲۰۱۰ز کال پورې د کوکنارو کرکیله کمه وه، خو تر **۲۰۱۹**ز کال پورې دا کرکیله تر ټولې ولسوالۍ ان نېږدې ګاونډ کې جرم ولسوالۍ ته هم وغځېده. د کارډ - ابف پروژې پرمهال د بنګو کښت همداسې پراخ او پر خپل ځای پاتې شو.

له دې کبله خاش ولسوالۍ یوازې د کوکنارو د کرکیلې له مخې د کارډ - ابف پروګرام لپاره د انتخاب پر معیارونو برابره وه، که څه هم د کوکنارو له کرکیلې په بشپړه توګه نه وه پاکه شوې. پردې سربېره، ګڼ شمېر په څېړنه کې ډېر شمېر ګډونوالو په صراحت ویلي، چې د پروژې لپاره د ولسوالۍ انتخاب تر ډېره بریده د شخصي اړیکو پوروړې ده. په دې اړه یو شخص داسې وویل:

> *د کارډ - ابف پروګرام رئیس زموږ د ولسوالۍ یوې بانفوذه څېرې ټولګیوال او نېږدې ملګری و، له دې کبله یاد شخص له نوموړي رئیس غوښتنه وکړه، چې د بدخشان ولایت خاش ولسوالۍ د پرمختیا له مخې تر ټولو وروسته پاتې بېوزله او د کوکنارو کرکیلې لرونکې ولسوالۍ په توګه انتخاب کړي.*[۹۵]

د افغان- ایډ په نوم د برېتانوي نادولتي اداري یا انجیو انتخاب پروسه چې په بدخشان کې یې له ډېر وخت راهیسې کار کړی، ناڅرګنده ده، خو د دواړو ولسوالیو حکومتي چارواکو او افغان –ایډ موٴسسې د کارکوونکو له خبرو دا جوتېږي، چې یادې موٴسسې یوازې د هغې نقشې د تطبیق رول درلود، چې په پلازمېنه کابل کې د کارډ- ابف پروګرام د دفتر له لوري ډیزاین کېده او د کلیو ټاکل هم په کې شامل وو. په دې اړه د ولسوالۍ یو چارواکي داسې ویلي:

> *دا پروګرام مخکې له مخکې ډیزاین شوی و او خاش ولسوالۍ ته راوړل شو، دلته یوازې تطبیق شو. دوی په دې پروګرام کې خپل ماهرین، انجینران او بهرنې مشاورین لرل او همدې خلکو دا پروګرام او د پروګرام اړوند پروژې*


۹۴ . ولسوالۍ د نفوسو، چاپېریال او ټولنیزو ځانګړتیاوو له مخې درجه بندي شوې دي. د ولسوالیو له درجه بندۍ موخه دا ده چې لومړنۍ منابع او تشویقي بودجه ورته ځانګړې شي. درېیمه درجه ولسوالۍ په دې ډلبندۍ کې تر ټولو ټیټه ده.

۹۵ . بدخشان ۱۶، چارواکی.

*ډیزاین کړې دي. له دې کبله، موږ په ډیزاین او تطبیق کې هېڅ رول نه درلود، بلکې موږ یوازې اسانتیاوې ورته برابرولې او هغه ستونزې مو هوارولې چې په ټولنه کې راپورته کېدلې.[96]*

د خاش ولسوالۍ لپاره د کچالو تولید، سرو خونو جوړولو، پیازو تولید، مچیو روزنې او چرګانو تولید په برخه کې پنځه اقتصادي پرمختیایي پروژې په پام کې نیول شوې وې. پردې سربېره، د زېربناوو جوړولو یو پروګرام هم په پام کې نیول شوی و. په دې پروګرام کې د کرنیزو ځمکو پراختیا په موخه د درېیو سربندونو جوړول او د حیواناتو لپاره د روغتیایي اسانتیاوو برابرول هم شامل وو. خو د پروژې پلې کوونکو ته ډېره ژر دا جوته شوه، چې په پلازمېنه کابل کې ټولې پلان شوې پروژې په یاده ولسوالۍ کې د پلې کېدو وړ نه دي. د افغان-اېډ مؤسسې یو همکار په دې اړه وویل:

*په دې ولسوالۍ کې د مچیو ساتنې ښه پایله نه لرله او ټولې مچۍ مړې شوې. ښايي لامل يې اقليمي شرايط وي، ځکه په بدخشان کې هوا ډېره سړه ده. بیا مو د مچیو پرځای خلکو ته د وزو د وېشلو وړاندیز وکړ. په بدخشان کې د افغان-اېډ مؤسسې او په پلازمېنه کابل کې د مرکزي دفتر دغه راز د پروګرام اداري ډلې ترمنځ ډېر بحثونه پرې وشول او زیات شمېر برېښنالیکونه تبادله شول، خو دوی د وزو له وېش سره هوکړه ونه کړه. دوی ویل، چې" دا کار ډېر اوږد پروسیجر غواړي او ډېر وخت به ونیسي." نو موږ دا وړاندیز نه شو منلی. تاسو نه شئ کولای چې د پروژې په ډیزاین کې بدلون راولئ، له همدې وجې د اوسني ډیزاین له مخې پرمخ لاړ شئ.[97]*




لومړی نقشه. په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۹ز کلونو کې د بدخشان په خاش ولسوالۍ کې د کوکنارو د کښت احتمال

یادونه: انګېرنه دا ده، چې دا ارقام په ټول افغانستان کې د کوکنارو د کښت نسبي احتمالي اندازه په ګوته کوي. د احتمال کټګوري د کوکنارو تر کرکیلې لاندې سیمې په ګوته کوي. دا ارقام د کوکنارو کروندو حتمي ځایونه نه په ښه کوي. دا یادونه هم مهمه ده، چې په افغانستان کې د پېلا بېلو کلونو د کوکنارو کښت احتمالي نقشو سره د دې نقشې مستقیمه پرتله ډېره د اعتبار وړ نه ده، ځکه د احتمال کچه هر کال بدلون مومي. دلته په نقشه کې د لنډسیټ هر پکسل له ۳۰ مترو سره برابر دی.

٩٦ . بدخشان۱۹، د ولسوالۍ چارواکی.

٩٧ . بدخشان ۱۷.

پردې سربېره، د پروژې تر پای ته رسېدو وروسته د ګڼ شمېر چارواکو ارزونه دا وه، چې یوازې د کچالو، سرو خونو او اوبو لګولو پروژو په خاش ولسوالۍ کې تل پاتې میراث له ځان پر ځای پرېښی دی. د پروژې په ډیزاین کې له مرکزي کنټرول دا جوتیږي، چې پر تطبیق یې جدي څارنه شوې. دا چې د څارنې ټول ارقام چېرته دي او څه ډول کارول شوي، یو څه ګونګه موضوع ده. کله مو چې په پلازمېنه کابل کې له چارواکو سره مرکې وکړې دوی له دې ناخبره وو، چې چېرته یې پیدا کولای شو، خو د افغان – اېډ مؤسسې چارواکو په دې اړه یادونه کړې، چې د پروژې پر پلې کېدو څومره جدي څارنه کېدله:

*د افغان – اېډ مؤسسې به د پروژو د پلي کولو لپاره په پلازمېنه کابل کې د کارډ - اېف له مرکزي دفتر هره میاشت پلان ترلاسه کاوه. بیا به د پلان تر پلي کېدو وروسته د هرې میاشتې د فعالیتونو راپور په پلازمېنه کابل کې د ناستې پرمهال مرکزي دفتر ته ورکول کېده. که چېرې به کوم فعالیت پاتې و، نو دلایل یې باید وړاندې شوي وای، او بیا به پاتې فعالیتونه په بله میاشت کې پلان کېدل. په ورته وخت کې په بدخشان کې د کارډ – اېف پروګرام یو ولایتي دفتر هم و. د یاد دفتر کسان به ان هره ورځ او هره اونۍ ساحې ته تلل او چارې یې له نېږدې څارلې. که چېرې به دوی کومه نېمګړتیا پیدا کوله، نو د پوره کولو سپارښتنه به یې کوله او راپور به یې په پلازمېنه کابل کې مرکزي دفتر ته ورکاوه.*[98]

موږ په خپل بحث کې د کچالو او هغو سرو خونو په اړه پر موندنو تمرکز کړی، چې په لومړیو کې د کچالو محصولاتو د ساتنې او زېرمه کولو لپاره په پام کې نیول شوې وې. د یادونې ده، چې دلته په دې موندنو کې د کرنیزې ساحې د زیاتولو لپاره د دریېو سربندونو جوړولو او د حیواناتو لپاره د روغتیایي اسانتیاوو برابرولو دواړو په اړه زیاترو ګډونوالو ډېرې په زړه پورې خبرې کړې، د بېلګې په توګه د مالدارۍ شمېر په اړه ویل شوي، چې زیات شوی؛ ترڅنګ یې د حیواناتو لپاره د روغتیایي اسانتیاوو[99] په رامنځ ته کېدو سره د مړینې کچه هم راکمه شوې او په ورته وخت کې د مالدارۍ قیمتونه هم لوړ شوي، خو د حیواناتو د روغتیایي اسانتیاوو د کار د دوام په اړه لا هم اندېښنې موجودې وې، ځکه د سربندونو او اسانتیاوو په جوړولو کې له کمزورو موادو د ګټې اخیستنې په اړه شکونه وو، چې ایا دوام به وکړي که نه؟ داسې ښکاري، چې د کارډ - اېف پروژې د یادې ولسوالۍ د مالدارۍ اقتصاد په پیاوړتیا کې لږ تر لږه د پروژې پلې کېدو پرمهال مرسته کړې ده.

## د کارډ - اېف پروګرام او د خاش ولسوالۍ د کچالو اقتصاد

په خاش ولسوالۍ کې کچالو له ډېر وخت راهیسې د بدیل محصول په توګه کرل کېدل او په ټوله کې خاش ولسوالۍ ته په ۲۰۰۲ز کال کې د نوي سرک تر جوړېدو پلور ته نه وو وړاندې شوي. د کوکنارو کرکیله د کارډ - اېف پروګرام د پیل پرمهال خامخا موجوده وه، او د پروژې لپاره د خلکو د انتخاب پرمهال دا ټولو ته روښانه شوې وه، چې کروندګر یوازې په هغه صورت کې د دې پروژې لپاره وړ ګڼل کېږي، څو ژمنه وکړي چې نور به کوکنار نه کري. له دې کبله د کچالو اقتصادي پرمختیا پروژې ته په څرګنده د کوکنارو د بدیل محصول په سترګه کتل کېدل. د یو کروندګر د سترګو لیدلي حال، چې په دې پروژه کې یې ګډون نه و کړی، ځکه له بلخ ولایت څخه یې د یو قرارادي د ناظر په توګه کار کاوه، دا خبره تایید کړې ده:

*ما نه غوښتل چې هغه وخت د کارډ - اېف پروګرام په ناستو کې ګډون وکړم، ځکه دوی د کوکنارو کروندګرو نه خوښول او یو معیار دا و، چې هغه څمکه چې په کچالو کرل کېږي باید شاوخوا یې د کوکنارو کرکیله نه وي. ما د ارامتیا احساس نه کاوه، څو په ناستو کې ګډون وکړم. ځکه زما وېره دا وه چې دوی به زما نوم پولیسو او ملي امنیت ته د کوکنارو کروندو د مسلکي کارکوونکي په توګه ورکړي. پردې سربېره، زه د کلي او نادولتي سازمانونو په ناستو کې هم ډېر بوخت وم.*[100]

دا چې نوموړی د تریاکو د عوایدو پرمټ د ځمکې اخیستو جوګه و، نو د ده ځمکه وال د کارډ - اېف پروګرام په پروژه کې ګډون وکړ، په دې توګه نوموړي شخص له یادې پروژې په نامستقیم ډول ګټه پورته کړې ده. پردې سربېره، د نوموړي ځمکه د جوړو شویو سربندونو په حوزه کې راغله او دې کار د نوموړي ځمکه له للمي په اوبیزه ځمکه بدله کړه، چې ارزښت یې لا نور هم ورته لوړ کړ.

۹۸ . بدخشان ۱۸.

۹۹ . بدشخان ۰۵.

۱۰۰ . بدخشان ۱۳.

یو تکراري نظر دا و چې د کچالو له پروژې او سرو خونو د ګټې اخېستنې لپاره هغه کسان انتخابېدل چې اوبیزه ځمکه او پانګه دواړه یې لرل. له یوې خوا، دا کار د پروژې په ډیزاین کې په پام کې نیول شوی و او له بلې خوا د کارډ - اېف په پروګرام کې په واضح ټکو دا خبره راغلې وه، چې د دوی د پروژې موخه د کروندګرو پیاوړي کول دي. خو دا هم ثابته خبره ده چې د ګډونوالو د انتخاب واک د کلي په کچه د افغان - اېډ مؤسسې له لوري د کلي ولسي پرمختیایي شورا ته ورکړل شوی و او د زیاترو باخبره اشخاصو له قوله دا کار د دې لامل شو، چې یوازې هغه خلک د دې پروژه لپاره انتخاب شي، چې قوي واسطه یې لرله او زورور وو. یو ځمکه وال په دې اړه داسې ویلي: " تر ټولو بده خبره دا وه چې بېوزلو کروندګرو ته په دې پروژه کې ځای ورنکړل شو، ځینو بانفوذه خلکو د کروندګرو په انتخاب کې رول درلود. "[101] د شتمنو او بانفوذه خلکو په ګټه د انتخاب په پروسه کې دا توپیري چلن د سرو خونو د جوړولو په برخه کې ډېر و، چې وروسته پرې تفصیلي خبرې کوو، خو اوس دلته د کچالو د تولید پروژه راسپړو.

د کچالو د تولید پروژه په نړیواله کچه د چارواکو له لوري د یو جامع ارزښتیز ځنځیر تګلارې په توګه بلل شوې، او یو باخبره شخص په دې اړه داسې څرګندونې کړې:

> *د کارډ - اېف پروګرام یو مهم ټکی دا و، چې دوی د پروګرام ټول اړخونه په پام کې نیول. دوی دې سیستم ته د ارزښتیز ځنځیر نوم ورکړی و، چې د تخمونو له پلورونکو پیل کېده او بیا تر کروندګرو، کمیاوي سرې پلورونکو، کارګرانو او رېبلو پورې، وروسې د محصول تر پلور او د محصولاتو تر لېږدوونکو لا ریو غځېده. دا ټولې د ارزښتیز ځنځیر برخې وې.*[102]

هغه کروندګر چې د دې پروګرام ګډونوال و د افغان - اېډ مؤسسې له لوري د کچالو کرلو نویو مېتودونو د روزنې څرنګوالی، د کچالو نویو تخمونو وېش او د کچالو کروندې د حاصلاتو زیاتوالي په موخه د کاري وسایلو کچې او وخت په اړه د معلوماتو ورکول په جزئیاتو بیان کړي دي. پردې سربېره، د دوی لپاره بامیانو ولایت ته یو زده کړنیز سفر هم برابر شوی و څو په دې پوه شي چې هلته کروندګر کچالو څه ډول کري. د دې ترڅنګ، له پروژې مستقیمو او نامستقیمو ګټه اخېستونکو دواړو دا خبره منلې چې دا کار د کچالو حاصلاتو د درې برابره ( په یو جرېب کې له ۱۵۰ تر ۱۸۰ منو څخه ۲۰۰ منو ته ) د زیاتوالي لامل شو. دا هغه وخت و چې د کوکنارو قیمتونه هم مخ په ځوړ وو او د کچالو قیمت ډېر لوړ و، چې کچالو د کوکنارو یو متحرک اقتصادي بدیل وګرځېد.

دا هم جوته خبره ده، چې دې پروژې یوازې مستقیمو ګډونوالو ته ګټه نه ده کړې، بلکې زیاترو نورو کروندګرو له هغو کسانو زده کړه کړې چې په دې پروګرام کې روزل شوي وو او وسایل ورکړل شوي وو.

> *ما د کارډ - اېف په پروژه کې ګډون نه دی کړی، ځکه هغه وخت زه دلته نه وم او پلار مې د کوکنارو په کرکیله بوخت و او هغه وخت مې پلار هم له دې پروژې سره لېوالیتا نه لرله. خو وروسته چې زه دلته راغلم او له خپل خسر مې ځمکه ونیوله، نو کرونده مې پیل کړه او کچالو مې وېېرل، بیا مې د هغه پروسیجر له مخې وکرل چې د کارډ - اېف په پروګرام کې نورو کروندګرو ته ښودل شوی و. ما په کلي کې له یو باتجربه کروندګر پوښتنه وکړه او هغه هم د کرلو ترتیب راوښود، بالاخره له کچالو مې ډېر ښه حاصل ترلاسه کړ. زما د کچالو حاصل ۸۰۰ منه وو او زما ونډه ۴۰۰ منه وه.*[103]

وروسې د پورته شخص پلار هم د کوکنارو له کرکیلې لاس په سر شو او د کچالو کرلو ته یې مخه کړه. په دې کې شک نشته چې د کچالو حاصلاتو زیاتوالي د کروندو کارګرانو لپاره هم بوختیاوې زیاتې کړې، ځکه د کرنې په برخه کې کروندګرو ته شوې لارښوونې په سمه توګه پلې شوې وې او کروندګرو خپل ځان مکلف ګاڼه څو کارګران پر کار وګماري، چې له لارښوونو سره سم د محصولاتو پر وخت مدیریت څخه ډاډ ترلاسه کړي. د یادونې ده، چې د کچالو په کروندو کې د کار کولو ورځنۍ اجوره له ۲۵۰ تر ۳۰۰ افغانیو وه، په داسې حال کې چې دغو کروندګرو کولای شول د کوکنارو له کروندو په ورځ کې له ۲۰۰ تر ۸۰۰ افغانیو اجوره ترلاسه کړي. کله چې دا پروژه پای ته ورسېده نو د کارګرانو ګمارل هم راکم شول، خو د سرو خونو او بندونو په جوړولو کې د کاري بوختیاوو رامنځ ته کېدو له وجې د کارډ - اېف پروګرام د بوختیاوو پر زیاتوالي پراخې اغېزې درلودې، چې د کوکنارو له کروندو د زیاترو کارګرانو لاس په سر کېدو لامل شوې.

---

۱۰۱ . بدخشان ۱۵.

۱۰۲ . بدخشان ۱٦.

۱۰۳ . بدخشان ۱۵.

هغـه څـه چې ډېـر کـم روښـانه دي، دا دي چې د کچالـو د حاصلاتـو زیاتوالـي د کورنیـو پـر عوایـدو څـه اغېـزې کړي دي؟ ښـکاره ده، چې هغـه کورنۍ چې د خوراکي توکو لـه کمښـت کړېدې، د کچالـو حاصلاتـو يـوه مهمـه ګټـه د دوی لپـاره دا وه، چې د دوی لګښـتونو پـه پـوره کولـو کې یـې مرسـته کړې ده. لـه شـک پرتـه د ځینـو کوچنیـو کروندګـرو لپـاره دا ډېـره ګټـه وه. پـه دې اړه يـو کروندګـر خپلـې خبرې لـه مـوږ سره پـه لانـدې ډول شریکې کړې. نومـوړي د دې ترڅنګ د بـازار پـه تبادلـه او د تولیـد پـه لګښـتونو کې د کچالـو رول تـه هم اشـاره کړې ده:

*مـوږ يـوه کوچنـۍ کورنـۍ يـو، چې يـوازې لـه ځلـورو غـړو جـوړه ده. مـوږ ۵۰ تـر ۷۰ منـه کچالـو د خپلـو کورنيـو اړتيـاوو لپـاره زېرمـه کـوو. لـه دې ډلـې نيمايـي يـې د پخلـي لپـاره او نيمايـي نـور يـې بيـا لـه نـورو توکـو سـره د تبادلـې پـه موخـه هغـه وخـت کاروو، چې ګرځنـده پلورونکـي کلـي تـه راشـي. مـا سـږکال ۲۷۰ منـه حاصـل ترلاسـه کـړ، خـو دا چې د بـازار خونـد نـه وو نـو يـو مـن مې پـه ۲۰ افغانـۍ وپلـوره. خپـل ځـان تـه مې يـوازې ۷۰ منـه وسـاتل او ۲۰۰ نـور مې وپلـورل، چې ټـول ټـال مې ۳۲،۰۰۰ افغانـۍ لـه دې درکـه ترلاسـه کـړې. دا انـدازه زمـوږ د ژمنيـو لګښـتونو او پـه راتلونکـي کال کې د ځينـو اصلاح شـويو تخمونـو او کميـاوي سـرې د پېرلـو لپـاره کفايـت نـه کـوي، ځکـه تاسـو پوهېږئ، چې د يـوې بوجـۍ کميـاوي سـرې قيمـت شـاوخوا ۵۰۰۰ افغانـۍ دی. همـدا وجـه وه، چې مـوږ سـږکال پـور تـه اړ شـوو.*[۱۰۴]

خو پـروژه او باخبره اشـخاص معمـولاً د کورنيـو پـه لګښـتونو او عوايـدو کې د کچالـو د توليـد لـه وجې د بدلـون پـر دې اړخ خامـوش وو. د کچالـو راټولـو شـويو حاصلاتـو، چې د خوړلـو لپـاره کارول کېـږي او د تخمـي کچالـو، چې پـه راتلونکـي کال کې د کرلـو پـه موخـه کارول کېـږي، د بازارونـو پـه اړه هېـڅ راز ارقـام نشـته، چې ښـايي لـوړ قيمـت ولـري. د خـاش ولسـوالۍ لـوړې څوکـې پـه تېـره بيـا لـه ناروغـۍ د پاکـو کچالـو تخمونـو د توليـد لپـاره ډېـرې مناسـبې سـيمې کېـدلای شـي.

د پوهـاوي دا نشـتوالی تـر يـوه بريـده د ارزښـتيز ځنځيـر پـه اړه د کارډ – ايـف پروګـرام پـه ډيزايـن کې د توليـد تـوپيـر پـه ګوتـه کـوي. د ولسـوالۍ چارواکـو لـه نظره بازارونـه يـوازې لـه سوداګرو سره د کروندګـرو د تـړاو رامنـځ تـه کولـو لپـاره وو، چې هلتـه سـوداګر راتللای شـول او لـه کروندګرو يې د هغـوی تـر اړتيـا زيـات شـوي کچالـو پېرودلـی شـول. دا سـې ښـکاري چې د قيمتونو پـه اړه کـوم رسـمي معلومـات نشـته، چې پـه پـروژه کې څـه ډول پـه پـام کې نيـول شـوي وو او د وخت او ځـای لـه مخې يې څنګـه د کارډ - ايف پروګـرام پـه اسـنادو يـا هـم د ارزونـې پـه راپورونـو کې بدلـون مونـدلای دی. لـه يـو چارواکـي مـو چې کلـه د ارزښـتيز ځنځيـر دې اړخ پـه اړه وپوښـتل، مـوږ تـه يـې وويـل، چې: مـوږ دا کار نـه کـوو او د کارډ - ايـف پروګـرام دغـه راز د افغـان – ايـډ مؤسسـې پـه اړه هـم نـه پوهېږو چې دوی پـر بـازار او د کروندګـرو او سـوداګرو ترمنـځ پـر سـوداګرۍ څـه ډول څارنـه کړې ده.[۱۰۵]

دا خبره د زياتـرو باخبره اشـخاصو لـه لوري مـوږ تـه پـه تکراري ډول شـوې چې لـه ۲۰۰۲ز کال وروسـته تـر فيـض آبـاد پـورې د نـوي سـرک تـر جوړېـدو ورسـوته د ګرځنـده سـوداګرو شـمېر چې دې ولسـوالۍ تـه راځـي، زيـات شـوی دی. پـه ولسـوالۍ کې د ځانګـړې بـازار پـه نـه موجوديت کې دا سـوداګر بازارونـو تـه د لاسرسـي پـه ممکنـه کولـو کې پـه مهـم اړخ بـدل شـوي. د سـوداګرو دا پـراخ حضـور يـادې ولسـوالۍ تـه د فزيکـي لاسرسـي پرمختـګ او کوکنـارو اقتصـاد د پرمختيـا لـه کبلـه و، چې د يـادې ولسـوالۍ د مېشـتو وګـړو د پېـر تـوان يـې زيـات کـړی دی. د دې ترڅنـګ لـه ۲۰۱۲ز کال وروسـته د کچالـو پـه حاصلاتـو کې د پـام وړ زياتوالـي لـه شـک پرتـه لـه فيـض آبـاد او نـورو سـيمو لکـه کنـدز او تخـار څخـه د سـوداګرو راتلـل زيـات کـړي دي. دا حاصـلات لومـړی د سـترو ځايـي سـوداګرو لـه خـوا پـه پراخـه پيمانـه اخيسـتل کېـږي چې پـه يـاده سـيمه کې يـې د سـړو خونـو لـه جوړولـو ګټـه پورتـه کـړې ده، او لانـدې يـې پـه جزئياتـو راسـپړو.

دا خبره ډېره مـوږ تـه ويـل شـوې، چې معمـولاً ځايـي سـوداګر پـه يـاده ولسـوالۍ کې لـه يـو کلـي تـر بـل پـورې تلـل او کوچنيـو کروندګـرو بـه لـه خپلـې اړتيـا زيـات حاصـلات پـه لومړيـو کې کوکنـار او بيـا وروسـته د کچالـو حاصـلات د هغـو توکـو پـه تبادلـه کې ورکـول چې دوی ورتـه اړتيـا لرلـه. د يـو چارواکـي لـه قولـه دا کار لـه کـوم لګښـت پرتـه معاملـه وه:

*د بېلګـې پـه توګـه د ۷ کيلـو وريژو قيمـت ۳۰۰ افغانـۍ دی او د ۷ کيلوګرامـو کچالـو قيمـت ۱۰۰ افغانـۍ دی. نـو دلتـه ځايـي خلـک ۲۱ کيلوګرامـه کچالـو چې ارزښـت يـې ۳۰۰ افغانـۍ کېـږي، ورکـوي او پـه بـدل کې يې ۷ کيلوګرامـه وريـژې چې ارزښـت يې همـدا ۳۰۰ افغانـۍ دي ترلاسـه کـوي.*[۱۰۶]

۱۰۴ . بدخشان ۱۳.

۱۰۵ . بدخشان ۱٦.

۱۰٦ . بدخشان ۱۹.

د یو بل باخبره شخص ارزونې چې ځایي سوداګرو، یو ډېر متفاوت او تر ممکن بریده پر واقعیتونو ولاړ لید لوری وړاندې کړ، چې د فیض اباد او خاش ترمنځ یې د نیوکې په ډول د قیمتونو توپیر ته اشاره کړې او د سوداګرۍ نامعقول شرایط یې بیان کړي، په کوم حالت کې چې سوداګر له تبادلې په دواړو اړخونو کې ګټه پورته کوي:

*د بېلګې په توګه دوی (ګرځنده سوداګر) وریږې په کچالو بدلوي. ما په خاش ولسوالۍ کې یو من کچالو په ۸۰ افغانۍ واخیستل، خو دوی د وریږو په بدل کې یو من کچالو په ۲۰ افغانۍ پېري. د خان اباد سوداګر بیا په کچالو او وریږو کې دوې ګټې کوي. لومړی، دوی د کچالو قیمت ډېر کم حسابوي او دویم د وریږو قیمت بیا ډېر لوړ حسابوي. یاد سوداګر بیا دا پېرل شوي کچالو بېرته په ۱۴۰ افغانۍ پلوري.*[107]

د کروندګرو او سوداګرو ترمنځ د تبادلې اوږدمهاله ترتیبات په کچالو او کوکنارو دواړو کې تر سترګو شوي او د بې انصافه تبادلې شواهد په دې راکړه ورکړه کې نغښتي دي، چې د بدخشان په دې لېرې پرته ولسوالۍ کې د توکو د بازار ځرنګوالي په اړه د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام پوهاوی او له بازار سره د تړاو رامنځ ته کولو او د پراخ ارزښتیز ځنځیر تګلارې په اړه د دوی د ادعاوو محدودیتونه تر پوښتنې لاندې راولي.

د کروندګرو لپاره له اړتیا د زیاتو کچالو پلورلو بدیل لاره دا وه چې د کچالو ځایي سوداګرو ته یې ورکړي چې هغوی یې بیا پر نورو سوداګرو په جمعي ډول یا هم مستقیماً په خپله د فیض آباد په بازار کې پلوري. دا ډله سوداګر د لویو ځمکو مالکین دي چې د کارډ - ایف پروګرام له لوري له جوړو شویو سړو خونو هم برخمن دي. دوی تر ډېره بریده د انتخاب له معیارونو سره سم د یادو سړو خونو لپاره غوره شوي وو، او هغه وخت شاوخوا ۲۰۰ امریکایي ډالرو نغده ورکړه اړتیا وه (که څه هم د وخت په تېرېدو سره دا معیار بیا بدل شو)، ترڅنګ یې د ځمکې لرل او په جوړولو کې مرسته کول هم شرط وو. د دې سوداګرو له ډلې یو تن یې دا خبره تایید کړې ده: په دې کلي کې د ۲۷۰ کورنیو له ډلې موږ دوې کورنۍ له سړو خونو برخمنې یو... خو ۱۰۰ نورې بېوزله کورنۍ د کلي پرمختیایي شورا له استازو دا پوښتنه کوي، چې دوی ته په دې پروژه کې ولې برخه یا ونډه نه ده ورکړل شوې.[108]

یاد سوداګر د کمیاوي سرې او کرنې لپاره د کچالو تخمونو په څېر د مهمو وسایلو منبع هم ګڼل کېږي.[109] که څه هم د هغو شرایطو کره جزئیات نه دي معلوم، د کومو له مخې چې کروندګر دا وسایل پرې ترلاسه کولای شي، خو د یو بل سوداګر له قوله کله چې یو کروندګر پور ته اړتیا ولري، نو د ګرځنده سوداګر پرځای یې له ما ترلاسه کوي، نوموړي ورپسې زیاته کړه:

*موږ د دې سفالتې شوې سړک په جوړېدو خوشاله یو خو د دغو ګرځنده سوداګرو راتګ معنا بیا دا ده چې ځايي خلک خپل د اړتیا وړ توکي له همدې ګرځنده سوداګرو اخلي، مګر کله چې پیسې ونه لري بیا زموږ دوکانونو ته راځي او پور اخلي. د دغو ګرځنده دوکاندارانو راتګ د خاش ولسوالۍ د دوکاندارانو په ګټه نه دی.*[110]

دا احتمال هم و، چې دا پورونه هغه وخت چې قیمتونه ټیټ وو کروندګرو ته د دې تعهد په مقابل کې ورکړل شوي وي چې خپل محصولات به پر همدې پور ورکوونکي پلوري. د سړو خونو په لرلو سره سوداګر د دې جوګه وو څو کچالو تر هغه وخت پورې وساتي چې د قیمتونو په ګرم موسم کې یې نرخونه لوړ شي.

*د محصولاتو راټولولو په موسم (اکتوبر) کې د یو من کچالو قیمت له ۸۰ تر ۹۰ افغانیو وي، خو یوه یا دوې میاشتې وروسته (په ډسمبر او جنورۍ) کې بیا قیمتونه تر ۱۲۰ او ۱۵۰ افغانیو لوړېږي. هغه کسان چې پیسو ته بېړنۍ اړتیا نه لري یا هم د عوایدو کومه بله سرچینه لري، نو خپل کچالو په سړو خونو کې زېرمه کوي او هغه وخت یې بیا پلوري چې قیمتونه یې لوړ شي.*[111]

په خاش ولسوالۍ کې د کچالو لپاره د قیمتونو ټاکل یوه ستونزه ده، خو دې ستونزې ته باید له پراخ ځايي (شمالي افغانستان)، ملي او پولې دواړو غاړو ته سوداګرۍ له زاویې وکتل شي او تراوسه هېڅ راز څېړنه په دې اړه نه ده شوې چې دا بازارونه څه ډول فعالیت کوي. د

۱۰۷ . بدخشان ۱۴.

۱۰۸ . بدخشان ۰٦.

۱۰۹ . بدخشان ۰٦.

۱۱۰ . بدخشان ۰۷.

۱۱۱ . بدخشان ۱٦.

افغانستان د بازار ارقام[112] د ولایت پر اساس د کچالو قیمتونو پېچلي بدلون ته اشاره کوي، چې لامل یې په بېلا بېلو ولایتونو کې د کچالو موسمي تولید دی. نورو سرچینو[113] بیا په بامیانو ولایت کې چې د افغانستان د کچالو مرکز ګڼل کېږي، له مهمو تولیدوونکو یادونه کړې چې د کچالو په سوداګرۍ کې مهم رول لري، نو ښايي کچالو ته نسبتاً د توکي او بېلا بېلو ولایتونو اقتصاد په توګه کم ارزښت ورکړل شي، د دې محصول بازار لږ تر لږه په ځايي کچه ډېر کم د پام وړ دی. دا خبره مشخصاً د خاص ولسوالۍ د یو سوداګر نظر و:[114]

> *کچالو تر ډېره بریده کوم مهم محصول نه دی او خاش ولسوالۍ یې هم یوازېنی تولیدوونکې نه ده. دا محصول د خاش ولسوالۍ لپاره یوازې د محصول یوه نښه سرچینه ده، خو د ټول فیض آباد یا بل ښار اړتیاوې نه شي پوره کولای. د دې ترڅنګ په بدخشان کې د سبزیجاتو مافیا هم له خاش سره رقابت کوي. د خاش ولسوالۍ محصولات په ولایتي او ملي کچه د لویو سوداګرو د سوداګرۍ په سیستم کې کوم بدلون نه راوړي. ښايي په بامیانو کې یا هم په ملي کچه د کچالو یو شمېر مافیاوي کړۍ وي، خو په خاش ولسوالۍ کې موږ دا ډول مافیا نه لرو. د کچالو په سوداګرۍ کې کوم انحصاري سیستم نشته او دا محصول په هر بازار کې موندل کېږي، ځکه د افغانستان خلکو یو مهم خوراکي توکی دی. ان د بامیانو سوداګر هم بدخشان ته کچالو راوړي. د محصول ډول ته په کتو په دې اړه ډېر په اسانۍ قضاوت کېدلای شي، چې په بدخشان کې د دې محصول انحصاري کول ممکن نه دي.*

د مافیا پر اصطلاح په راتلونکې برخه کې غږېږو. خو د کارډ - اېف پروژه په خاش ولسوالۍ کې په ۲۰۱۲ز کال کې پای ته ورسېده. ډېرې باخبره اشخاصو د دې پروژې په اړه مثبت نظر درلود او کله چې دا پروژه پای ته ورسېده ډېر خواشیني وو.[115] که څه هم د کچالو د کرکیلې په برخه کې خلکو ته ورپېژندل شویو لارو چارو دوام درلود، خو د پروژې تر ختمېدو وروسته هغو کروندګرو چې کچالو یې کرل د کارګرانو ګمارل بس کړي وو او ټوله تکیه یې یوازې پر کورنیو سرچینو وه. یو باخبره شخص په ډله ییز بحث کې په لنډه توګو هغو بدلونونو ته اشاره کړې، چې نوموړي په خاش ولسوالۍ کې په خپلو سترګو لیدلي:

> *که چېرې له تېرو ۱۰ یا ۱۵ کلونو سره وضعیت پرتله کړو، نو اوس وخت ډېر ښه دی، خو که له تېرو ۵ کلونو سره یې پرتله کړو نو اوسني شرایط ډېر بد دي. ۱۰ یا ۱۵ کاله پخوا موږ هېڅ سړک نه درلود او نه هم دلته کومه نادولتي مؤسسه راغلې چې له خلکو سره مرسته وکړي. د سړک په سفالتې کېدو او د نادولتي مؤسسو په فعالیتونو سره زیاتره دا سې پروژې دلته راغلې چې له کروندګرو سره یې د عوایدو په غوړېدا کې مرسته وکړه. موږ په ډېرو روزنیزو پروګرامونو کې ګډون کړی او د کچالو د کرکیلې په اړه زموږ معلومات زیات شوي دي. په خاش ولسوالۍ کې د کارډ - اېف پروګرام د کارونو تر پای ته رسېدو وروسته په بدخشان او ټول هېواد کې ناامني زیاته شوه، نو له دې وجې نادولتي مؤسسو خپلې پروژې هم دلته راکمې کړې.*[117]

له نشه یې توکو سره د مبارزې موخو له مخې د دې پروژې د اغېزو ارزول ډېره پېچلتیا لري. تر یوه بریده، خاش ولسوالۍ ته د کوکنارو د کرکیلې له بیا راګرځېدو (۱ نقشه وګورئ) د دې پروژې په اړه جاج اخېستل کېدای شي. یو شمېر چارواکو[117] د کچالو پروژې ته د کوکنارو کرکیلې په له منځه وړلو کې په مثبت نظر کتلي دي: "د کارډ - اېف پروګرام یو ډېر ګټور بدیل رامنځ ته کړ، چې ورو ورو کروندګرو په خپله د کوکنارو کرکیله پرېښوده او د کچالو کښت یې زیات کړ." ځینو نورو بیا د پروژې ګټې په ښه وخت کې له رارسېدو سره تړلې ګڼلي، یعنې هغه وخت چې د کوکنارو قیمتونه مخ په ځوړ وو او دې پروژې د کچالو پر کښت تمرکز درلود، چې د کوکنارو بدیل محصول تشه یې په هغه موسم کې ډکه کړه. د دوی له قوله د یادو دوو توکو ترمنځ د بازار په جوړښتونو کې کوم توپیر نه دی راغلی، ځکه همدې سوداګرو د کوکنارو کروندې لپاره تخمونه، وسایل او پورونه ورکول، چې اوس یې د کچالو لپاره ورکوي.[118] دوی په دې اړه ډاډمن وو چې که چېرې د کوکنارو قیمتونه لوړ شي نو خلک بېرته د کوکنارو کرکیلې ته مخه کوي. دا هغه څه وو چې هلته په خاش ولسوالۍ کې پېښ شول.

---

۱۱۲ . WFP, VAM, Afghanistan Countrywide Weekly Market Price Bulletin, June ۲۰۲۰, https://cutt.ly/VRDUmLI

۱۱۳ . Ritchie and Fitzherbet ۲۰۰۸, Solidarites, Aide humanitaire d'urgence, Clichy-la-Garenne France ۲۰۰۸.

۱۱۴ . د ټلیفون له لارې مرکه، ۲۰۲۱ اکټوبر.

۱۱۵ . بدخشان ۱٦.

۱۱٦ . بدخشان ۰۱.

۱۱۷ . بدخشان ۱٦.

۱۱۸ . بدخشان ۱۲.

## ننګرهار

کاره – ابف په ننګرهار ولایت کې د کامې او بهسودو ولسوالۍ د خپلې پروژې د عملي کولو لپاره انتخاب کړې وې او دواړه ولسوالۍ په دې څېړنه کې هم شاملې دي. په کامه کې د کاره - ابف پروګرام په لومړي پړاو کې د چرګانو روزنې اقتصادي پرمختیا پروژه پلې شوه او په بهسودو کې یې بیا لومړیتوب د شنو خونو جوړول او د دې خونو له لارې د موسم خلاف سبزیجاتو تولید و. د کاره - ابف پروګرام لومړي پړاو بودجوي لګښتونو جزئیات له موږ سره نشته، خو د التنای مشورتي خدمتونو سازمان د راپور له مخې په ټولو ولایتونو کې د چرګانو روزنې او شنو خونو پر ارزښتیز ځنځیر د کاره - ابف پروګرام د دویم پړاو لپاره ټولې په پام کې نیول شوې بودجې ۷۴ سلنه لګول شوې.[119]

په بدخشان ولایت کې د خاش او په ننګرهار ولایت کې د نورو ولسوالیو برعکس کامې او بهسودو دواړو ولسوالیو ډېر پخوا د کوکنارو له کښت لاس اخېستی دی. یوازې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ز کلونو ترمنځ د قیمتونو لوړېدو پرمهال د یوې لنډې مودې لپاره په دې دوو ولسوالیو کې کوکنار کرل شوي. پردې سربېره، د کوکنارو د کښت احتمال د ارزونې[120] له مخې په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۹ز کلونو کې په دواړو ولسوالیو کې د کوکنارو کښت کچه ډېره زیاته کمه وه (دربېمه نقشه، دویم مل لیک وګورئ). برعکس، د ننګرهار په اچین او خوګیاڼو (دربېمه نقشه وګورئ) کې د کوکنارو د کښت ارزونې احتمال په ډاګه کوي، چې په پورته دواړو وختونو کې د کوکنارو د کښت کچه خورا زیاته لوړه وه، ان په ۲۰۱۹ز کال کې خو لا ډېره پسې لوړه شوې وه. د اچین او خوګیاڼو دوې ولسوالۍ د غرنیزې ځمکې او تنګو درو له لحاظه د کامې او بهسودو دوو هوارو ځمکو لرونکو ولسوالیو په پرتله له خاش سره د کرنیز چاپېریال له مخې ډېرې نېږدې دي.

له دې کبله په ننګرهار کې د کاره - ابف پروګرام لپاره دواړه انتخاب شوې ولسوالۍ داسې ځایونه و، چې د پروګرام تر پیل د مخه ډېرې پخوا د کوکنارو له کرکیلې لاس په سر شوې وې او له دې مخې له نشه یې توکو سره د مبارزې مقصد په برخه کې د کاره - ابف پروګرام لپاره اسان هدف و، ترڅنګ یې امنیت هم ډېر ډاډمن و. د کروندګرو له لوري د کوکنارو له کښت د لاس اخېستو دلیل دا و، چې په دواړو ولسوالیو کې چاپېریال ښې کرنې ته مساعد و او نسبتاً ښې خړوبېدونکې ځمکې هم لري، چې کروندګرو ته د دوه ځلې ان درې ځلې محصول ترلاسه کولو فرصت په لاس ورکوي، ترڅنګ یې ښاري بازار ته نېږدې والی هم دوی ته غوره اقتصادي بدیلونه په واک کې ورکوي. که څه هم د شنو خونو اقتصادي پرمختیا پروژې پر ډېرو کمو فردي کروندګرو د کوکنارو کروندې په وړاندې د بدیل عوایدو پر رامنځ ته کولو تمرکز درلود، خو دا خبره بیا د چرګانو روزنې په پروژه کې په اسانۍ د صدق وړ نه ګرځي. د یادونې ده، چې د دې پروژې د ځینو برخو تمرکز په کوچنۍ طبقه فارمونو کې د ښځو لپاره د بوختیا پر رامنځ ته کولو و، خو په عمل کې د چرګانو روزنې پرمختیایي پروژې تمرکز په سوداګریزه کچه پر منځنۍ طبقې کروندګرو و. یوازېنۍ ظرفیت چې له دې لارې رامنځ ته کېده، هغه په فارمونو کې د اضافي کاري بوختیاوو رامنځ ته کول و.

بهسود او کامه دواړه د ننګرهار مرکز جلال آباد ښار ته نېږدې پرتې دي او لکه څنګه چې له دویمې نقشې معلومېږي، کرنیزې ځمکې او د کرنې لپاره مساعدې زیاتې هوارې دښتې لري. بهسود دویمه درجه خو کامه بیا لومړی درجه ولسوالي ده، چې له شک پرته د یادو ولسوالیو سیاسي اغېز په ګوته کوي. پردې سربېره، د معلوماتو له مخې بهسود د کامې په پرتله ډېره کروندې ته مساعده ده، له همدې کبله د شنو خونو پروژې لپاره ټاکل شوې وه. د یادونې ده، چې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۹ کلونو[121] ترمنځ د بهسودو کرنیزې ځمکې نېږدې ۴۵ سلنه او د کامې ځمکې بیا ۲۰ سلنه لا نورې پسې پراخې یا غځول شوې، چې د کاره - ابف پروګرام په مرسته د کرنیزو اسانتیاوو ترمیم او پرمختیا په ګوته کوي.[122]


---

۱۱۹ . د التای مشورتي خدمتونو شرکت، " د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام ارزونه،" د لومړی نیمایي راپور، (د التای مشورتي خدمتونو شرکت، ۲۰۱۷، ۱).

۱۲۰ . السایز، په ۲۰۲۱ز کال کې د کامې، بهسودو، خوګیاڼو او اچین ولسوالیو د کوکنارو کرکیلې د احتمال ارزونه.

۱۲۱ . د السایز له لوري په ۲۰۲۱ز کال کې د ارزونې له مخې په بهسودو کې کرنیزه ساحه د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۹ز کلونو ترمنځ له ۷۳۰۸ هکتارو څخه ۱۰۶۴۴ هکتارو ته (۴۵ سلنه) زیاته شوې ده، په کامه کې بیا دا ساحه په همدې یاد شوي وخت کې ۲۰ سلنه ( له ۶۹۷۵ هکتارو څخه ۸۳۴۱ هکتارو) ته زیاته شوې ده.

۱۲۲ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۲




دويمه نقشه. د ننګرهار په کامه، بهسودو، خوګيانو او اچين ولسواليو کې د کرنيزې ځمکې موقيعتونه

کامه او بهسود يو تر بله جلا تاريخونه او د واک جوړښتونه لري. کامه ټاکلي مشران لري، چې مشرتوب د ملک (يا هم کلي مشر) سيستم[۱۲۳] له لارې په ميراث ورته پاتې شوی او دا مشران له ډېر زيات قدرت هم برخمن دي. ياد ملکان پراخې ځمکې لري او په پارلمان يا ملي شورا کې د يادې ولسوالۍ له غړو سره ښې اړيکې لري. په دې اړه يو ګډونوال موږ ته وويل، چې: "دا ملکان په حکومت کې کار کوي يا يې په سياسي لحاظ د سياستوالو او لوړپوړو حکومتي چارواکو له لورې ملاتړ کېږي."[124] برعکس کامه بيا له نورو ولايتونو په دې وروستيو کې د راغلو کډوالو له مېشت کېدو جوړه شوې او له کامې سره ورته د ځمکو خاوندانو په څېر د قدرت مخينه نه لري، د بهسودو ولسوالۍ ملکان د کامې ملکانو په پرتله له کم قدرت برخمن دي. دا توپير د يو بل ګډونوال له لورې په لاندې ډول بيان شوی:

*څرنګه چې يادونه مې وکړه په بهسودو ولسوالۍ کې حکومت ډېر فعال دی او ملکان پر ولسوال کوم نفوذ نه شي کولای. خو په کامه کې برعکس که چېرې ولسوال د ملکانو په خوښه کار ونه کړي، نو په ډېرې اسانۍ د همدې ملکانو له لوري بدلېږي.*[۱۲۵]

د پروژو د پلي کولو لپاره درې اداري انتخاب شوې وې: د چرګانو روزنې پرمختيايي پروژې لپاره ايټالټينټ، د شنو خونو لپاره د کندز بيارغونې اژانس، چې له حکومت سره د نادولتي سازمان يا انجيو په توګه ثبت و، او د زېربنا لپاره د داوود ساختماني شرکت. پردې سربېره، له **۲۰۱۴**ز کال وروسته د اقتصادي پرمختيا پروژو پلې کول د کارډ - ابف پروګرام کارکوونکو په غاړه واخېستل، او د زېربناوو جوړولو مسووليت بيا د کليو بيارغونې او پرمختيا وزارت له لوري واخېستل شو.

۱۲۳ . دا سيستم په ننګرهار کې همداسې مروج دی.

۱۲۴ . ننګرهار – لومړی پړاو – ۰۴

۱۲۵ . ننګرهار – دريیم پړاو – ۰۹

## د کارړ - ایف پروګرام د شنو خونو پرمختیایي پروژه

په خاش ولسوالۍ کې د کچالو پرمختیایي پروژې برعکس د شنو خونو ارزښتيز ځنځير په اړه د بدلون نظريې په برخه کې او هم يې د رقابتي هارټيکلچر سکتور د رامنځ ته کولو لپاره د انګېزو په اړه پراخ جزئيات موجود دي.[۱۲۶] د بدلون دې نظريې انګېرنه دا وه، چې رقابت به د دندو رامنځ ته کېدو، کليوالي وګړو د عوايدو زياتوالي او د وارداتو د ځای ناستي له لارې د افغانستان کرنيزې سوداګرۍ د توازن لامل شي. هغه لارې چارې چې د دې کار د ملاتړ لپاره د کارړ - ايف پروګرام تر چتر لاندې په ګوته شوې، لنډيز يې په لاندې دويم جدول کې بيان شوی.

**۲ جدول. د شنو خونو پرمختيايي پروژې په برخه کې د کارړ ايف پروګرام فعاليتونه[۱۲۷]**

| د شنو خونو پرمختيايي پروژې فعاليتونه | جزئيات |
| --- | --- |
| لومړنی ملاتړ | د برخه والو انتخاب، د شنو خونو عرضه کوونکو انتخاب، د شنې خونې په خطر کې د ونډې اخېستنې مرستندويه کڅوړه، د نورو شنو خونو له کروندګرو سره زده کړنيزې ليدنې. |
| غځول او روزنه | د شنو خونو او د هغوی د مديريت په اړه روزنه ورکول، غځوونکي خدمات او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د ولسوالۍ چارواکو روزل، د سوداګرۍ پرمختيا خدمات (مثلاً د يادښتونو ساتل او نور). |
| په بازار کې لاسوهنې | د شبکې رامنځ ته کولو په مراسمو کې اسانتياوې رامنځ ته کول څو پېرودونکو ته پلورونکي ورپېژندل شي؛ د محصولاتو راټولولو مرکزونو په څېر د ارزښتيز ځنځير رامنځ ته کولو په برخه کې مشورې؛ د لوړ ارزښتيز ځنځير لرونکو سره د مرستو کول. |
| اداري ملاتړ | د ټولنو له جوړولو ملاتړ کول، د سوداګرۍ پرمختيا خدمتونه او نور. |

په شنو خونو کې کرل شوي محصولات بانجان او بادرنګ دي. د الټای ۲۰۱۷ز کال ارزونې[۱۲۸] له مخې په افغانستان کې ۸۰ سلنه مصرفېدونکي بانجان په خپله په کور د ننه توليد شوي وو، چې يوه کمه اندازه يې د پولې هغې غاړې ته صادر شوي يا له هغې غاړې وارد شوي دي. د دې ترڅنګ د الټای د راپور له مخې د بانجانو صادرات پر پوله له خنډ او ځنډ سره هم مخ شوي، چې د محصولاتو پر له پسې خوسا کېدو او ضايع کېدو لامل ګرځېدلي. د بادرنګو د توليد بڼه هم له بانجانو سره ډېره ورته ده. له دې کبله د دواړو محصولاتو د توليد پراختيا لپاره ښه فرصت د پسرلي پيل و، چې زياترو وارداتي محصولاتو په دې وخت کې بازار نيولی و. له دې کبله د غو محصولاتو په دې وخت کې ډېر ګرم بازار درلود.

د الټای د راپور له مخې تر ۲۰۱۷ز کال پورې نېږدې ۲۴۰ شنې خونې (د هېواد ټولو شنو پرمختيايي پروژې شاوخوا ۵۰ سلنه) د کارړ - ايف تر چتر لاندې په ننګرهار کې جوړې شوې وې.[۱۲۹] د يادونې ده، چې په ټول افغانستان کې د بېلا بېلو نورو پروګرامو له لارې نېږدې ۱،۰۰۰ شنې خونې جوړې شوې دي. که څه هم د ولسواليو په کچه ټاکلې تفکيک نشته، خو د کارړ - ايف پروګرام تر چتر لاندې زياتره شنې خونې په بهسودو کې جوړې شوې او يو کم شمېر نورې يې په کامه کې جوړې شوې. د الټای د ارزونې له مخې په ننګرهار کې يادو شنو خونو د ياد ولايت ۰.۴۲ سلنه بانجانو د توليد او د موسم برعکس توليد د سوداګرۍ حجم ۲۷ سلنه برخه جوړه کړې.[۱۳۰] په همدې ترتيب په دې شنو خونو کې د بادرنګو کښت د ځايي توليد نېږدې ۳.۷ سلنه او د موسم برعکس توليد د سوداګرۍ حجم شاوخوا ۱۱.۸ سلنه برخه جوړه کړې ده. پردې سربېره، د الټای په خبره د شنو خونو نسبتاً کم شمېر ته په پام د دندو په رامنځ ته

۱۲۶ . د الټای مشورتي خدمتونو شرکت، دويمې نيمايي راپور.

۱۲۷

۱۲۸ . د الټای مشورتي خدمتونو شرکت، د لومړی نيمايي راپور.

۱۲۹ . مخکنی، ۴۳.

۱۳۰ . مخکنی، ۴۴.

کولو کې د دې خونو اغېزې هم محدودې دي.[۱۳۱] التای دا خبره هم کړې چې په قیمتونو کې د وسایلو د لګښتونو او تولید د خرڅلاو له مخې هم ډېر نوسان موجود و، نو کروندګر د دې جوګه نه و څو خپل محصولات یا تولیدات په هغه بیه وپلوري چې د پروژې په ډیزاین کې په پام کې نیول شوې وه.

د التای د راپور له مخې د ۲۰۱۸ز کال تر پای پورې په ننګرهار کې زیاتره شنې خونې له منځه ولاړې او زیاترو خلکو خپلې خونې پر نورو پلورلې دي.[۱۳۲] د دې ترڅنګ د وسایلو په قیمتونو کې د نوسان ستونزه هم وه، چې پر پوله د اوړدو اداري پړاوونو او د پولې تړل کېدو دغه راز د صنفي ټولنو د نه موثریت له وجې وه. د التای په وینا، چې: "داسې شواهد نه دي موجود څو د بازار اړیکو له پیاوړې کولو ملاتړ وکړي یا ان د دغو اړیکو په پیاوړتیا کې د پرمختګ رامنځ ته کولو سره مرسته وکړي."[133]

له ګڼ شمېر اړخونو زموږ ساحوي موندنې دا پایلې تاییدوي. پردې سربېره مو د قیمتونو د نوسان، د صنفي ټولنو د منفعل وضعیت او بالاخره په پای کې د برخه والو د شنو خونو په برخه کې له پانګونې د لاس په سر کېدو عوامل هم راسپړلي دي.

په بهسودو ولسوالۍ کې د ګټه اخېستونکو د انتخاب پروسه نسبتاً د شخصي اړیکو له نفوذ خوندي وه. د یو ونډه وال خبرې، چې اصلاً د خوګیانیو دی خو په ۲۰۰۸ز کال کې په بهسودو ولسوالۍ کې مېشت شوی او خپله نهه جرېبه ځمکه یې په شراکت ورکړې او ۲ جرېبه نوره ځمکه یې بیا په اجاره ورکړې، دا موضوع تاییدوي:

> *د شنې خونې لپاره پروسیجر دا و، چې کروندګر باید یو غوښتنلیک لیکلی وای، چې غواړي د کارډ - ایف له پروګرام یوه شنه خونه ترلاسه کړي او چمتو دی، چې هغه ټاکل شوی اندازه لګښت هم ورکړي او کافي ځمکه هم لري. بیا د کلي ملک یا مشر باید تایید کړې وای، چې یاد کروندګر د همدې سیمې دی او کافي ځمکه هم لري. ما همدا پروسیجر پرمخ یوړ او بیا مې خپل غوښتنلیک د کارډ - ایف پروګرام دفتر ته وروړ، بالاخره دوی راغلل او سروې یې وکړه... زه د پروژې لپاره ومنل شوم او دوی راته شنه خونه جوړه کړه، د شنې خونې مجموعي لګښت ۴۰۰ ،۴ امریکایي ډالر و او د کروندګر له لوري ورکول کېدونکی لګښت ۳۲۰ ،۱ امریکایي ډالر (۳۰ سلنه و). ما خپله ۰۰ ،۱۱ امریکایي ډالر ورکړل، او د پاتې نورو په بدل کې چې ۲۲۰ امریکایي ډالر کېدل په همدې خونه کې مې د کارګر په توګه کار وکړ.*[۱۳۴]

نوموړي په دې اند و، چې د ده په څېر زیاترو نورو کروندګرو هم د شنو خونو غوښتنې کړې او د پروګرام له خوا انتخاب شوي دي. د نوموړي د مشاهدې له مخې د کارډ - ایف پروګرام هېڅ‌ا ته په انتخاب کې د نفوذ اجازه نه ورکوله او "ان دا چې د پروګرام کارکوونکو زموږ غرمنۍ نه خوړله او نه یې هم یو ګیلاس چای څښل. دوی به ویل، چې موږ په کافي اندازه معاش لرو او د ځان لپاره خوراک او څښاک پرې اخېستلای شو."[135] نوموړي د روزنیزو ناستو او ورکشاپونو دایرولو او د وسایلو ورکول لکه د تولید د ښه کولو لپاره د تخمونو او کمیاوي سرې ورکړې په اړه هم په جزئیاتو خبرې کړې. د کار له پیل د ملاتړ او غځولو دغه راز د روزنې د ګټې په اړه د نوموړي خبرې د نورو ګډونوالو له خوا هم تایید شوې دي. د دې ملاتړ اساسي خبره دا وه، چې نه یوازې د پروژې تر چتر لاندې وسایل ورکول کېدل بلکې د بوستان سبز په نوم یې یو ډاډمن پېرودونکی هم ورته برابر کړی و، چې تولیدات به یې په مناسب قیمت ترې اخېستل، خو د پروګرام د ملاتړ تر پای ته رسېدو وروسته یې قراردادونه ختم کړل. د قرارداد د لغوه کولو دلایل نامعلوم دي، خو دې کار بازار ډېر سوړ کړ.

دې ونډه وال خپلې خبرې په لاندې ډول راونغاړلې:

> *پردې سربېره، موږ د کارډ - ایف د پروګرام له نتایجو ډېر خوښ وو، او ډېر ښه عواید مو لرل، خو پروژه ډېره ژر پای ته ورسېده او قراردادیانو هم له موږ لاس واخیست، نو موږ نه شول کولای چې یادو شنو خونو کې خپل کار ته دوام ورکړو. دا چې خلک د شنو خونو د بیا نوي کولو لګښت جوګه نه وو، نو دوی ټولو خپلې شنې خونې وپلورلې او اوس په بهسودو کې هېڅ شنه خونه نشته.*[۱۳۶]

---

۱۳۱ . مخکنی، ۴۴.

۱۳۲ . دا د سترګو لیدلی حال د ټولو باخبره اشخاصو له لوري تایید شوی دی.

۱۳۳ . د التای مشورتي خدمتونو شرکت، د دویمې نیمایي راپور، ۱۱.

۱۳۴ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۸.

۱۳۵ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۸.

۱۳۶ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۸.

دا خبره تراوسه هم مبهمه ده، چې دا شنې خونې پر چا پلورل شوې، خو زیاترو باخبره اشخاصو ویلي چې پر بوستان سبز شرکت پلورل شوي. یاد شرکت ظاهراً له بهسودو ولسوالۍ شاوخوا ۱۰۰ شنې خونې د ټول لګښت ۳۰ سلنه په ورکولو سره پېرلې او د کابل ښار ۱۷مې ناحیې ته څېرمه د شکردرې ولسوالۍ کاریزمیر سیمې ته یې انتقال کړې دي. ځینې شنې خونې د کابل په شمال لوېدیځ پغمان ولسوالۍ کې نصب شوي دي. د دې امکان نه و، چې د دغو شنو خونو دقیق ځای او کاروونکي یې معلوم شي.

لکه څنګه چې د التای له ارزونو هم معلومیږي، د شنو خونو د ناکامۍ تر ټولو اصلي لامل قیمتونه وو. پردې سربېره، په داسې حال کې چې التای د قیمتونو نوسان تاییدوي، خو په دې اړه یې څېړنه نه ده کړې چې د قیمتونو د نوسان اصلي لامل څه و، یوازې یې د پولو دواړو غاړو ته له نامعلومو موضوعاتو او د صنفي ټولنو کمزوري فعالیت یادونه کړې. باخبره اشخاص د دې موضوعاتو د بیانولو په اړه ډېر چمتو و، چې وواېي واقعاً دا غوټه چېرته تړلې وه. که خبره رالنډه کړو بازار د زورواکو له لوري کنټرول کېده او دوی قیمتونه هم په خپله خوښه ټاکل او صنفي ټولنې یې هم په خپله ګټه راڅرخولې. یو ګډونوال چې دوه کاله یې د کارډ - اېف پروګرام لپاره کار کړی و، د قیمتونو له بې شمېره نوسانونه یادونه کړې او دا خبره یې تایید کړې چې لویو سوداګرو چې له حکومت سره یې هم اړیکه لرله قیمتونه په خپله خوښه ټاکل. یو بل کوچنی کروندګر بیا په دې اړه راسره غږېدلی، چې ولې یې خپل سبزیجات په ځایي کچه په خپل کلي او شاوخوا نورو کلیو کې پلورل:

*یو شمېر خلک دي... چې د سوداګرو په نوم فعالیت کوي، خو په واقعیت کې دوی ټول د بازار مافیا ده. دوی هغه اصلي خلک دي، چې قیمتونه په خپله خوښه ټاکي او یوازې د خپلو ګټو په لټه کې دي. له بده مرغه، حکومت یې په وړاندې کوم اقدام نه کوي. عمده دلیل چې دوی یې وړاندې کوي دا دی، چې ازاد بازار دی. دا خبره ناسمه ده، سوداګرو ټول بازار په خپل انحصار کې اخیستی او دوی د سبزیجاتو قیمت په خپله خوښه ټاکي او بازار رهبري کوي.*[137]

د "مافیا" اصطلاح په ننګرهار کې د زورواکو سوداګرو لپاره ډېره کارول شوې. په پخوا وختونو کې دا اصطلاح په ایټالیا کې د سیسلي جرمي شبکې لپاره کارول شوې.[138] په سویلي آسیا کې دې اصطلاح ځانګړې معنا او اواز پیداکړی او معمولاً د هغو سوداګرو لپاره کارول کېږي چې له سیاسي ملاتړ برخمن دي او پر یو ځانګړې سکتور او سوداګرۍ تر قانون د لوړو او زور کارونې لارو چارو له لارې د انحصار په لټه کې دي.[139]

دا خبره په بازار کې د سبزیجاتو او مېوو ټولنې د یو غړي سره له خبرو کولو جوته شوه،[140] چې شاوخوا یې ساتونکي تړې راتاو وو او د مافیا اصطلاح افغاني کارونې ورسره مطابقت درلود. نوموړې د هغو امتیازاتو یو نرم تصویر وړاندې کړ، چې کروندګرو ته یې ورکول:

*کروندګرو ته په بازار کې د سوداګرو له لوري د کمیاوي سرې او تخمونو د پېرلو لپاره پورونه ورکول کېږي، کله چې دوی خپل محصول ترلاسه کړي نو زموږ پورونه بېرته اداء کوي. کروندګر یا موږ ته د پورونو په بدل کې خپل محصولات راکوي یا هم محصولات پر نورو پلوري او موږ ته یې پیسې راکوي. هغه پورونه چې موږ یې کروندګرو ته ورکوو سود یې ترې نه اخلو. د دې ترڅنګ موږ کوچنیو کروندګرو ته په داسې بڼه پور ورکوو، چې دوی یې د وخت په تېرېدو د قسطونو په ډول بېرته موږ ته اداء کړای شي. د بېلګې په توګه یو کروندګر ماته راځي او د ۱۰۰ منه کچالو غوښتنه کوي، خو یوازې نیمایي پیسې راکوي، پاتې نیمایي برخه پیسې بیا هغه وخت راکوي چې کله خپل محصولات وپلوري او پیسې ترلاسه کړي. بیا ورپسې په همدې ډول نور محصولات په پور اخلي او اونۍ یا هم میاشت وروسته پیسې راکوي. اوس مهال په کابل او ننګرهار کې له ۳۰ زیاتو کوچنیو کروندګرو له ما پورونه اخیستي دي. هغه ټولې پیسې چې او سمهال له ما په پورونو کې تللي دي، له ۱۸۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو زیاتې دي. خو په تدریجي ډول د پنځو یا شپږو میاشتو په ترڅ کې بېرته راکول کېږي.*[141]

۱۳۷ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۲.

۱۳۸ . M. Watts, "The Mafia of a Sicilian Village, ۱۸۶۰-۱۹۶۰; A Study of Violent Peasant Entrepreneurs by Anton Blok," The Journal of Peasant Studies ۴۳, no. ۱ (۲۰۱۶): ۶۷-۹۱.

۱۳۹ . B. Harriss-White, and L. Michelutti (eds.), The Wild East: Criminal Political Economies in South Asia, (London: UCL Press, ۲۰۱۹).

۱۴۰ . ننګرهار – درېیم پړاو – ۱۴.

۱۴۱ . ننګرهار – درېیم پړاو – ۱۴.

کـه څـه هـم د دې شـخص ادعـاء دا وه چې پورونـه پـه سـود نـه ورکـول کېږي او کروندګـر ازاد لاس هـم لـري، چې خپـل محصـولات پـر نـورو وپلـوري، خـو د دې ډول پورونـو ترلاسـه کوونکـو لـه نظـره دا خبـره بيـا برعکـس وه.

کروندګـرو تـه د دا ډول نارسـمي پـور ورکـول اصلاً کروندګـر پـه دې مکلفوي چې خپـل محصـول د امتيـاز يـا پـور پـر ورکوونکـي وپلـوري، چې پـه اصطلاح کـې د تړلـي قـرارداد پـه نـوم يادېـږي او د کوکنـارو د کرکيلـي او توليـد ځانګړنـه هـم ده. د يـو قـرارداد شـرط د بېلګـې پـه توګـه د پـور ورکـول پـه خپلـه د بـل قـرارداد پـه شـرط بدلېـږي، مثـلاً د محصـول بيـه مخکـې لـه مخکـې ټـاکل کېـږي. پـه دې ځـای کـې لـه دوا ړو خـواوو سـوداګر ګټـه کـوي. دا پديـده پـه هندوسـتان[142] کـې هـم ډېـره عامـه ده او پـه افغانسـتان کـې هـم مروجـه ده. لـه دې کبلـه مسـتقيم او غيرمسـتقيم ګټـه اخيسـتونکي د ورکـړې او راکـړې پـه بازارونـو کـې پـه محروميـت کـې رايسـارېږي. دا کار بازارونـو تـه د ناعادلانـه لاسرسـي لامـل کېـږي، پـه دې معنـا چې ځينـې د دې جوګـه ګرځـوي ځـو د نـورو پـه پرتلـه ډېـره ګټـه ترلاسـه کـړي. لـه دې کبلـه هغـه فرضيـه چې د راکـړې او ورکـړې ترمنـځ د تـړاو اسـاس جـوړوي، دلتـه خپـل رنـګ او معنـا لـه لاسـه ورکـوي.

هغـه کروندګـر چې پـه دې ډول قرارادادونـو کـې نـه وي رااېسـار شـوي يـا پـه خپلـه خوښـه د محصولاتـو د پلـور پـه لټـه کـې وي، بايـد پـه جـوړو شـويو ځايونـو کـې يې خپـل محصـولات پلورلـي وای. پـه کامـه کـې دا بازارونـه د يـوې ډلـې زورواکـو ملکانـو پـه لاس کـې وو. کـه څـه هـم پـه نظـري لحـاظ قيمتونـه د بولـۍ سيسـتم لـه مخـې ټـاکل کېـږي، خـو د باخبـره اشـخاصو لـه نظرونـو دا خبـره جوتـه شـوه چې د بولـۍ پـه سيسـتم کـې فرېـب او درغلـي کېـږي. د بـازار سـاحې تـه د سـبزيجاتو وړلـو پروسـې پـه اړه يـو کروندګـر داسـې ويلـي:

*لومـړی مـوږ خپـل محصـولات راټولـوو او بيـا يـې وزن معلومـوو او پـه پلاسـتيکي خلتـو يـا پاکټونـو کـې يـې بنـدوو. لـه دې وروسـته تـر بـازار پـورې يـو زرنـج پـه کرايـه نيسـو او خپـل محصـولات پـه بـازار کـې پلـورو. وروسـې دلالان بولـي کـوي او لومړنـی قيمـت ټاکـي. دا دلالان لـه لويـو سـوداګرو سـره تړلـي دي او د بولـۍ قيمتونـه هـم د لويـو سـوداګرو د غوښـتنې لـه مخـې ټاکـي. زه فکـر کـوم دلالان لـه لويـو سـوداګرو سـره خبـرې کـوي او د بولـۍ لپـاره د داسـې لومړنيـو نرخونـو پـر سـر هوکـړه کـوي چې د همـدې سـوداګرو پـه ګټـه وي. کلـه چې دلالان د پلـور لپـاره نـاري وهـي او د بولـۍ لپـاره ټيـټ قيمـت ټاکـي، نـو سـوداګر يـې پېـري او بيـا يـې دا سـوداګر پـر نـورو خلکـو يـا هـم د نـورو ولايتونـو پـر سـوداګرو پـه لـوړ قيمـت پلـوري. کلـه چې لـوی سـوداګر د بولـۍ لـه لارې توکـي اخلـي نـو دلالانـو تـه ډېرې پيسـې ورکـوي. دا ډول معاملـه د کروندګـرو پـه ګټـه نـه ده، خـو د لويـو سـوداګرو پـه ګټـه ده. مـوږ دا خبـره کـولای شـو چې د نرخونـو يـا قيمتونـو پـه ټاکلـو کـې بولـي کوونکـی دلال او سـوداګر رول لـري.*[143]

دا چې د سـړو خونـې اسـانتياوې نشـته، نـو د ژر خرابېدونکـو سـبزيجاتو پـه برخـه کـې کروندګـر پرتـه لـه دې چې پـه ټـاکل شـوي قيمـت خپـل محصـولات وپلـوري، بلـه لاره نـه لـري. جـوړې شـوي ټولنـې هـم د کروندګـرو پـه ګټـه کار نـه کـوي. پرځـای يې دوی د لويـو سـوداګرو لـه لـوري کنټرولېـږي، لکـه زمـوږ مخکنـي ګډونـوال چې دا خبـره روښـانه کـړه. نومـوړي دا هـم پـه ګوتـه کـړه، چې د سـبزيجاتو او مېـوو ټولنـې مشـرتابه څنګـه پرخپـل ځـای پاتـې شـوی، نومـوړي وويـل چې سـوداګر او د ټولنـې غـړي پـه هـره دوره انتخاباتـو کـې مـوږ تـه رايـه راکـوي او دا وايـي چې تاسـو زمـوږ مشـران او ملاتـړي يئ، نـو دا بـه ښـه وي چې تاسـو پـه خپلـو ځايونـو پاتـې شـئ.[144]

پـه ټولـه کـې پـه ننګرهـار کـې د سـبزيجاتو بازارونـه د دوی پېچلـي موسـمي اړخونـو، د پولـې دواړو غـاړو تـه د پاکسـتان لـه لـوري د رقابـت او د زورواکـو سـوداګرو لـه لـوري د بـازار څرخولـو لـه املـه د ډېـرو کروندګـرو لپـاره لـه خطـر سـره مـل دي. دا خبـره هغـه مخکنـۍ پايلـې تاييـدوي، چې د پيـازو ولايتـي بـازار پـه اړه وړانـدې شـوې.[145] پـه دې بازارونـو کـې پـه سـړو خونـو کـې د موسـم خـلاف توليـد لـه لارې يـوازې پـه هغـه وخـت کـې ځـای ترلاسـه کېـدلای شـي چې د بـازار بشـپړ ملاتـړ هـم د وسـايلو برابرولـو او هـم د قيمتونـو د ټاکلـو لـه لارې موجـود وي. کلـه چې دا ډول ملاتـړ پـای تـه ورسـېده، ډېـری کروندګـرو خپلـې شـنې خونـې وپلورلـې. د کروندګـرو لـه لـوري پـه بـازار کـې د ښـکېلېدو شـرايطو پـه اړه ډېـرې تجربـې او درسـونه دي، چې د مباحثـې پـه برخـه کـې بـه ورتـه راوګرځـو. اوسـمهال مـوږ د کارډ – ايـف پروګـرام پـه ملاتـړ د چرګانـو روزنـې سـکتور کتنـې تـه ورځـو، چې پـه ډېـرو څرګنـدو مثالونـو سـره د سـوداګريزې کرنـې تـګلاره بيانـوي.

۱۴۲ M. Ali-Jan and B Harriss-White. "The Three Roles of Agricultural Markets: A Review of Ideas about Agricultural Commodity Markets . in India." Economic and Political Weekly, Vol XLV۱۱, no. ۵۲ (۲۰۱۲): ۳۹-۵۲.

۱۴۳ . ننګرهار – دويم پړاو – ۰۹.

۱۴۴ . ننګرهار – دريم پړاو – ۱۴.

۱۴۵ . G. Minoia, et al., "Peeling the Onion Social Regulation of the Onion Market, Nangarhar, Afghanistan".

## د کارډ - ایف پروګرام د چرګانو روزنې پروژه

په ننګرهار کې پر شنو خونو د پانګونې پروژې برعکس، د کارډ - ایف تر چتر لاندې د چرګانو روزنې پروژې تمرکز پر هرات او کندهار ولایتونو و، له دې امله په ننګرهار کې د ځانګړو مداخلو او د دې پروژې د اغېزو په اړه د التای مشورتي شرکت له لوري کوم جزئیات نه دي وړاندې شوي. د چرګانو روزنې ارزښتیز ځنځیر ګڼ شمېر پړاوونه لري. په لومړي قدم کې د هګیو له تولید(طبقاتي فارمونو ) او چرګې غوښې تولید (چرګوړو فارمونو ) سره تړاو لري. په دویم قدم کې د نویو رسېدلو چرګوړو (چې د چرګوړو تولید ماشینونو، پالونکو فارمونو له لارې تولید شوي وي یا هم وارد شوي وي) ، دانې، او د تولید لپاره وترنرۍ له اړینو درملو سره تړاو لري. د عرضې او رقابت په برخه کې د پولې دواړو غاړو ته د سوداګرۍ په تېره بیا د پاکستان او ایران له لوري د وارداتو له پېچلو اړخونه سره هم تړاو لري. دا پوله د جلال اباد ، کندهار ، هرات او بلخ ولایتونو ښاري مرکزونو ته چېرته چې د افغانستان د چرګانو روزنې صنعت د خپلې عرضې لپاره ښاري بازارونه پیدا کړي، موقعیت لري. ننګرهار (ژوندیو یا هم یخچالونو کې) د چرګانو د وارداتو له مخې لومړی مقام، هرات دویم، بلخ دریېم او کندهار څلورم مقام لري. د دې ترڅنګ د ولسوالۍ او کلیو بازارونو لپاره هم پراخ شمېر کوچني تولیدي فارمونه دي، خو دې فارمونو ته د کارډ - ایف پروګرام تر چتر لاندې د چرګانو روزنې په پروژه کې لومړیتوب نه دی ورکړل شوی.

د چرګانو د روزنې پروژې انګېزه دا وه چې د چرګانو له یو داسې رقابتي سکتور رامنځ ته کولو او پرمختیا سره مرسته وکړي، چې په کلیوالي سیمو کې د کاري بوختیاوو رامنځ ته کولو، عوایدو زیاتوالي او د افغانستان کرنیزې سوداګرۍ په کچه کې د توازن رامنځ ته کولو لامل شي. د دې موخو ترلاسه کولو لپاره د کارډ - ایف پروګرام د مهمو وسایلو برابرولو، تولیدي اسانتیاوو پرمختیا او له تولید د ملاتړ په موخه د تخنیکي مرستو برابرولو لپاره بلا عوضه مرستې وکړې.(۳ جدول وګورئ)

**۳ جدول. د چرګانو روزنې پرمختیايي پروژې په برخه کې د کارډ - ایف پروګرام فعالیتونه[146]**

| د چرګانو روزنې پرمختیايي پروژې فعالیتونه | جزئیات |
|---|---|
| اعانې (محصولات) | د سوداګریزې طبقې فارمونه؛ د سوداګریزې غوښې فارمونه، کوچني طبقه فارمونه |
| تخنیکي مرسته | د پراختیا خدمات، د اسانتیاوو د طرحه کولو خدمتونه، د سوداګرۍ پرمختیا خدمتونه، د حیواناتو روغتیا مشورتي خدمتونه، د ټولنو جوړولو په برخه کې ملاتړ. |
| اعانې (وسایل) | د دانو کارخونې؛ پالونکي کروندګر؛ تولیدي کارخونې؛ د ځوانو چرګانو بدلول. |

د ښځينې ډلې ګډونوال له قوله چې د کارډ - ایف پروګرام[147] لپاره یې کار کړی و، په کامه کې د چرګانو روزنې ۷۰۰ فارمونه جوړ شوي وو. له دې ډلې پنځوس یې لوی فارمونه و، چې ظرفیت یې په یو تولیدي دوران کې ۵،۰۰۰ چرګان و او پاتې نور یې یا هم د منځنۍ کچې فارمونه (په یو تولیدي دوران کې له ۱۰۰ تر ۵۰۰ پورې چرګان) یا هم کوچني فارمونه وو (چې په یو دوران کې له ۳۰ تر ۲۰ چرګانو د تولید ظرفیت درلود). پردې سربېره، د یو جلا شاهد په وینا د تولید لپاره په پیل کې ملاتړ موجود و، خو دوامداره نه و. که څه هم د چرګانو روزنې لوی فارمونه اوس هم شته، خو د منځنۍ کچې او کوچنیو فارمونو له ډلې یې زیاتره د وخت په اوږدو کې له منځه تللي دي. د چرګانو روزنې یو لوی فارم کارکوونکي[148] هم دا خبره تایید کړې او ویلي دي، چې د کارډ - ایف پروګرام د هغو ننګونو په اړه کم معلومات لرل، چې د چرګانو تولیدي برخه ورسره مخ ده.

د چرګانو روزنې ارزښتیز ځنځیر په اړه د بدلون نظریه د قیمت او رقابت له مخې د پانګوالۍ یا کاپیټالېسټې بازارونو د پرمختیا په برخه کې د یوې ټولګې فرضیو پر اساس رامنځ ته شوې ده، خو د چرګانو بازارونو دا فرضیې په تېره بیا په کامې ولسوالۍ کې ننګولې دي. د ښځينې ګډونوالو له لوري په تېره بیا په کامه کې دا خبره ډېره شوې، چې ملکانو پر دغو بازارونو سخت سیاسي نفوذ درلود. یو ملک د دې خبرو په تایید ویلي، چې:

۱۴۶

۱۴۷ . ننګرهار – لومړی پړاو – ۰۵.

۱۴۸ . ننګرهار – دربیم پړاو – ۰۸.

*د دغو ملکانو اقتصادي وضعيت د نورو اوسېدونکو په پرتله ښه دی. دا خلک په کامه کې د پراخو ځمکو خاوندان دي. دا ملکان په حکومت کې کار کوي یا یې د سیاستوالو او لوړپوړو حکومتي چارواکو دغه راز په پارلمان کې د ننګرهار غړو له لوري سیاسي ملاتړ کېږي، د بېلګې په توګه فلاني وکيل د فلاني ملک وراره دی او د حاجي فلاني ملک ملاتړ د فلاني وکيل له لوري کېږي.*[۱۴۹]

د دې ترڅنګ ملکانو د پروژې لپاره د کسانو په ټاکلو کې هم مستقيم لاس درلود او دوی په خپله دا ډاډ ترلاسه کاوه چې په لېست کې شامل دي ګټني پر معيارونو د برابرېدو لارې چارې يې پيدا کولې. د پروګرام يو کارکوونکي په دې اړه راته ويلي،" چې څرنګه د کلي مشرانو او نورو ډلو خپل خلک رامخکې کول او موږ خپل نظر درلود چې د دغو خلکو انتخابول يې يو څه ستونزمن کول."[150]

يو برخه وال يا ګټه اخېستونکي د انتخاب پر معيار د برابروالي لپاره يوه نامستقيمه لاره پيدا کړې وه:

*د کارډ - ايف پروګرام هغو خلکو ته د چرګانو روزنې فارمونه ورکول چې لېوالتيا يې لرله، باتجربه وو او کولای يې شول د پروژې ټاکل شوې اندازه پيسې هم ورکړي. ما پيسې لرلې ترڅنګ مې پور هم واخېست، خو د بانک سټيټمنټ مې نه درلود. زه يو ملګري ته ورغلم چې دلال دی، نوموړي بانکي حساب راته جوړ کړ، زما حساب ته يې پيسې انتقال کړې او بيا مې د بانک سټيټمنټ راوړ او د دې پروژې يو برخه وال شوم.*[۱۵۱]

يو دويم ګډونوال چې د خپل کاکا ترڅنګ چې ملک و، ناست و او ټاکل شوی و خپله د ټاکل کېدو پروسه په داسې ډول بيان کړې ده:

*لومړی د کلي پرمختيايي شورا له لوري يو لېست جوړ شو، په دې لېست کې ډېر شمېر خلک وو، بيا ورپسې د کلي پرمختيايي شورا پچه اچونه يا قرعه کشي وکړه او موږ وګټله، په دې ډول د چرګانو روزنې فارم د جوړولو لپاره د کارډ - ايف پروګرام يو ګډونوال شوم. زه پر شرايطو او معيارونو برابر نه وم، خو دا چې زه د ملک وراره وم او کاکا مې د کلي پرمختيايي شورا غړی و، نو د کلي پرمختيايي شورا نورو غړو راسره ومنله چې زما نوم هم په قرعه کشي کې ورزيات کړي. په دې کلي کې زه يوازينی کس يم چې د چرګانو روزنې فارم لرم.*[۱۵۲]

نوموړي ورپسې د پيسو نه لرلو په اړه زياته کړه او ويې ويل، چې پور مې واخېست او ترڅنګ مې کاکا هم پيسې راکړې او راسره شريک شو. د دوی ټوله پانګونه ۱۰۰،۰۰۰ پاکستانۍ کلدارې وه چې د ټول لګښت ۴۰ سلنه جوړوي او د يو متوسط کروندګر له وس ډېره پورته خبره ده. دوی بيا په خپلو پيسو کوچني چرګوړي اخېستي. خو دوی د دې جوګه نه وو چې د چرګې غوښې ته لاسرسی ولري. پردې سربېره، د بازار قيمتونه د ارزانه پاکستاني چرګانو له وجې راټيټ شول، نو دوی نه شول کولای چې نوي چرګوړي خپل فارم ته راوړي. بالاخره، پرېکړه کوي چې خپل فارم د يو کال لپاره په ۲۰،۰۰۰ پاکستانۍ کلدارو مياشتنۍ کرايه ورکړي. د يو دويم باخبره شخص له قوله[۱۵۳] دا کار له ډېرو هغو ملکانو سره وشو چې د چرګانو فارمونه يې جوړ کړي وو. ورپسې يوې نادولتي مؤسسې[۱۵۴] د لومړي کس فارم د يو کال لپاره په ۴۰،۰۰۰ مياشتنۍ کرايه ونيو، څو د چرګوړو د توليد لپاره ترې کار واخلي او يادې مؤسسې بيا دا چرګوړي په همدې ولسوالۍ کې پر بېوزلو کورنيو وېشل. يادې مؤسسې د همدې فارم د پورته ياد شوي کس کارکوونکي هم په کار ګمارلي وو، چې د کال په پای کې نوموړي تر خپلې پانګونې هم ډېره ګټه کړې وه او فارم يې هم بېرته ترلاسه کړ. د مرکې پرمهال، د نوموړي له خبرو دا معلومېده چې اوس په ګټه کې روان دی. د دې ترڅنګ وسايلو لکه چرګوړو او دانې ته د لاسرسي په برخه کې د ستونزو په اړه د نوموړي له خبرو د چرګانو په بازار او د دې بازار د جوړښتونو په اړه پراخې ننګونې راښکاره شوې.

لومړی د انډېښنې وړ موضوع وسايلو ته لاسرسی و. په ننګرهار کې د چرګانو فارمونو پروژې لپاره د چرګوړو او دانې موندل دوې مهمې موضوعګانې دي. که څه هم د کارډ - ايف پروګرام هڅه وکړه چې په ننګرهار کې د چرګوړو توليد کارخونو له جوړولو ملاتړ

۱۴۹ . د ننګرهار – دويم پړاو – ۰۹ سره په مرکه کې موجود دي.

۱۵۰ . ننګرهار – دريم پړاو – ۱۲.

۱۵۱ . ننګرهار – دويم پړاو – ۰۵.

۱۵۲ . ننګرهار – دويم پړاو – ۰۹.

۱۵۳ . ننګرهار – لومړی پړاو – ۰۳.

۱۵۴ . ډاکار مؤسسه.

وکړي، خو د چرګانو فارم د یو خاوند[۱۵۵] له قوله دا کار په ډېر ساده توب له پاکستان د ارزان بیه چرګوړو په وارداتو سره پېکه شو او د دوی فارمونو نور رقابت نه شو کولای. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست یو غړي دا خبره تایید کړې ده:

*یو ستره ستونزه دا ده چې موږ د چرګوړو تولیدوونکي او پالونکي نه لرو، نو باید د اړتیا وړ چرګوړي له پاکستان وارد کړو. په ننګرهار او نورو ولایتونو کې د چرګانو روزنې فارمونه ټول یو ورځني عمر لرونکي چرګوړي له پاکستان راواردوي.*[۱۵۶]

بیا یې په دې اړه راته وویل، چې څرنګه هغه هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې چې د یو ورځني عمر لرونکو چرګوړو او لویو چرګانو د وارداتو مخنیوي په برخه کې کېدې. د نوموړي له قوله په ننګرهار کې سوداګرو له پاکستاني سوداګرو سره قوي اړیکې لرلې او دوی به پر پوله چرګان قاچاق کول، له همدې وجې د وارداتو د محدودیت هڅې هم له ناکامۍ سره مخ شوې. د نوموړي په وینا د ارزان بیه لویو چرګانو واردولو ملي بازار سوړ کړ.

د کارډ - ایف پروګرام تر جوړېدو د مخه د چرګانو ټوله دانه له پاکستان واردېدله. خو د کارډ - ایف پروګرام د چرګانو روزنې پروژې په ننګرهار کې د چرګانو دانو د تولید کارخونو په پرمختیا کې مرسته وکړه، که څه هم زیاتره خام ترکیبات لکه ماښر او جوار تراوسه هم باید له پاکستان وارد شي. د چرګانو یو لوی تولیدوونکي چې په ۲۰۰۰ز کال کې یې خپل کاروبار پیل کړی و او ورو ورو د دې جوګه شوی وو څو د کارډ - ایف پروګرام تر پیل د مخه په ۲۰۰۷ز کال کې د چرګانو دانې خپله فابریکه جوړه کړي، د دې ملاتړ په اړه داسې څرګندونې کړې:

*په ۲۰۱۴ز کال کې د کارډ - ایف پروګرام اعلان وکړ، چې دوی د هغو کمپنیو مالي ملاتړ کوي چې غواړي د چرګانو دانې او روزنې په فارمونو کې پانګونه وکړي. ما هم غوښتل چې غوښتنلیک ورته وسپارم (او د یو پانګه وال له لوري هم وهڅول شوم) ماته یې وویل چې که چېرې نورو پیسو ته اړتیا لرې، نو موږ پور درکولای شو. خو د والي او ننګرهار کرنې ریاست د پرېکړې له مخې ښاغلی فلانی چې یوازې یې په بازار کې د سبزیجاتو او مېوه جاتو کار کاوه، رامخکې شو او ویې ویل چې زه غواړم په دې برخه کې پانګونه وکړم او نوموړي د کارډ - ایف پروګرام له لارې ۵۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالر مالي ملاتړ ترلاسه کړ. زما په اند ټوله پانګونه ۷۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالره وه او نوموړي یوازې ۲۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالر ورکړل او پاتې نورې ۵۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالر د کارډ - ایف پروګرام له لوري ورکړل شول.*[۱۵۷]

وروسته نوموړي د ښاغلي حاجي نامعلومو رهبنو په اړه زیاته کړه، چې څنګه په چټکۍ راپورته شو او په ننګرهار کې په زیاترو برخو کې په یو مهم سوداګر بدل شو. د نوموړي له انده سیاسي ملاتړ یاد سوداګر د دې جوګه کړ څو خپله پانګونه په لوړه کچه خوندي وساتي. وروسته یې یو شمېر ځانګړې سوداګر یاد کړل چې له مهمو سیاسي چارواکو سره یې اړیکې لرلې او د دې جوګه وو چې پر پوله له مالیاتو او ګمرکي تعرفې تېښته وکړي یا هم له نارسمي لارو چارو په ګټې اخېستنې کوچني چرګوړي او د چرګانو دانه دواړه هېواد ته وارد کړي، چې د ځایي بازارونو قیمتونه یې راټیټ کړي دي. نوموړي د پورته شخص له خوا د پانګې چټک زیاتوالي د څرنګوالي په اړه وویل:

*دلیل یې ګمرکونه دي. نوموړی هلته ښې اړیکې لري... د نوموړي ټول خام مواد له هر راز مالیاتو یا هم په ډېرو کمو پیسو سره راځي، خو زما شرکت او نور خلک بشپړ مالیات ورکوي. که چېرې حکومت له هر پانګه وال سره جلا جلا چلن کوي، نو په بازار کې بیا رقابت پېچلې کېږي. د بېلګې په توګه که زه چرګانو دانې یوې ۵۰ کیلویي بوجۍ ټول لګښتونه ورکړم نو ماته په ۱۳۰۰ افغانۍ تمامېږي، خو د حاجي فلاني لپاره په ۱،۰۰۰ افغانۍ تمامېږي. نو زه له هغه سره رقابت نه شم کولای. د چرګانو په برخه کې زیاتره پانګه وال له همدې ډول حالت سره مخ دي.*[۱۵۸]

۱۵۵ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۵.

۱۵٦ . ننګرهار – دویم پړاو – ۰۴.

۱۵۷ . ننګرهار – دریېم پړاو – ۱۰.

۱۵۸ . ننګرهار – دریېم پړاو – ۱۰.

بیا یې دا خبره هم تایید کړه، چې وروسته زه له داسې وضعیت سره مخ شوم چې که چېرې مې رقابت کولای او خپله کارخونه مې فعاله ساتلی نو ما هم باید خام مواد په قاچاق راوړي وای. نوموړی د حکومت سخت منتقد وو او مهمو چارواکو چې بهډې یې اخېستې د ده په څېر پانګوونکو لپاره ستونزې رامنځ ته کولې. پر حاجي فلاني له دې نیوکو سره سره نوموړي د هغه ستاینه هم کړې:

*له ټولو ښو او بدو کاروبارونو سره چې حاجي فلانی یې په هېواد کې لري، که چېرې د هېواد له نورو پانګوونکو سره پرتله شي نو زما ډېر خوښېږي ځکه په ټولو پیسو یې په هېواد کې پانګونه کړې.*[159]

د التای له لوري د چرګانو ارزښتيز ځنځير د ارزوني په ترڅ کې په کندهار او هرات کې د لويو توليدوونکو له لوري د ارزښتيز ځنځير د مهمو ستراتيژيکو نقطو د تنظيم په اړه شواهد موندل شوي. التای په دې اړه په خپل راپور کې ويلي:

*د چرګانو او هګيو توليدوونکي... د هغو لويو ملي توليدوونکو له خوا له زيان سره مخ دي چې د ارزښتيز ځنځير مهمې ستراتيژيکې نقطې په خپل کنټرول کې لري، په دې کنټرول کې د وېش چينلونه هم شامل دي چې د فعالانو او ظرفيتونو له مخې ډېر محدود دي.*[120]

په ننګرهار کې د چرګانو له ارزښتيز ځنځير د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري موندنې هم پورته خبرې تاييدوي او په دې اړه وايي، چې څنګه دا کار ترسره کېږي. د چرګانو روزنې ارزښتيز ځنځير د بدلون په نظريه کې اساسي فرضيه دا ده، چې "د کرنيزې ودې او کليوالي پرمختيا له پروژې برخمن کسان کولای شي و ساپلو ته لاسرسی ولري" او ترڅنګ يې په عرضه کې نظم موجود دی، قيمت / کيفيت د وارداتو په مقابل کې رقابت کولای شي او په کافي مقدار توکي موجود دي.[121] د لاسرسي مفهوم چې له ورکړې تر راکړې فرضيو او له راکړې بيا د نتايجو په فرضيو (بازار ته لاسرسي) دواړو کې راڅرګنديږي، سپړلو ته اړتيا لري. دا مفهوم بازار يا هم بازاري سيمې ته د فزيکي لاسرسي يا لارو چارو د ترلاسه کولو فرصت يا اقداماتو لپاره کارول کېږي. خو په دې فرضيو کې دا نه ده په ډاګه شوې، چې يادې لارې چارې څه ډول او تر کومو شرايطو او حالاتو لاندې کسب کېدلای شي.

لاسرسی حتماً د حق يا فرصت معنا نه لري، بلکې ګڼ شمېر ټولنيزې اړيکې کولای شي پر لاسرسي محدوديت پرېباسي يا ورته لار هواره کړي.[122] په افغانستان او بل هر ځای کې په دې اړه غني شواهد موجود دي، چې پر اړيکو ولاړې شبکې په ټولو کچو کې اقتصادي ژوند ته لاسرسی تنظيموي.[123]

د يادونې ده، چې هغه څه چې د چرګانو روزنې او نورو پروژو په منځپانګه کې هېر شوي دي د رسمي پور/امتياز برابرول دي څو و ساپلو ته د لاسرسي لارې چارې ممکنې کړي. د بازار خطرونو په وړاندې د کوچنيو مشتبشينو د خونديتوب لپاره د دولت له لوري د مالي ملاتړ برابرولو اړتيا په اړه پراخو شواهدو ته په کتو دا ډېره د حيرانتيا خبره ده.[124] که څه هم په نظري لحاظ پور بايد د بانک له لوري ورکړل شي، خو په عمل کې د راپورونو له مخې دا کار ناممکن و. پرځای يې هغه خلک چې د کارډ - ابف په پروګرام کې ښکېل وو، هغوی بايد په نارسمي بڼه پور ترلاسه کړای وی او په تېره بيا په ننګرهار ولايت کې دا پورونه له هغو سوداګرو ترلاسه کېدل چې محصولات پرې پلورل کېدل.[125]

په ننګرهار کې د ښاروالۍ يو کارکوونکي، له هغو خبرو سره په مطابقت کې چې مخکې د سبزيجاتو په بازارونو کې د يو مهم سوداګر له لوري بيان شوې، ويلي چې دا کار څنګه کېږي:

---

۱۵۹ . ننګرهار – دريیم پړاو – ۱۰.

۱۶۰ . د التای مشورتي خدمتونو شرکت، د لومړی نيمايي راپور، ۲۱.

۱۶۱ . د التای مشورتي خدمتونو شرکت، د دويمې نيمايي راپور، ۱ انځور.

۱۶۲ . J.C. Ribot and N.C. Peluso, "A Theory of Access," Rural Sociology ٦٨ no. (۲۰۰۳): ۱۵۳-۱۸۱.

۱۶۳ . A. Jackson and G. Minoia, "Political and Economic Life in Afghanistan: Networks of Access," Asian Survey ۵۸, vol. ٦ (۲۰۱۸): ۱۰۹۰-۱۱۱۰.

۱۶۴ . Dorward et al., "A Policy Agenda for Pro-Poor Agricultural Growth."

۱۶۵ . په خاش ولسوالۍ کې د کچالو په برخه کې چې نسبتاً د کم ارزښت لرونکی محصول دی، په دې اړه کوم شواهد نه و، ان کم شواهد هم نه و ځکه د کچالو تخم له يو موسم د بل موسم لپاره ساتل کېږي.

*کـه رښـتیا ووایـم، دا لـوی سـوداګر چـې د سـبزیجاتو او مېـوه جاتـو بازارونـو دغـه راز د چرګانـو بازارونـو غـړي دي، د دې سـکتور مافیـا ده. دوی یـوازې خپلـې ګټـې تـه ګـوري. دوی د کوچنیـو سـوداګرو او کروندګـرو د ملاتـړ پـه کیسـه کـې نـه دي. ځینـې ځینـې چـې کوچنیـو سـوداګرو تـه پـور ورکـوي یـا هـم د فـارمونـو د مالکینـو ملاتـړ کـوي، دا شـرط پـرې ږدي چـې چرګان بـه یـوازې پـر دوی پلـوري، لـه دې کبلـه کوچنـي سـوداګر یـوازې پـر هغـه دلال یـا سـوداګر خپـل چرګان پلـورلای شـي چـې پـور یـې ورکـړی وي.*[166]

د کرنې له سکتور د باندې یو بل شاهد هم د تېرلو قرادادونو په اړه دا خبرې تایید کړې دي:

*پـه بـازار کـې د چرګانـو قیمـت زیاتـره د سـوداګرو او چرګانـو دانـو لرونکـو لـه خـوا ټـاکل کېـږي. دوی زیاتـره یـوازې د خپلـو ګټـو پـه فکـر کـې دي. دوی پـه بـازار کـې د چرګانـو قیمـت ټاکـي، بیـا یـې لـه فارمونـو پـه همـدې قیمـت اخلـي او پـر نـورو سـوداګرو یـې پلـوري. لـه فارمونـو د اخېسـتو او پـر نـورو سـوداګرو(کوچینو سـوداګرو او د نـورو ولایتونـو پـر سـوداګرو) د خرڅلاو ترمنځ ډېـر لـوی توپیـر وي. لـه فارمونـو پـه ارزانـه بیـه د چرګانـو اخېسـتل دا معنـا لـري چـې زیاتـره فارمونـه ښـه ګټـه نـه کـوي او نـه شـي کـولای چـې خپـل کاروبـار پرمـخ بوسـي. پـه ځینـو حالاتـو کـې دوی لـه سـوداګرو د چرګانـو دانـه پـه پـور اخلـي او پـه بـدل کـې یـې بایـد خپـل محصـول پـر هماغـه شـخص وپلـوري. لـه بلـې خـوا ، کوچنـي تولیدوونکـي چـې چرګـوړي لـه سـوداګرو پـه پـور اخلـي بایـد بېرتـه یـې پـر همـدې سـوداګر پـه هغـه بیـه وپلـوري، چـې د هغـوی لـه خـوا ټـاکل کېـږي. پـه ځینـو حالاتـو کـې دا کار د دې لامـل کېـږي چـې د فارمونـو مالکیـن هېڅ ګټـه ونـه کـړي او ان ښـایي دوی خپلـه پانګونـه هـم لـه لاسـه ورکـړي.*[167]

یـوه دویمـه لاره هـم ده، چـې لـوی سـوداګر توانېدلـي څـو پـه خپلـه ګټـه تـرې کار واخلـي هغـه پـه اسـعارو کـې مداخلـه ده. ننګرهـار لـه ډېـر وخـت راهیسـې د پاکسـتانۍ کلـدارو تـر نفـوذ لانـدې دی او یـادې پیسـې پـه بـازار کـې د راکـړې ورکـړې لپـاره کارول کېـږي. پـه کلـدارو دا راکـړه ورکـړه تـر یـوه بریـده د ۲۰۱۹ز کال پـه جنـوري کـې د جاپانـي ډاکټـر ناکامـورا تـر وژل کېـدو وروسـته چـې پـه یـاد ولایـت کـې یـې لـه ۱۹۸۴ز کال را پـه دېخـوا کار کاوه، بنـده شـوه. زیاتـرو دا فکـر کاوه چـې د دې وژنـې تـر شـا د پاکسـتان لاس و، بالاخـره لـه پاکسـتانۍ کلـدارو سـره د پرېکـون پـراخ کمپایـن وشـو. پـردې سربېـره، د ګڼ شـمېر ګډونوالـو لـه قولـه[168] د پولـې دواړو غـاړو تـه لـوی سـوداګر پـر افغانیـو د پاکسـتانۍ کلـدارو بدلـول پـه خپلـه ګټـه کاروي، او د راکـړې ورکـړې پرمهـال د هغـه وخـت لـه نرخ ګټـه اخلـي کلـه چـې ۱ افغانـۍ د دوو پاکسـتانۍ کلـدارو معـادل وه. دې کار پـه خپـل وار سـره د وسـایلو پـر قیمتونـو اغېـز کـړی.

د صنفـي ټولنـو لـه تأسـیس د کرنیـزې ودې او کیوالـي پرمختیـا پروګـرام یـوه موخـه دا وه چـې دا ټولنـې بـه پـه بـازار کـې د ښـکېلو کسـانو ډلـه ییـزو ګټـو لپـاره کار کـوي. خـو د زیاتـرو باخبـره اشـخاصو (کوچنیـو سـوداګرو، تولیدوونکـو او حکومتـي چارواکـو) لـه قولـه پـه دغـو ټولنـو کـې مهـم ځایونـه د لویـو سـوداګرو پـه لاس کـې دي، چـې هرڅـه پـه خپلـه ګټـه راڅرخـوي. د همـدې سـوداګرو لـه ډلـې یـو یـې دا خبـره تایید کـړې، چـې د ټولنـې غړیتـوب بېلا بېـل قیمتونـه لـرل، او کـوم سـوداګر چـې بـه تـر ټولـو زیاتـې پیسـې ورکـړې تـه مـلا تړلـه، کـولای یـې شـول چـې د ریاسـت تـر چوکـۍ ځـان ورسـوي.

نوموړي دا وضعیت په لاندې ډول بیان کړی:

*زمـا لـه نظـره، لـوی سـوداګر او د چرګانـو دانـو د کارخونـو مالکیـن هېڅ تـاوان نـه کـوي، ځکـه دوی پـه داسـې مقـام کـې دي چـې پـه خپلـه خوښـه قیمتونـه ټاکـي او خپلـه ګټـه حتمـي ترلاسـه کـوي. برعکـس، دا د کوچنیـو فارمونـو مالکیـن دي چـې پـه هېڅ راز پرېکـړو کـې دخیـل نـه دي او تـاوان همـدوی کـوي.*[169]

د قیمتونـو پـه برخـه کـې د روڼتیـا نـه موجودیـت د پـام وړ دی. د افغانسـتان د څېړنـې او ارزونـې اداري د څېړنـې یـوې برخـه پـه توګـه څېړنیـزې ډلـې یـو څـه وخـت د چرګانـو پـه بازارونـو کـې تېـر کـړ، څـو پـه خپلـو سـترګو د قیمتونـو ټـاکل او د بـازار فعالیـت وګـوري. مګـر دوی تـه ژر دا معلومـه شـوه چـې دا ناممکنـه ده څـو معلومـه شـي چـې دا سـوداګري څنګـه پرمـخ وړل کېـږي او قیمتونـه یـې څـه ډول ټـاکل

۱٦٦ . ننګرهار – درېیم پړاو – ۱٦.

۱٦۷ . ننګرهار – درېیم پړاو – ۰۷، ننګرهار- درېیم پړاو – ۱۰.

۱٦۸ . ننګرهار – درېیم پړاو – ۰۸.

۱٦۹ . ننګرهار – درېیم پړاو – ۰۸.

کېږي. هېڅ کس د قیمتونو او د پېر او پلور په اړه خبرې نه کولې. یو ګډونوال[۱۷۰] چا چې د خبرو کولو علاقه لرله له دې سره موافق نه و چې په بازار کې روښتیا نه شته او د خپلو خبرو ثابتولو لپاره یې د هغو پروسیجرونو یادونه کړې چې پیروي ترې کېږي.(۱ باکس وګورئ). ورپسې یې د هغو نورو کړنو یادونه په جزئیاتو کړې، چې سوداګرو ته ګټه رسوي. د دوی له قوله سوداګر د وزن له مخې چرګان پېري خو پلور یې بیا د شمېر پر اساس کوي، نو هغه چرګان چې وزن یې تر یو کیلوګرام کم هم وي، د ۱ کیلوګرام چرګانو په بیه پلورل کېږي.

په دې کې شک نشته چې د چرګانو لویو تولیدي فارمونو او چرګانو دانو کارخونو یو شمېر کاري بوختیاوې هم رامنځ ته کړې دي. د چرګانو فارم یو مالک د هغه شمېر کارګرانو په اړه چې نوموړي پر کار ګمارلي، موږ ته وویل:

> *یوازې زما په فارم کې شاوخوا ۵۰ کارګران کار کوي، او ۴۰ نور زما د چرګانو دانې په کارخانه کې کار کوي، ۱۰ نور بیا د چرګانو په دې کلنیک کې کار کوي. په کلنیک کې دوه ډاکټران دي او یو مدیر دی، چې د مدیریت ترڅنګ پلورل شوې دواګانې او د دوی قیمتونه لیکي، ۲ ډریواران دي او ۵ د پېرودونکو خدمتونو او پلور کارکوونکي دي. د دایمي کارګرانو ټول شمېر ۱۰۰ کسانو ته رسېږي. کله چې له فارم څخه چرګان وړو نو موږ شاوخوا ۲۰ کارګران او ډریواران ګمارو او کله چې د دانو له کارخونو خام مواد وړو، نو لږ تر لږه ۳۰ کسان د دوو یا درېیو ورځو لپاره پر کار ګمارو. دا کار په اونۍ یا دوو اونیو کې یو ځل کوو.*[۱۷۱]


بله یادونه یې دا وه چې نور لوی فارمونه د ده په پرتله زیات کارګران پر کار ګماري، خو دا خبره یې تایید کړې ده چې په ننګرهار کې د اجورې معمول نرخ شاوخوا ۲۵۰ افغانیو ته په ورځ کې راکم شوی، چې د کاري فرصتونو کمښت په ګوته کوي.

۱۷۰ . ننګرهار – دربیم پړاو – ۰۷.

۱۷۱ . ننګرهار – دربیم پړاو – ۰۸.

**۱ باکس: د چرګانو په بازار کې د قیمتونو ټاکلو رازونه**

د چرګانو په بازار کې قیمتونه د صنفي ټولنې او دانې سوداګرو[۱۷۲] یا هم دلالانو له لوري ټاکل کېږي. خو زه به یوه خبره درته وکړم، چې که یوه میاشت هم هلته تګ راتګ وکړې، هېڅ کس دا نه درته ښایي چې دوی دا سوداګري څنګه پرمخ وړي. د چرګانو په بازار کې هرڅه یو راز دی. کله چې دلال غواړي د فارم له مالک څخه چرګان وپېري، نو خپل لاسونه او د مالک لاسونه تر دستمال لاندې پټوي او قیمت په ګوتو سره وايي. که چېرې سوداګر غواړي چې ۵۰۰ چرګان په ۱۵۰ افغانۍ وپېري، نو خپلې دوې ګوتې تر دستمال لاندې چې یوه یې ۱۰۰ او بله یې ۵۰ ده د مالک په لاس کې ورکوي او وايي، چې غواړم ستا ټولې چرګې په دې قیمت سره وپېرم. یوازې پېرودونکی او پلورونکی پر ټاکل شوي قیمت پوهېږي. تر هوکړې وروسته معامله پای ته رسیږي.




وروسته هغه کس چې په کتابچه کې د لیکلو مسوول دی، دا سې لیکي چې ۵۰۰ چرګې د احمد له لوري پر احمد د دوی ترمنځ د هوکړه شوي قیمت له مخې وپلورل شوې.

دا ډېره ستونزمنه ده، چې معلومه یا تعقیب کړې، چې دوی څه کار کوي. دلال بیا له همدې پروسیجر په ګټې اخېستنې یاد چرګان پر کوچنیو سوداګرو یا هم د نورو ولایتونو پر سوداګرو پلوري. له سوداګر د پیسو ترلاسه کولو وروسته، نوموړی د چرګانو مالک ته زنګ کوي او ټولې پیسې حسابوي. بیا د دانې پیسې ترې ګرځوي او پاتې پیسې مالک ته ورکوي. که چېرې د چرګانو مالک ګټه حساب شي نو ډېره نه وي، ښایي ۲۰،۰۰۰ افغانۍ یا هم ۳۰،۰۰۰ افغانۍ یا تر ټولو ډېره ۴۰،۰۰۰ افغانۍ وي. دا اندازه د نوموړي د کورنۍ اړتیاوو لپاره بسنه نه کوي.

په ټوله کې د دریو ارزول شویو اقتصادي پرمختیایي پروژو له ډلې د چرګانو روزنې پروژه کرنیزې سوداګرۍ ته تر ټولو نږدې پروژه ده. دې پروژې له شک پرته په ننګرهار او بل هر ځای کې د چرګانو سکتور په پرمختیا او پیاوړتیا کې مرسته کړې. هغه څه چې لا تراوسه هم ډېر مبهم دي، دا دي چې ایا د بازار ګڼ شمېر ټولنیزو تنظیمي بڼو ته په کتو دې پروژې د چرګانو رقابتي سکتور په پرمختیا کې مرسته کړې ده.

۱۷۲ . دا سوداګر یا دلالان د چرګانو دانه د دانې له کارخونو پېري او بیا یې د چرګانو پر فارمونو پلوري. دلالان د دانو له کارخونو دانې په پور اخلي او بیا یې په پورخو لوړ قیمت د فارمونو پر مالکانو پلوري. که چېرې نوموړی یوه بوجۍ دانه په ۱۷۰۰ افغانۍ په پور واخلي، د فارم پر مالک یې په ۱۹۰۰ افغانۍ په پور پلوري.

# مباحثه

د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا یا کارډ - اېف پروګرام ، چې په افغانستان کې د نورو بدیل پرمختیایي پروژو د معیارونو له مخې یوه اوږدمهاله پروژه ده، د دې لپاره راسپړل شوې څو د یادې پروژې د منطق او اغېزو په اړه پوهاوی رامنځ ته شي. د امریکا متحده ایالاتو له لوري د تمویل کېدونکو ټولو بدیل پرمختیایي پروژو برعکس، دا پروژه که څه هم د تمویل کوونکي له لوري په حکومت کې د رامنځ ته شوي موازي اداري او بودجوي جوړښت له لارې عملي شوې، خو د حکومتي جوړښتونو پرمټ پلې شوې. لږ تر لږه په لومړنیو پړاوونو کې د کارډ – اېف پروژّ د بدیل پرمختیایي پروژې په نوم نومول شوې وه چې په افغانستان کې د کوکنارو د کرکیلې له منځه وړلو په موخه طرحه شوې وه.

هغه منابع چې دلته ترې ګټه اخېستل شوې، د کارډ - اېف پروګرام یوازې یوه کوچنی برخه جزئیات وړاندې کولای شي او لکه څرنګه چې ومو لوستل د دې پروژې په اړه ګڼ شمېر نظریات موجود دي، چې باید له رسمي اسنادو او د خلکو له خبرو راوسپړل شي. دې پروژې د وزارت له چارواکو بیا تر کروندګرو او د افغانستان د توکو په بازارونو کې تر سوداګرو پورې زیاترو هغو کسانو ته ګټه رسولې چې په دې پروژه کې ښکېل وو. د دې ګټو له ډلې څینې یې یوازې د پیسو جریان د اغېزو له کبله وې، چې موده یې له لنډ مهال څخه تر اوږدمهال پورې توپیر کوي. نورې ګټې یې بیا تر ډېره کمه بریده مادي وې او د دندو له ترلاسه کولو نیولې بیا د لیدلورو او ظرفیتونو بدلون پورې ګټې په څان کې رانغاړي. پورته راسپړل شوي بېلا بېل نظریات د پروژې او هغو لارو چارو په اړه چې په ترڅ کې یې بېلا بېلې ادارې په دې پروژه کې ښکېلې وې او زده کړه یې ترې کړې او دا چې پایلې یې څنګه ارزولې دي، څه په ګوته کوي؟ او د غیرقصدي پایلو په ګډون چې د پروژې په روایتونو کې یې ډېر محدود پوښښ موندلای، له اغېزو یې کومې زده کړې کېدلای شي؟ دا دویمه پوښتنه د پروژې تشکیلوونکو فرضیو د راسپړلو اصلي محور دی.

په هغه وخت کې د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې له لوري دې پروژې ته د بریالیتوب په سترګه کتل شوي. د پروژې بشپړېدو ته کتنې د یادې پروژې لاسته راوړنې په لاندې ډول بیان کړې دي:

> *د کارډ - اېف پروګرام په خپل دویم پړاو کې په **۱۴** ولایتونو کې **۱۹** اقتصادي پرمختیایي پروژې او **۱۵** عامه کلیوالي زېربنایي پروژې په بریالیتوب سره بشپړې کړې دي. دغو پروژو په افغانستان کې د اتو ارزښتیز ځنځیرونو له بشپړې پرمختیا سره مرسته کړې ده.[173] له ۰۰۰، **۲۱۸** زیات کسان د کارډ - اېف پروګرام له دویم پړاو مستقیماً برخمن شوي. د کارډ - اېف پروګرام او دې ته ورته پروګرامونو بریالیتوب د پراخو کرنیزو او سوداګریزې کرنې پالیسیو لپاره یو بنیادي اساس رامنځ ته کړی، لکه د کرنیزې سوداګرۍ منشور چې په دې وروستیو کې د نړیوال بانک له لوري طرحه او ترتیب شوی دی.[174]*

وروسته په دې کتنه کې یو لړ پایلې په ګوته شوې، چې د هغو له ډلې یې د کلیوالي سیمو د خالصو عوایدو زیاتوالی، د خصوصي سکتور د پانګونې زیاتېدو، دندو رامنځ ته کېدو یا هم خوندیتوب او پنځول شویو تشبثاتو ته یې اشاره کړې. حتمي ده، چې پروژې د لاسته راوړنو په اړه دا واقعیتونه راپورته کوي، خو دا ډېره ستونزمنه ده چې یو د بل له لارې تایید شي، په تېره بیا د دندو رامنځ ته کېدو ارزول د څېړندود له مخې ننګونکی کار دی.[175]

خو د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې لپاره د پروګرام تر بشپړېدو وروسته کتنه کې مهمې تجربې کارډ – اېف پروګرام د موډل یا هم د ارزښتیز ځنځیر تګلارې، یا د اساسي فرضیو په اړه نه وې، بلکې د دوی تمرکز پر دوو مهمو موضوعاتو وو. لومړی، په ۲۰۱۸ز کال کې د مرغانو له زکام سره تړلې ساري ناروغي چې د پولې دواړو غاړو ته کنټرول او د دې ډول ناروغۍ په مدیریت کې یې د اداري ظرفیتونو کمزورۍ رابښکاره کړې. او دویمه موضوع، د پروګرام په مدیریت کې د ځواب ورکولو خبره ده:

۱۷۳ . مالداري: چرګانو روزنه، لبنیات او د مچیو روزنه. بڼوالي: شنې خونې، زعفران، انګور، انار او پنبه.

۱۷۴ . د برېتانیا نړیواله پرمختیایي اداره، د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام پروژې بشپړېدو ته کتنه، جنوري ۲۰۱۸، ۲.

۱۷۵ . worldbank.org (In evaluating development projects, pressing for better tools in measuring job creation)

*د پروګرام اداري جوړښت له کومې اړتیا پرته ډېر پېچلی شوی و. د راپور ورکړې او ځواب ویلو رسمي کرښه ډېره مبهمه وه او د کارډ - ایف پروګرام او تمویلوونکي یې له بالقوه خطرونو سره مخ کړي وو. د صندوق مدیر چې هغه هم د اداري واحد له کارکوونکو سره قراردادونه کړي وو، په کافي اندازه تر خپل لاس لاندې قراردادیانو (د اداري واحد کارکوونکو) په اړه ځواب ویونکی نه وو. له بلې خوا د کارډ - ایف پروګرام اداري واحد د پروژې دفتر و، نه کوم حقوقي شخصت؛ له دې کبله د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي اداري نه شول کولای چې له یاد واحد سره کوم رسمي هوکړه لیک لاسلیک کړي، چې مستقیماً د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې په وړاندې ځواب ویونکی شي. د شوې قرارداد له مخې یاد اداري واحد د وزارتونو په وړاندې هم ځواب ویونکی نه و.*[176]

دې نظر هغه اداري ترتیبات د کومو په رڼا کې چې کارډ - ایف پروګرام فعالیت کړی، ډېر جالب خو په محدود ډول منعکس کړي. که څه هم ښایي یاد شوي ترتیبات د پروژې چټکې اجراء[177] لپاره ډېر ګټور وي، خو د عامه ادارو جوړونې لپاره د دې تګلارې اغېزې په پام کې نه دي نیول شوې. ښکاره ده، چې د یوې تګلارې په توګه د محتطانه چلن په له منځه وړلو کې په بشپړ ډول بریالی نه و، بلکې پردې سربېره ښايي د تخریبي کړنو او رقابتي چلن د رامنځ ته کېدو لپاره یې هم لاره هواره کړې وي. د میک په نوم له اداري فساد سره د افغانستان د څارنې او ارزونې ګډې کمېټې د کارډ - ایف په اداري واحد کې د مالي مرستو په ورکړه او د قردادونو په تدارکاتو کې د بې نظمۍ او خپلوۍ پاللو له شواهدو خبر ورکړی دی. د نړیوال بانک یو نړیوال سلاکار چې د کارډ - ایف پروګرام د دویم پړاو پرمهال یې د کرنې په وزارت کې کار کوه، د خپل سترګې لیدلي حال له مخې په پرله پسې ډول د برېتانیا له نړیوالې اداري[178] سره د کارډ - ایف پروګرام د فعالیتونو په اړه خپلې اندېښنې شریکې کړې دي. د څارنې او ارزونې کمېټې یا میک له قوله د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي اداري له خوا د دوی موندنو ته په ډېرو محدودو برخو کې ځواب ویل شوی.

د افغان چارواکو نظر، که څه هم مستقیماً په پروژه کې ښکېل و، خو په ټوله کې د مهمو لاسته راوړنو په برخه کې د برېتانیا د نړیوالې پرمختیایي اداري له نظر سره سمون درلود. د دوی له نظره د ارزښتیز ځنځیر موډل ډېر ښه کار ورکړی، یو چاروا کي په ستاینونکي بڼه په دې اړه ویلي، چې:

*که رښتیا وویل شي، لمړ په دوو ګوتو نه پټېږي، موږ د چرګانو او سبزیجاتو او ځینو مېوه جاتو بازار وینو چې د کال په بېلا بېلو موسمونو کې ورته لاسرسی کېږي، له دې معلومېږي چې د کارډ – ایف پروګرام ډېر ښه کار کړی.*[179]

ښکاره خبره ده، چې یاد ګډونوال په داسې پروژه کې د خپل کار کولو ستاینه کړې، چې ډېره جامع وه او د ارزښتیز ځنځیر مفهوم یې په صراحت تایید کړی دی:

*ټولې اقتصادي پرمختیایي پروژې د ارزښتیز ځنځیر تګلاره وه... د چرګانو دانې لپاره، موږ له ودانیزو چارو او خامو موادو پیل وکړ، چې بیا وروسته پروسس کېدل او پلورل کېدل، په بدل کې به یې د کارخونې مالک د خپلې اړتیا وړ مواد ترلاسه کول. موږ د پروژې ټولو دورانونو لپاره کار کاوه. د چرګانو په برخه کې جوړه شوې کارخونه له ننګرهار ولایت څخه کابل او د هېواد شمال ته چرګوړي او هګۍ برابروي.*[180]

خو یو شمېر نورو بیا پردې پروژه نیوکې لرلې. دا نیوکې تر ډېره بریده په دې برخه وې، چې د کارډ - ایف پروګرام تګلاره ډېره عمومي ده او د افغانستان له شرایطو سره برابره نه ده. د یادونې ده، چې دا نیوکه له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت د یو چاروا کي له لورې شوې، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت یو بل مخکني ګډونوال برعکس، چې د دې پروژې ستاینه یې کوله[181]، دې شخص د کوکنارو د کرکیلې راکمولو له مخې د دې پروژې جاج اخیستی:

---

١٧٦ . د برېتانیا نړیواله پرمختیایي اداره، د کرنيزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام پروژې بشپړېدو ته کتنه، جنوري ٢٠١٨، ٣.

١٧٧ . له ځینو اړخونو د بازار د ودې لپاره پر لوړ ظرفیت لرونکو سیمو تمرکز منعکسوي.

١٧٨ . شخصي مکالمه، ٢٠٢١ نوامبر.

١٧٩ . چاروا کی ١.

١٨٠ . چاروا کی ١.

١٨١ . چاروا کی ٣، ١٧ لمن لیک.

*د کارډ - ایف موخې او مقاصد د اجراء او ترسره کولو پروسې پروخت په بشپړه توګه نامحسوس شول. یوازې په راپورونو او ټولنیزو رسنیو کې ورته هوا ورکول کېده، خو په عمل کې د پروژې موخو او مقاصدو په برخه کې هېڅ کار نه دی شوی، ځکه زیاتره پالیسۍ او پروګرامونه له نورو هېوادونو رانقل شوي وو. زما تمه دا وه چې کارډ - ایف پروګرام به ځېړنه وکړي او د ټاکل شوي سیمې د اړتیاوو او ارزونې ته په کتو به خپلې پروژې ډیزاین کړي... خو دوی دا کار ونه کړ، او یوازې یې ځینې پروژې له تایلنډ رانقل کړې او ځینې نور پروګرامونه یې له نورو هېوادونو رانقل کړل او دلته یې پلې کېدل پیل کړل، پایله دا شوه چې د کوکنارو په کرکیله کې هېڅ کمښت نه دی راغلی.*[182]

یو اړخ چې د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي اداري په خپله ارزونه کې ورته اشاره نه ده کړې، هغه د پروژې توزیعي اغېزې دي، یعنې دا چې د دې پروژې له عوایدو او بوختیاوو چا ګټه پورته کړې ده. تر یوه بریده دا خبره د پروژې له طرحې څرګنده ده: "د کارډ – ایف پروګرام موخه مستقیماً بېوزله خلک نه دي، بلکې پرځای یې له کروندګرو او متشبثینو سره کار کوي څو د دوی کرنیز مشمریت او وده پیاوړې کړي، چې په خپل وار سره د بېوزله کلیوالي وګړو لپاره د بوختیاوو او عوایدو د زیاتېدو لامل ګرځي."[183] په لګښتونو کې د مالي مرستې په ګډون پر شرایطو د برابرولې معیارونو د هغو کروندګرو ګډون له محدودیت سره مخ کړی، چې ښې منابع یې په واک کې لرلې، خو پاسنې ټول شرایط یې نه و پوره کړي:

*د کارډ - ایف پروګرام داسې فرصت رامنځ ته کوي چې د نشه یې توکو له اقتصاد یا هم له بلواګرۍ د ناقانونه عوایدو ترلاسه کولو په لټه کې خلکو لپاره غوره کاري بوختیاوې برابروي. پردې سربېره، د دې خبرې تاییدي هم مهمه ده چې دا پروګرام ډېر غوره کاري بوختیاوې رامنځ ته کړې او په بېوزله ولسونو کې د ودې زیاتوالي او بېوزلۍ راکمولو لامل ګرځېدلای.*[184]

د ارزونې په راپورونو کې هېڅ داسې شواهد نشته چې د هغو خلکو لپاره د مطلوبو کاري بوختیاوو رامنځ ته کول تایید کړي، چې د نشه یي توکو اقتصاد له سرچینو د عوایدو ترلاسه کولو په لټه کې وو. په ځانګړې توګه د دې خبرې تاییدي د ننګرهار په کامه او بهسودو ولسوالیو کې ډېره ننګونکې ده، ځکه یادې ولسوالۍ ډېر وخت پخوا د کوکنارو له کرکیلې لاس په سر شوې وې. خو هغه څه چې ډېر جالب دي، دا دي چې د ځارنې او ارزونې په راپورونو کې د واقعي حق الزحمو په اړه یا هم د مطلوبو کاري فرصتونو رامنځ ته کولو ښو امتیازاتو او دوامداره بوختیا په اړه هېڅ خبره نه ده یاده شوې. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري ساحوي موندنې په ډاګه کوي، چې په ننګرهار کې د حق الزحمې کچې هېڅ بدلون نه دی کړی، که بدلون یې کړی هغه منفي دی، چې د وخت په تېرېدو سره د کارګرانو حق الزحمه راکمه شوې ده. تر یوه بریده دا کار ښایي د نړیوالو پاملرنې کمېدو او د تمویل کوونکو په مرسته د نظامي او مرستندویه پروګرامونو له وجې د دندو له لاسه ورکولو له کبله د عمومي اقتصادي ځوړتیا له وجې وي.

بل خوا د بدخشان په خاش ولسوالۍ کې د کچالو پروژې له پلې کېدو د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري موندنې ښیي چې د یادې پروژې د پلې کېدو پرمهال د هغو خلکو لپاره کاري بوختیاوې رامنځ ته شوې، چې د کوکنارو په کروندو کې یې کار کولو ته مخه کوله. خو دا بوختیاوې هم د پروژې له پای ته رسېدو سره له منځه لاړې. د دې ترڅنګ د کرنې پر مشمریت او وده او د دې ودې پر ممکنه توزیعي نتایجو د پروژې د اغېزو په اړه هم ډېرې پوښتنې بې ځوابه پاتې دي. دې موضوع ته د بازار پر ماهیت تر بحث وروسته لاندې راګرځو.

له ځینو اړخونو په خاش ولسوالۍ کې د کچالو پروژې ته د کارډ - ایف پروګرام یو داسې جز په سترګه کتل کېدای شي، چې د بدیل پرمختیا له لیدلوري سره ډېره نېږدې وه. یاده پروژه په داسې ولسوالۍ کې پلې شوه، چې د کوکنارو کرکیله تر دې دمه هم کېدله، چې نسبتاً په حاشیه کې پرته ولسوالۍ ده او له بازارونو هم ډېره لېرې ده. د دې ترڅنګ یادې پروژې د بدیل محصول په برخه کې هم ډېر څه کړي دي، چې تر ډېره بریده د کوکنارو په پرتله د کچالو قیمتونو د لوړېدو له برکته و، ترڅنګ یې د تولید په برخه کې هم د کروندګرو ډېر لاسنیوی شوی. پردې سربېره، د بازار په تبادله کې ډېر ستر توپیر پر خپل ځای پاتې دی. کچالو د یو خوراکي توکي په توګه هم خپلې ګټې درلودې، ځکه د کورنیو اړتیاوو په پوره کولو کې یې ډېره مرسته کړې ده. له دې کبله د کچالو پروژه په ننګرهار کې د دوو پرمختیایي پروژو په پرتله تر ډېره د بېوزلو وګړو او د کوکنارو کروندګرو په ګټه وه او داسې شواهد هم موندل شوې چې له دې پروژې غیر برخمن کسان یې هم له ګټو برخمن شوي دي.

---

۱۸۲ . چارواکی ٦.

۱۸۳ . DFID, "Business Case and Summary CARD-F phase ۲, March ۲۰۱۵," ۱۳.

۱۸۴ . مخکنی.

خو لـه ساحې د پرلـه پسـې ترلاسـه شـويو شـواهدو لـه مخې پـه ننګرهـار کـې د پـروژو لپـاره هغـه شـمېر خلـک ټـاکل شـوي وو، چـې ښـې اړيکـې يـې لرلـې او زورواکـې وو، چـې معمـولاً دا ډلـه خلـک لـوی کروندګـر وو. يـو ګډونـوال د چرګانـو روزنـې فارمونـو پـه اړه څرګندونـې پـه لانـدې ډول لـه مـوږ سـره شـريکې کـړې دي:

*د کارېږ – ايف پروګرام د هغو خلکو لپاره فارمونه جوړ کړل چې د حکومت له لوړپوړو چارواکو سره يې اړيکې لرلې، يعنې دا چې د رياستونو رئيسانو د وروڼو او خورزامنو لپاره يې فارمونه جوړ کړل. دې پروګرام د بېوزله خلکو يا هم هغو خلکو په ګټه کار نه دی کړی، چې له لوړپوړو چارواکو سره يې اړيکې نه لرلې. دکارېږ - ايف پروګرام اصلاً د لويو سوداګرو لپاره چې مافيا ده، کار وکړ.*[185]

د کارېږ - ايف پروګـرام پـر عملياتـي اړخ د دغـو ملاحظاتـو سربېره د افغانسـتان د څېړنـې او ارزونـې اداري ساحوي موندنـې دوو داسـې برخـو تـه اشـاره کـوي، چې د کارېږ – ايف د ارزښـتيز ځنځير پـه مـوډل کـې پـرې سـترګې پټـې شـوي دي. پـه پرمختيايي کښـوړو کـې د رسـمي پورونـو د مېکانېزمونـو نـه موجوديـت پـه دې معنـا دی، چې کروندګـر يـوازې کـولای شـي نارسـمي پورونـه واخلـي او دې کار پـه لومړي ګام کې دوی تړلـو قراردادونـو تـه مجبـور کـړي، چې پـر مهمـو سـوداګرو د پـور پـه برخـه کـې تکيـه وکـړي. دا کار د دوی پـه تـاوان و، ځکـه بازارونـو تـه يـې ازادانـه لاسرسـی نـه شـو کـولای.

دويمـه برخـه چې پـه يـاد مـوډل کـې سـترګې پـرې پټـې شـوي هغـه دا وه، چـې د افغانسـتان د توکـو بازارونـه لـه دې وجـې ازاد دي، چـې قيمتونـه د تقاضـا او عرضـې لـه مخـې ټـاکل کېـږي. دا ټولـې پـروژې پـه مستند سـازۍ کـې يـوه ضمنـي فرضيـه وه او د ټولـو چارواکـو پـه منـځ کـې عـام بـاور هـم دا و، چـې دا کار همداسـې دی. د چرګانـو پـه بـازار کـې د قيمتونـو د ټاکلـو پـه اړه يـو ګډونـوال مـوږ تـه داسـې ويلـي دي:

*د چرګانو قيمتونه معمولاً د توليد او تقاضا له کچې سره تړلي دي. داسې وختونه وي، چې موږ توليد کم لرو، خو تقاضا زياته وي. په دې وخت کې قيمتونه لوړيږي. خو برعکس، داسې وختونه هم وي، چې زموږ توليد زيات وي، خو تقاضا کمه وي، چې په دې وخت کې قيمتونه هم راټيټيږي. ازاد بازار دی. هر څوک کولای شي خپلو اړتياوو او غوښتنو ته په پام پېر او پلور وکړي.*[186]

خو د دې واقعيت پـه اړه پراخـو راپورونـو تـه پـه کتـو ، چـې پـه بـازار کـې قيمتونـه د زورواکـو سـوداګرو لـه لـوري د دوی لـه ګټـې سـره سـم ټـاکل کېـږي او د دوی د چلـن لپـاره د مافيـا اصطلاح کارول کېـږي، انګېرنـه دا ده چې پـه بـازار کـې قيمتونـه پـر رقابـت نـه دي ولاړ. پـر پولـه لـه ګمرکـي ماليـاتـو د تېښـتـې، فزيکـي بازارونـو کنټـرول، ټـاکل شـويو قيمتونـو او تړلـو قراردادونـو پـه ګډون د ګڼ شـمېر دلايلـو لـه وجـې سـوداګر لـه دې ډاډمـن وي، چـې دوی کـولای شـي پـه ارزانـه توکـي وپېـري او پـه لـوړ قيمت يـې وپلـوري. دوی د قيمت نـه، بلکـې د زور لـه مخـې رقابـت کـوي. دا پـه افغانسـتان کـې د بازارونـو د جوړښـت پـه اړه پرلـه پسـې موندنـه ده.[187] داسـې ښـکاري، چـې پـه افغانسـتان کـې سـوداګري تـر ډېـره بريـده د بـازار اقتصـاد پـر ځـای چېرتـه چـې سـوداګر د ګټـې لـه مخـې د سـوداګرۍ پرمـخ وړلـو لپـاره لـه پيـاوړې انګېـزې برخمـن وي، يـوازې بـازاري بڼـه لـري. دا کار د بازارونـو پـه پاشـلتيا کـې مرسـته کـوي، چـې د رامنـځ تـه کېـدو عمـده لامـل يـې پولـې، جګـړه او ټولنيـزه جغرافيـه ده. د قيمتونـو دې ډول کنټـرول پايلـه دا ده، چـې پـر توليدوونکـو د مثمريـت او قيمـت لـه مخـې د رقابـت لپـاره هېـڅ راز فشـار نـه وي، پـه داسـې حـال کـې چـې دکارېږ – ايف پروګـرام پـه مـوډل کـې رقابـت او مثمريـت د اقتصـادي ودې لپـاره اساسـي فرضيـه ګڼـل شـوي.

185 . ننګرهار – دربيم پړاو –۱۱- AP، ۳ مه صفحه.

186 . ننګرهار – دربيم پړاو – ۱۱ - AP

187 . Lister and Pain, "Trading in Power: The Politics of 'Free' Markets in Afghanistan"; G. Minoia, et al., "Peeling the Onion Social Regulation of the Onion Market, Nangarhar, Afghanistan".

# درسونه او وړاندیزونه

له بدیل پرمختیایي لیدلوري د سوداګریزې کرنې د تګلارې پر لور د کارډ – ایف پروګرام د بدلون یو دلیل دا و، چې د بدیل پرمختیا نښان د پروژې لپاره امنیتي ستونزې راپورته کولې. دا خبره تر ډېره بریده له نښان سره تړلې ده، خو په ننګرهار کې د پروژې د پلي کولو لپاره د بهسودو او کامې ولسوالیو ټاکل بیا تر ډېره له دې وجې و چې یادې ولسوالۍ امن وې او پروژه هلته په خوندي ډول پلې کېدای شوه. له دې کبله دې کار داسې تضاد ته لاره هواره کړه، چې په پروژه کې اصلاً په دې اړه فکر هم نه و شوی او نه دې پروژې د دا ډول تضاد رامنځ ته کول غوښتل، خو ګویا چې دا کار د توکو په بازارونو کې د ذاتي خبرې پرځای یوه باندنۍ خبره وه. د قانوني او غیرقانوني دواړو په ګډون د بازارونو د دوران په اړه د تضاد هر راز تحلیل ته پام نه کول د پروژې په مستندسازۍ کې د پام وړ دی.

له دې ټولو سره سره، د کارډ – ایف تګلارې اغېزې ډېرې زیاتې وې. نومورې تګلارې که له یوې خوا له اساسي ننګونو مخنیوی کړی خو له بلې خوا یې په یو ډول پیاوړې کړې هم دي. د کارډ – ایف موډل او د نړیوال بانک (لومړني پیلوونکي) موډل لپاره، چې د یاد بانک په کرنیزه ستراتیژۍ کې ترې یادونه شوې،[188] دا واقعیت چې جګړې په بشپړه توګه د نشه یي توکو د تولید جغرافیه بدله کړې، او د بېلګې په توګه د خاش، اچین او خوګیاڼو په څېر حاشیوي سیمو ته یې ټېل وهلي، هغه عمل نه دی، چې باید په پام کې نیول شوی وای. د دوی دریځ ډېر روښانه دی: دا هغه سیمې نه دي چېرته چې کلیوالي خلک راتلونکې لري او هغه خلک چې په یادو سیمو کې اوسېږي، باید په ساده توب سره کډوالۍ ته مخه کړي.

د کرنیزې پرمختیا دا ډول موډل دا وروسته پاتې سیمې لا ډېرې حاشیې ته کوي. په دې کار سره دا موډل د دغو لېرې پرتو سیمو د ناامنۍ له پېچلتیا سره مرسته کوي او هغه ګواښونه زیاتوي چې دا سیمې یې د هر راز دولت جوړونې پروسې په وړاندې راپورته کوي. دا کار په خپل ذات کې له ځان سره د بلواګرۍ او نشه یي توکو ضد غبرګونونه لري، چې پورته یاد شوی حاشیه توب پیاوړی کوي او اوږدمهاله پرمختیایي پروګرامونه لا ډېر ستونزمن کوي. د کارډ - ایف په پروګرام یا هم د نړیوال بانک په کتنه کې په دې اړه ډېر کم استدلال شوی چې دوی یاد ځایونه ولې په نښه کړي دي، په داسې حال کې چې په نورو سیمو کې چېرته چې اړتیا ډېره ده یادې پروژې په اسانۍ بریالیتوب ترلاسه کولای شي. څرنګه چې د نامساعدې پرمختیا له ټولو شواهدو څرګندېږي،[189] په ځانګړو سیمو کې د تاریخ بوج (د بېلګې په توګه د اچین او کامې ترمنځ په تاریخي لحاظ ژورو جوړښتي توپیرونو ته په کتو) له ټولنیز – سیاسي لحاظه پر بې ثباتۍ، بېوزلۍ او محرومیت اوږدمهاله اغېزې پر ځای پرېږدي. ممکن د کارډ - ایف تګلارې او د نړیوال بانک له لوري کرنیز سکتور ته کتنې د نامساعدې پرمختیا له دغو بېلګو سره پر سیاسي ثبات د اوږدمهاله اغېزو په برخه کې مرسته کړې وي.

خو ایا په افغانستان کې د قانوني او ناقانونه توکو بازارونه واقعاً یو تر بله دومره توپیر لري او ایا هغه لوړ ظرفیت لرونکي سیمې چې د کارډ - ایف پروګرام او نړیوال بانک له لوري په ګوته شوې دي، واقعاً شرایط یې یو تر بله دومره توپیر لري، چې د المان نړیوالې پرمختیایي ادارې[190] له لوري په هغو سیمو کې په ګوته شوي، چېرته چې کوکنار کرل کېږي؟ د لومړي موضوع په اړه، که چېرې د سوداګرو کنټرول، تړلو قرادادونو او په ارزښتیز ځنځیر کې د قیمتونو ټاکلو په اړه شواهد هغه څه وي، چې باید ګام پرې واخیستل شي، نو دا ډېره ستونزمنه ده چې په افغانستان کې د قانوني او ناقانونه توکو د بازارونو ترمنځ جوړښتي توپیرونه پرې معلوم شي. ښایي همدا یو لامل وي، چې تولیدوونکي او سوداګر په اسانۍ کولای شي د دواړو توکو بازاراونو ترمنځ یو بل ته واوړي. اصلي موضوع د کوکنارو د تولید د تحریفوونکې انګېزې نه دي، لکه څه ډول چې نړیوال بانک وایي، بلکې دا کار له ګټو

۱۸۸ . نړیوال بانک، د افغانستان اسلامي جمهوریت کرنیز سکتور ته کتنه.

۱۸۹ . see, in particular, the work from Latin America by J.A. Berdegué, J. Escobal and A. Bebbington. "Explaining Spatial Diversity in Latin American Rural Development: Structures, Institutions and Coalitions." World Development, ۷۳ (۲۰۱۵): ۱۲۹-۱۳۷; F. Modrego and J.A. Berdegué. "A Large-Scale Mapping of Territorial Development Dynamics in Latin America." World Development, ۷۳ (۲۰۱۵): ۱۱-۳۱.

۱۹۰ . د المان نړیواله پرمختیایي اداره یا GIZ، د بدیلې پرمختیا پر تګلارو له سره غور کول.

سره تړلې موضوع ده، چې د کوکنارو په اقتصاد کې د سوداګرو او کروندګرو ترمنځ د توکو ناقانونه ماهیت ورسره مرسته کړې ده.[191] لکه څرنګه چې وارډ او همکاران یې په دې ټینګار کوي، چې کوکنار په لوړ خطر لرونکي چاپېریال کې کم خطر لرونکی محصول دی، چې کروندګرو لپاره د خپلې خوښې بازار ته لاسرسی ممکنوي.[192] په خاش ولسوالۍ کې د کچالو له پرمختیایي پروژې تر لاسه شوې تجربه ډېره څرګنده ده: کله چې په بازار کې له قانوني توکو په لوړه کچه ملاتړ کېده، نو کروندګرو ورته مخه کړه، خو کله چې یاد ملاتړ د پروژې له پای ته رسېدو سره له منځه لاړ، نو کروندګرو د کچالو له کرکیلې مخ وګرځوه. د کارډ - ایف پروژو د ارزښتیز ځنځیر په موډل کې د خطرونو راکمولو لپاره د اغېزناک دوامداره ملاتړ نشتوالي بازار ته لاسرسی محدود کړی دی.

پردې سربېره، د بهسودو یا کامې په پرتله د اچین یا خاش ولسوالۍ شرایط یو له بل سره دقیقاً یو ډول نه دي، ځکه د پروژې د پلې کېدو لپاره د ځای په غوره کولو کې د کارډ - ایف پروګرام د لومړیتوب له ورکړې معلومېږي. بهسود او کامه د زېرېناوو، عامه ادارو او طبعي زېرمو له مخې ډېرې غني او په فزیکي لحاظ ډېرې خوندي دي، ان که څه هم د سیاسي زورواکو تر نفوذ لاندې دي. د دوی چاپېریال د اچین په پرتله ډېر خوندي او منظم دی، همدا لامل دی، چې دوی په اسانۍ کولای شي د کوکنارو کرکیلې ته مخه کړي یا هم تري لاس په سر شي. د اچین لپاره له خطر ډک چاپېریال نه یوازې دا چې ګڼ شمېر اړخونه لري، بلکې له هغې هم څو درجې لوړ دی. تر هغو چې دې وضعیت ته لاسرسی ونه شي، د کوکنارو کرکیله به همدا سې د یوې انتخابي کرکیلې په توګه پر ځای پاتې وي.

د ټولنیز نظم حاکمو بېو ته له پام پرته د موجوده تبادلې د منطق او عمل له مخې د سوداګریزې کرنې یو عمومي موډل د تطبیق هڅه یوازې د موجوده لوبغاړو له خوا د بازار نیولو معنا لري. کوم کارونه چې د کارډ - ایف پروګرام ترسره کړي دي یوازې یې د بازار مافیا له ودې او یووالي سره مرسته کړې ده. څرنګه چې له شواهدو معلومېږي دې کار اقتصادي او ټولنیز محرومیتونه یې رامنځ ته کړي او ګټې یې په ناعادلانه ډول وېشلي دي. په افغانستان کې دوامداره کرنیزه وده ډېره ستونزمنه ده، لکه څه ډول چې د افغانستان کرنیز سکتور کتنه هم دا خبره تاییدوي،[193] د دې ترڅنګ نامساعدو اقلیمي شرایطو په دې برخه کې نورې ننګونې راپورته کړې دي. د بازار زورواکو انحصاري چلن ته په پام په بازارونو کې له رقابت د ملاتړ په موخه د سیاسي شرایطو په اړه ډېر شواهد نشته.[194] دا د کلیوالي وګړو د عوایدو او کارې بوختیاوو هغه اندازه رامحدودوي، تر کومې چې زیاتوالی موندلای شي.

د سوداګریزې کرنې موډل چې د کارډ - ایف اساس جوړوي د بازار جوړښتونو ته د پام پر ځای یې په تولید کې د تورېږي چلن له مخې فرضیه دا وه، چې قیمت او رقابت کولای شي د بازار د ودې لامل شي. د کارډ - ایف پروګرام د ارزونې په نهایي راپور کې د بازارونو راڅرګندېدو په برخه کې د ټولنیزو قواعدو ستاینې ته اشاره شوې ده. د وړاندیزونو له ډلې په یو وړاندیز کې لاندې خبره یاده شوې ده:

> *د کارډ - ایف پروګرام په کچه د چړګانو پر روزنه د بوختیا په څېر د سوداګریز ارزښتیز ځنځیر په پرمختیایي فعالیتونو کې تر بوختیا وړاندې دا ډېره مهمه ده، چې د ودې مسیرونه په محتطانه ډول اټکل شي او هغه ځایونه په نښه شي چېرته چې خنډونه راپورته کېدلای شي.*[195]

د دې وړاندیز په مقابل کې د برېتانیا نړیوالې پرمختیایي ادارې غبرګون هغه څه په ګوته کوي، چې د کارډ - ایف پروګرام په طرحه کې په پام کې نه وو نیول شوي: "یو تشخیصي څېړنه او د بازار او ارزښتیز ځنځیر ساحه به په راتلونکو پروګرامونو کې د طرحه کولو پرمهال د پروګرام تر پلې کېدو وړاندې په پام کې ونیول شي."

یاده تشخیصوونکې څېړنه نه یوازې باید د بازار مثمریت ته پام وکړي، بلکې دې ته هم باید پام وکړي چې د سیستم پروسې د خپلو عناصرو (د بېلګې په توګه فارمونو له لارې)، د خپلو اړیکو (د توکو او پیسو جریانونو له لارې) او تنظیمي کړنو له لارې څه ډول پرمخ وړل کېږي. دا کار د سیاسي اقتصاد له زاویې ډېرې څېړنې ته اړتیا لري او یوازې د مطلوبو یا ارماني موډلونو د لنډیز له لارې نه شي کېدلای. په ورته مهال کې د پروګرام پلې کول یو داسې نظارتي چوکاټ ته اړتیا لري، چې د ټولو فرضیو په اړه ګروېږنه وکړي، نه دا چې یوازې تر ډېرزاین د مخه انتخابونو د تایید لپاره په پام کې نیول شوي وي.

١٩١ . نړیوال بانک، د افغانستان اسلامي جمهوریت کرنیز سکتور ته کتنه.

١٩٢ . Ward, et al. "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives," ٣

١٩٣ . نړیوال بانک، د افغانستان اسلامي جمهوریت کرنیز سکتور ته کتنه.

١٩۴ . G. Williams, A. Duncan, P. Landell-Mills, and S. Unsworth, "Politics and Growth," Development Policy Review ٢٩ no. S١ (٢٠١١): S٢٩-S۵۵.

١٩۵ . DFID, "Management Response to CARD-F Endline Evaluation Report," (Kabul: DFID, ٢٠١٨b).

پردې سربېره، د اوږمهالې جګړې په چاپېریال کې چېرته چې دولت ډېر محدود مشروعیت لري، د بدیل پرمختیا یا هم کرنیزې پرمختیا پروژو د هڅو د امکان په اړه په ټوله کې ډېرې پوښتنې دي. دا ډول له بهر تمویلېدونکې هڅې نه شي کولای خپل ځان له سیاسي تورونو تر هغې اندازې مبراء کړي، لکه څه ډول چې د کارډ - اېف پروګرام یې د کولو هڅه وکړه، دا کار په واقعیت کې د ټولنیزو او سیاسي شخړو د دوام لامل کېدلای شي. ان کېدلای شي په دې اړه هم له ابهام سره مخ شو، چې ایا په داسې ډول چاپېریال کې چېرته چې اساسي شرایط په ملي کچه نامساعد دي، د بدیل پرمختیایي پروژو د پلې کېدو لپاره ځای شته او که نه؟ په دې برخه کې د کارډ – اېف په پروګرام کې د بدیلې پرمختیا او نشه یي توکو تر موضوعاتو ورهاخوا هڅې تر سترګو کېدای شي. خو شواهدو ته په کتو یې په لومړي ګام کې ممکن تمرکز پر هغو شرایطو وي، چې د نشه یي توکو اقتصاد یې په تحرک راوستی.

خو د کرنې مخ پرودې بازارونه – په اصل کې تولید پاله تګلاره – احتمالاً د کوکنارو له کرنې د لاس په سر کېدو په هڅونه کې ګټوره تمامېدلای شي او د ځای ناستي پرمختیایي موډل په توګه ځای خپلولی شي. دا یوه داسې تګلاره ده، چې د نړۍ په شمالي قطب کې د کرنیزو انقلابونو پر پخوانیو تجربو ولاړه ده. خو ایا دا موډل په اوس وخت کې په آسیا په تېره بیا په افغانستان کې کارنده دی؟ ځکه په سویل ختیځه آسیا کې کوچني کروندګر په لېرې پرتو سیمو کې د کورنیو په معیشت کې د کرنې اهمیت له راکمېدو سره بیا هم په خپلو سیمو کې پاتې دي،[196] له دې کبله د کرنیز انقلاب دا موډل تر پوښتنې لاندې راولي. په کلیوالي سیمو کې د یادو کروندګرو د پاتې کېدو ګڼ شمېر دلایل دي، خو د هغو له ډلې د وزګارتیا زیاتوالي، تړل شوې کرنیز انقلاب او محتطانه بوختیاوو ته اشاره کولای شو. دا کاملاً ممکنه ده چې د کوکنارو کښت به په لېرې پرتو او له منابعو محرومو سیمو کې همداسې پر ځمکو پاتې شي. ځکه که چېرې دا کرنه له منځه لاړه شي، کروندګر څه وکړي؟ ښایي اړتیا وي چې په دې موضوع له سره غور وشي. په منزوي یا حاشیوي سیمو کې د کوکنارو کروندګر له کړکېچ سره مخ کېږي یعنې دا چې د محصولاتو د تولید پر پله پل نه شي کېښودای. که چېرې له کیلوالي اقتصاد د باندې د عزتمنو کاري بوختیاوو فرصتونه محدود شي، لکه څه ډول چې د زیاترو کلیوالي سیمو د کوکنارو ګروندګرو لپاره محدود دي، نو د لېرې پرتو سیمو وګړو د ژوندانه د تأمین لپاره ډېرو پراخو اقداماتو ته اړتیا رامنځ ته کوي. یعنې دا چې د توزیعي اقتصاد پر موجودو نارسمي جوړښتونو پل کېښودو ته مخ اړوي.[197]

١٩٦ . J. Rigg, A. Salamanca, and E.B. Thompson, “The Puzzle of East and Southeast Asia’s Persistent Smallholder,” Journal of Rural Studies, (٢٠١٥).

١٩٧ . Pain and Huot, “Challenges of Late Development in Afghanistan.”

# اخذلیکونه


د پروژې اړوند اسناد:

DFID. “Business Case and Summary CARD-F phase 2, March 2015.” Kabul: DFID, 2015.

DFID. “Project Completion Review CARD-F, Jan 2018.” Kabul: DFID, 2018a.

DFID. “Management Response to CARD-F Endline Evaluation Report.” Kabul: DFID, 2018b.

Upper Quartile and Altai Consulting. “Evaluation of the Comprehensive Agriculture and Rural Development Facility (CARD-F),” Midline 1 Report,. Upper Quartile and Altai Consulting, 2017.

Upper Quartile and Altai Consulting. “Evaluation of the Comprehensive Agriculture and Rural Development Facility (CARD-F),” Midline 2 Report. . Edinburgh, Upper Quartile and Altai Consulting, 2018.

WFP, VAM, (2020) Afghanistan Countrywide Weekly Market Price Bulletin, June 2020, https://cutt.ly/VRDUmLI

نورې منابع:

Ali-Jan, M. and B Harriss-White. “The Three Roles of Agricultural Markets: A Review of Ideas about Agricultural Commodity Markets in India.” Economic and Political Weekly, Vol XLV11, no. 52 (2012): 39-52.

Berdegué, J.A., J. Escobal and A. Bebbington. “Explaining Spatial Diversity in Latin American Rural Development: Structures, Institutions and Coalitions.” World Development, 73 (2015): 129-137.

Berry, P.A. “What is the Future of UK Drugs Policy for Afghanistan?” RUSI Newsbrief 41, No. 7 (2019):What Is the Future of UK Drugs Policy for Afghanistan? | Royal United Services Institute (rusi.org)

Bhatia, J. Literature Review: Drugs and (Dis)Order in Afghanistan. SOAS, London University, 2020.

Buddenberg, Doris and William A. Byrd (editors). Afghanistan’s Drug Industry:

Structure, Functioning, Dynamics, and Implications for Counter-Narcotics Policy. Vienna and Washington, DC: UNODC and the World Bank, 2006.

DCAF Afghanistan Working Group. “Afghanistan’s Security Sector Governance Challenges, DCAF Regional Programme Series No 10.” Geneva: Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, 2011.

Dorward, A., J. Kydd., J. Morrison, and I. Urey. (2004) “A Policy Agenda for Pro-Poor Agricultural Growth.” World Development 32, no. 1 (2004): 73-89.

Ghiasy, R., J. Zhou, and H. Hallgren. Afghanistan’s Private Sector: Status and Ways Forward. (Stockholm: SIPRI, 2015).

GIZ. Rethinking the Approach of Alternative Development: Principles and Standards of Rural Development in Drug Producing Areas. Berlin: GIZ, 2013.

Harriss-White, B. and L. Michelutti (eds.). The Wild East: Criminal Political Economies in South Asia. London: UCL Press, 2019.

Jackson, A. and G. Minoia. “Political and Economic Life in Afghanistan: Networks of Access.” Asian Survey 58, vol. 6 (2018): 1090-1110.

Kantor, P. and A. Pain. “Running Out of Options: Tracing Rural Afghan Livelihoods.” Synthesis Paper. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2011.

Keane, C. “The Impact of Bureaucratic Conflict on US Counternarcotic Efforts in Afghanistan.” Foreign Policy Analysis 12 (2016): 295-314.

Keen, D. and R. Andersson. “Double Games: Success, Failure and the Relocation of Risk in Fighting Terror, Drugs and Migration.” Political Geography 67 (2018): 100-110.

Lister, S. and A. Pain. “Trading in Power: The Politics of “Free” Markets in Afghanistan.” Briefing Paper, Kabul: AREU, 2004.

Malkasian, C. The American War in Afghanistan: A History. Oxford: Oxford University Press, 2021.

Mansfield, D. "The Helmand Food Zone: The Illusion of Success." Synthesis Paper. Kabul: AREU, 2016.

Mansfield, D. "Trying to Be All Things to All People: Alternative Development in Afghanistan," International Development Policy,12 (2020): https://doi.org/10.4000/poldev.3751

Mansfield, D. and A. Pain. "Alternative Livelihoods: Substance or Slogan?" Briefing Paper. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2005.

Ministry of Counter Narcotics (MCN). National Drug Control Strategy. Kabul: MCN, Islamic Republic of Afghanistan, 2006.

Ministry of Counter Narcotics (MCN). Afghan National Drug Action Plan. Kabul: MCN, Islamic Republic of Afghanistan, 2015.

Minoia, G., W. Mumtaz, and A. Pain. "Peeling the Onion Social Regulation of the Onion Market, Nangarhar, Afghanistan." Economic & Political Weekly, 28 February 2015.

Modrego, F. and J.A. Berdegué. "A Large-Scale Mapping of Territorial Development Dynamics in Latin America." World Development 73, (2015): 11-31.

Murray Li, T. Land's End: Capitalist Relations on an Indigenous Frontier. Durham and London: Duke University Press, 2014.

Pain, A. Growing out of Poverty? Questioning Agricultural Policy in Afghanistan. Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2019.

Pain, A. and D. Huot. "Challenges of Late Development in Afghanistan. The Transformation that Did Not Happen." Asian Survey 58, no. 6 (2018): 111-115.

Pain, A., K. Kerami and N. Orzala, "Drugs and Development in Afghanistan. National Policy and Actor Analysis." Working Paper. London and Kabul: SOAS, London University Drugs & (dis)order Project and AREU, 2021.

Ribot, J.C. and N.C. Peluso. "A Theory of Access." Rural Sociology 68 no. (2003): 153-181.

Rigg, J. Rural Development in Southeast Asia: Dispossession, Accumulation and Persistence. Cambridge Elements. Cambridge: Cambridge University Press, 2021.

Rigg, J., A. Salamanca, and E.B. Thompson. "The Puzzle of East and Southeast Asia's Persistent Smallholder." Journal of Rural Studies, 43, (2016) 118-133.

Ritchie, H. and A. Fitzherbert. (2008) The White Gold of Bamyan: A comprehensive examination of the Bamyan potato value chain from production to consumption. Solidarites, Aide humanitaire d'urgence, Clichy-la-Garenne France, 2008.

SIGAR. Counternarcotics: Lessons from the U.S Experience in Afghanistan. Arlington, Virginia: Special Inspector General for Afghanistan, 2018.

Suhrke, A. When More is Less: The International Project in Afghanistan. London: Hurst, 2011.

UNODC. 'Chapter 11 Alternative Development' in: UNODC World Drug Report 2015. Vienna: United Nations Office on Drugs and Crime, 2015. 77 - 118

UNODC. "Research Brief, Global Overview of Alternative Development Projects (2013-2017)." Vienna: United Nations Office on Drugs and Crime, 2019.

UNODC. "Afghanistan Opium Survey 2020. Cultivation and Production." Kabul: UNODC and Ministry of Counter Narcotics/ Narcotics Survey Directorate, 2020.

Ward, C., D. Mansfield, P. Oldham, and E. Byrd. "Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives to Reduce Opium Production." Kabul: DFID and World Bank, 2008.

Watts, M. "The Mafia of a Sicilian Village, 1860-1960; A Study of Violent Peasant Entrepreneurs by Anton Blok." The Journal of Peasant Studies 43, no. 1 (2016): 67-91.

Williams, G., A. Duncan, P. Landell-Mills, and S. Unsworth. "Politics and Growth." Development Policy Review 29 no. S1 (2011): S29-S55.

Wood, E.M. "Peasants and the Market Imperative: The Origins of Capitalism" In Peasants and Globalization: Political Economy, Rural Transformation and the Agrarian Question, edited by A.H. Akram-Lodhi and C. Kay. London: Routledge, 2010. 37 - 56

World Bank. Islamic State of Afghanistan Agriculture Sector Review (ASR): Revitalizing Agriculture for Economic Growth, Job Creation and Food Security. Washington, DC: World Bank, 2014.

# لومړی مل لیک. د څېړنې ګډونوال

| چارواکي | ځای | د پروژې پرمهال یې مقام |
|---|---|---|
| چارواکی ۱ | کابل | د کارډ - ایف پروګرام کارکوونکی |
| چارواکی ۲ | کابل | له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت چارواکی |
| چارواکی ۳ | کابل | د پلې کوونکي انجیو کارکوونکی |
| چارواکی ۴ | کابل | د کارډ - ایف پروګرام کارکوونکی |
| چارواکی ۵ | کابل | د کارډ - ایف پروګرام کارکوونکی |
| چارواکی ۶ | کابل | له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت چارواکی |
| چارواکی ۷ | کابل | له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت چارواکی |
| | | |
| **بدخشان** | **جزئیات** | |
| **د کرنیزې ودې او کلیوالي پرمختیا پروګرام برخه وال** | | |
| بدخشان۰۲ | خاش | ټاکل شوې ډله |
| بدخشان۰۳ | خاش | د سرې خونې، چرګانو دانې او غوړیو پروسس کارخونو مالک |
| بدخشان۰۴ | خاش | کروندګر |
| بدخشان۰۵ | خاش | کروندګر |
| بدخشان۰۶ | خاش | د وترنرۍ کارکوونکی |
| بدخشان۰۷ | خاش | سوداګر |
| بدخشان۰۸ | خاش | کروندګر |
| بدخشان۰۹ | خاش | دوه کروندګر |
| بدخشان۱۰ | خاش | کروندګر |
| **غیر مستقیم ګټه اخېستونکي** | | |
| دخشان ۱۱ | خاش | کارګر |
| بدخشان ۱۲ | خاش | کروندګر او کارګر |
| بدخشان ۱۳ | خاش | کروندګر او کارګر |
| بدخشان ۱۴ | خاش | سوداګر |
| بدخشان ۱۵ | خاش | کروندګر او ښوونکی |
| **چارواکي** | | |
| بدخشان ۱۶ | خاش | د ولسوالۍ دوه چارواکي |

| | | |
|---|---|---|
| بدخشان ۱۷ | خاش | د پروژې پلې کوونکی |
| بدخشان ۱۸ | خاش | د انجیو د پروژې مدیر |
| بدخشان ۱۹ | خاش | د ولسوالۍ چارواکي |
| بدخشان ۲۰ | خاش | د ولسوالۍ چارواکی |
| **ننګرهار** | | |
| **لومړی پړاو مرکې** | | |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۱ | د کرنې ریاست | چارواکی |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۲ | د کرنې ریاست | چارواکی |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۳ | بهسود | کروندګر، د چرګانو فارم |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۴ | کامه | کروندګر، د چرګانو فارم |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۵ | کامه | حکومت |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۶ | ننګرهار | بازارونه |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۷ | بهسود | حکومتي کارکوونکی او کروندګر |
| ننګرهار-لومړی پړاو-۰۸ | جلال اباد | کرنې ریاست |
| **دویم پړاو مرکې** | | |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۱ | جلال اباد | مشاور |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۲ | جلال اباد | مشاور |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۳ | جلال‌اباد | چارواکی |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۴ | جلال اباد | چارواکی |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۵ | بهسود | کروندګر، د چرګانو فارم |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۶ | جلال اباد | چارواکي |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۷ | بهسود | چارواکی |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۸ | بهسود | کروندګر، شنه خونه |
| ننګرهار-دویم پړاو-۰۹ | کامه | کروندګر، د چرګانو فارم |
| **دریيم پړاو مرکې** | | |
| ننګرهار-دریيم پړاو-۰۱ | بهسود | کروندګر، شنه‌خونه |
| ننګرهار-دریيم پړاو-۰۲ | بهسود | کروندګر، د چرګانو فارم |
| ننګرهار-دریيم پړاو-۰۳ | بهسود | کروندګر، شنه خونه |
| ننګرهار-دریيم پړاو-۰۴ | کامه | ملک |
| ننګرهار-دریيم پړاو-۰۵ | جلال اباد | چارواکی |
| ننګرهار-دریيم پړاو-۰۶ | بهسود | چارواکی |

| | | |
|---|---|---|
| ننګرهار–درېیم پړاو –۰۷ | بهسود | چارواکی |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۰۸ | جلال‌اباد | کاروباري، د چرګانو فارم |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۰۹ | بهسود | د کرنې ریاست |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۰ | ننګرهار | کاروباري، د چرګانو فارم |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۱ | جلال‌اباد | د چرګانو ټولنه |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۲ | جلال‌اباد | چارواکی |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۳ | جلال‌اباد | د سبزیجاتو سوداګر |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۴ | جلال‌اباد | سوداګر، ټولنه |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۵ | جلال‌اباد | چارواکی |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۲ | جلال‌اباد | ښاروالي |
| ننګرهار–درېیم پړاو –۱۷ | بهسود | د وریژو سوداګري |

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایی که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډېرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړيا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نېټه | د خپرونې نوم | ليکونکی (مولف) | په دري ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| آګست ۲۰۲۲ | پولې ته د څېرمه پرتو سيمو غږونه ۲۰۲۲ په افغانستان، کولمبيا او ميانمار کې پولې ته څېرمه د جګړه ځپلو او له نشه يي توکو د اغېزمنو سيمو د ژوند کيسې | | √ | √ | حکومتولی او سياسی اقتصاد | توضيحی پاڼه |
| اپريل ۲۰۲۲ | له بديلې پرمختيا سرخ د سوداګرېزې کرنې تړاو: د افغانستان د قانوني او غير قانوني توکو کلپاهر د بازارموندې ازمويل شوې نسخې | آدم پيين، محمد حسن وفايي، کلثوم ميرزاده، خالد بهزاد، مجيب احمد عزيزي | √ | √ | معيشت او ټولنيز خوندیتوب | شننيزه مقاله |
| آپريل ۲۰۲۲ | پولې ته د څيرمه پرتو سيمو غږونه۲۰۲۲ په افغانستان، کلمبيا او ميانمار کې د جګړه ځپلو او له نشه يې توکو د اغيزمنو سيمو د ژوند کيسې | | √ | √ | حکومتولي او سياسي اقتصاد | شننيزه مقاله |
| مارچ ۲۰۲۲ | په افغانستان کې د کويډ ۱۹ بې وزلۍ وضيعت ارزونه | | √ | √ | معيشت او ټولنيز خوندیتوب | |
| نوامبر ۲۰۲۱ | يو مالياتي روايت: د عوايدو ناسمه محاسبه او په افغانستان کې د جګړې ناسم درک | ډيوډ منسفيلډ | √ | √ | حکومتولی او سياسي اقتصاد | پاليسي پاڼه |
| نوامبر ۲۰۲۱ | د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قانون ۱۱ کاله: د ۲۰۰۹-۲۰۲۰) قانون پلي کيدو ته يوه کتنه | مليسا کورنټ | √ | √ | جنسيت | مطالعې مقالات |
| اکتوبر ۲۰۲۱ | يو مالياتي روايت: د عوايدو ناسمه محاسبه او په افغانستان کې د جګړې ناسم درک | ډيوډ منسفيلډ | √ | √ | حکومتولي او سياسي اقتصاد | تحليلي مقاله |
| اکتوبر ۲۰۲۱ | سوله او ناقانونه نشه يي توکي په حاشيه کې: د افغانستان د دوامداره پراختيا شپاړسمي موخې ته يوه کتنه | ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولي او سياسي اقتصاد | لنډه مقاله |
| جولای ۲۰۲۱ | د نارينه وو او نارينه توب پيژندنه: په افغاني ټولنه کې د جنسيتي مساوات رامنځ ته کولو پر لور | منزه ابتکار | √ | √ | جنسيت | موردي مطالعه |
| جون ۲۰۲۱ | په افغانستان کې نشه يي توکي او پراختيا يې: د ملي پاليسۍ شننه او فعالين | آدم پيين، کاوه کرامي، ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولي او سياسي اقتصاد | مقاله د پراختيا په حال کې |

له بديلې پرمختيا سره د سوداګريزې کرنې تړاو:
د افغانستان د قانوني او غيرقانوني توکو لپاره د بازارموندنې ازمويل شوې نسخې

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مارچ ۲۰۲۱ | په جنګ کې حلوا نه تقسیمیږي | ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | | |
| فبروري ۲۰۲۱ | په افغانستان کې قضايي خپلواکي: قانوني چوکاټ او عملي ننګونې | شعیب تیموري | √ | √ | اساسي قانون | شننیزه مقاله |
| فبروری ۲۰۲۱ | په افغانستان کې نشه يي توکي او پرمختيا: د ملي پالیسۍ او فعالانو شننه | آدم پین، کاوره کرامی، داکتر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولی | |
| جنوری ۲۰۲۱ | پیوستون، پیاوړتیا او زړورتیا: په افغانستان کې د ښځو سیاسی ګډون | انا لارسن، نواه کو بو ر ن | √ | √ | جنسیت | توضیحی پاڼه |
| دسامبر ۲۰۲۰ | جان ګل | | √ | √ | | |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | په افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون: موضوعي ځېړنه | شکریه آزادمنش، احسان الله غفوری | √ | √ | جندر (جنسیت) | مو ضو عې څېړ نه |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه: د پولو دواړو غاړو ته تولید او سوداګري او د نیمرزو پولې ته څېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې یې رول | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څیړنه |
| جولای ۲۰۲۰ | افغانستان کی له کاوید ۱۹ نه دجندر په هکله خبرداری | | | | XII : د کاوید ۱۹ اغیزه پرهغو ښځو چې د کوکنارو له کرهنی سره تړاو لری | جندر |
| جولای ۲۰۲۰ | د قاطرانو او نقلیه وسایطو تګ راتګ: دپولی هاخوا تولید او سوداګری او دننګرها د سیاسی اقتصاد جوړیښت | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څیړنه |
| جون ۲۰۲۰ | کله چې اوبه وچیږي: کله چې د افغانستان په سویل لویدیځه دښته کې اوبه وچیږي او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کیږي، څه باید وشي؟ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | توضیحی پانه |

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ټولی خپرونی ددغی اداری له کورپاڼی (www.areu.org.af) څخه تر لاسه کولای شی.

په کابل کې د دغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم مجودی دی.

تلیفون: ۰۷۹۹۶۰۸۵۴۷ (۰) ۹۳+
بریښنالیک: areu@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-86-0
9 789936 641860